کوٹہ 65 فیصد مقرر کیا گیا تھا۔

(د) ایف سی کی باقیماندہ سات پلاٹون کے قیام سے متعلق کیس حکومت کے زیر غور ہے
جبکہ بقایا افراد کو بیرونی ممالک بھجوانے کے متعلق خصوصی انتظامات بذریعہ وفاقی وزارت
محنت و افرادی قوت اور بیرون ملک پاکستانی کرنا ہوں گے کیونکہ اس سے متعلق فنڈز
گدون امازئی پراجیکٹ کے خاتمے کے ساتھ 25 جنوری 1997 کو ختم ہو چکے ہیں۔ اس سلسلہ
میں محکمہ صنعت کو کہا گیا ہے کہ وہ ان جائز مطالبات کیلئے کوششیں جاری رکھے اور وفاقی
حکومت سے رابطہ کرے۔

جناب عفور خان جدون: تاسو سپیکر صاحب، اوگورئ، دا سابقه وزیر اعظم، محمد خان جونیجو (مرحوم) گدون قوم سره دا معاهده کړے وه، د گدون امازئی انډسټریل اسټیټ او دس پلاټونه په ایف سی کښے، ایک هزار په ایف آر

کښې او 65 فیصد په انډسټریل اسټیټ کښې جی، دوئ پخپله دا تسلیم کړه چه تقریباً په ګدون کښې Totally ګیاره فیصد دوئ ونیلے دی چه تقریباً دا 11 فیصد ملازمتونه مونږ اوسه پورے ورکړی دی او په لسو پلاټونو کښې ...رے پلاټونه دی او په ایف آر پی کښې Totally جی څه پینځه سوه کسان ...ی بهرتی کړی دی او Abroad ته نے 183 کسان لیږلی دی۔ مونږ منسټر ...احب ته ستاسو په وساطت سره دا Request کوو چه حکومت چه کومه معاهده کړے وه او افیم مونږه تلف کړی وو او اوسه پورے د پینځو سوو کالو کاشت، ولے چه په ټوله دنیا کښې که د افیمو کاشت کیدلو نو دا صرف په ګدون کښې کیدلو او دا دوئ سره یوه تحریری معاهده شوے وه، نو آیا د دوئ په دغه معاهده باندے د عملدر آمد کولو اراده شتے یا نشته دے؟

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>: جناب سپیکر صاحب! د غفور جدون صاحب مونږ ډیر زیات احترام لرو، ډیر زوړ پارلیمنټرین دے او لکه څنګه دوئ پخپله اوونیل چه پانچ سو کسان بهر تلی دی او حکومت ورته فګرز اوښودلو چه مونږ 183 کسان بهر لیږلی دی او کومه خبره چه د ګدون د افیمو د کاشت ده، نو دا بالکل دوئ ټهیک وائی۔ د خلقو ډیرے ورے ورے او لړے لړے زمکے دی چه د هغوی ټولو په دے زمکو باندے ګزران دے او جونیجو صاحب چه کوم پیږیج ورکړے وو، هغے کښې مونږ دا کوشش کړے دے چه څه لږ حده پورے مونږ هغه هلته کښې Implement کړو۔ باقی دا د ګدون امازئی پراجیکټ چه دے نو دا جنوری 1997 نه ختم دے، مونږ دا په جواب کښې هم لیکلی دی او مونږ ورته دا تسلی ورکوو چه حکومت ته د ګدون د خلقو د ټولو تکالیفو معلومات هم شته دے او حکومت به کوشش کوی چه د هغے په

دے باندے د Implementation کوشش اوکړی چه زر تر زره اوشی۔

جناب عفور خان جدون: سپیکر صاحب! زما عرض دا دے mplementation خو، تاسو ته پته ده په 1986 کښے معاهده شوے ده او تقریباً 92-1990 پور معاهده چلیدله۔ د هغے نه بعد په 1993 کښے او نه شوله او د هغے نه بعد 1993 تا حال اوسه پورے په دے باندے هیڅ عملدرآمد نشته۔ دوئ ایف سی بهرت کوی جی، زمونږه عرض دا دے چه دا وفاقی حکومت د صوبائی حکومت سره یوه معاهده کړے ده چه په هغے کښے چیف منسټر، صوبه سرحد ناست وو، دا افتخار خان مهمند پکښے هم وو او سابق وزیر اعظم پاکستان، محمد خان جونیجو صاحب مرحوم هم ناست وو، تحریری طور دوئ دا فیصله کړے ده چه مونږه به دا کار کوؤ۔ نو زما مطلب دا دے چه درے پلاټون نے بهرتی کړی دی او پلاټونه هم نشته۔ دا پولیس، ایف آر پی چه کوم دے، د دوئ صرف د گدون د پاره تیاره کړے وو او په دے کښے د نورو اضلاع خلق دوئ بهرتی کړی دی۔ مونږه وایو چه هغه پینځه سوه کسان بقایا او چه ایک هزار کسان Abroad لیږلو باندے اوس چه مرکزی حکومت فیصله کړے ده چه دوه لکهه خلق به مونږه په دے کال کښے بهر لیږو، نو په هغے چه کوم دا معاهدے زمونږ سره شوی دی نو صوبائی حکومت مونږ سره دا وعده کوی چه دوئ به مرکزی حکومت مجبوره وی چه کومے د هغوی په وس کښے دی او کومے د دوئ په وس کښے دی، دا به دوئ پوره کوی جی؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی: جناب سپیکر صاحب! مونږ بالکل حکومت په دے فلور آف دی هاؤس دا Commitment کوؤ چه مونږ به دا کوشش کوؤ چه په ایف آر پی کښې د گدون خلقو ته Priority ورکړو او مرکزی حکومت ته به هم

اووایو چه په ایف سی کښې هم د گدون خلقو ته Priority ورکړی او بهر
لیږلو باندے به هم مونږ د مرکزی حکومت سره Contact کوؤ چه دا دوه لکهه
کسان لیږی نو د گدون خلق د ټولو نه په Top priority باندے اولیږی۔

Mr. Speaker: Mr. Akram Khan Durrani, MPA, to please ask his Question No. 299.

*299 - جناب اکرم خان درانی: کیا وزیر اعلیٰ از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ـــــ

(ا) آیا یہ درست ہے کہ بنوں میں بسیہ خیل پولیس سٹیشن موجود ہے؛
(ب) اگر (ا) کا جواب اثبات میں ہو تو ۔
(۱) مذکورہ پولیس سٹیشن میں کل کتنے کمرے ہیں؛
(۲) آیا مذکورہ پولیس سٹیشن میں چار دیواری ہے یا نہیں؛
(ج) آیا مذکورہ کمرے رہائش کے قابل ہیں؛
(د) اگر (ج) کا جواب نفی میں ہو تو حکومت مذکورہ پولیس سٹیشن کے کمروں اور چار دیواری تعمیر کرنے کیلئے فنڈز دینے کا ارادہ رکھتی ہے؟

وزیر اعلیٰ: (جواب جناب بشیر احمد بلور، وزیر آبپاشی و آبنوشی نے پڑھا)؛ (ا) یہ درست ہے کہ بنوں میں بسیہ خیل پولیس سٹیشن موجود ہے۔
(ب) (۱) مذکورہ پولیس سٹیشن میں کل تین کمرے ہیں۔
(۲) مذکورہ پولیس سٹیشن کی چار دیواری نہیں ہے۔
(ج) مذکورہ کمرے ناکافی اور فوری مرمت کی ضرورت ہے۔
(د) مذکورہ پولیس سٹیشن کی مرمت اور ایک نئے بلاک کی تعمیر کیلئے کم از کم دو لاکھ روپے کی ضرورت ہے۔

جناب اکرم خان درانی، ما جی دے کښې دا غوښتلی وو چه زمونږه بسیه خیل یو پولیس سټیشن دے ، په هغې پولیس سټیشن کښې ما په (ب) کښې دا لیکلی دی چه "کل کتنے کمرے ہیں"، نو دوئ ما ته په جواب کښې دا لیکلی دی چه درے کمرے دی او دا جی زمونږه د علاقے لویه تهانه ده. نو اول زما سوال دا دے چه دا دومره پولیس تقریباً پندره، بیس کسان چه هلته اوسی، نو دوئ په دے درے کمرو کښې اوسیدے شی؟ او دویمه خبره پکښې دا ده چه ما دا معلومات کړی وو چه د هغې تهانے چار دیواری شته او که نه؟ نو دوئ دا جواب راکړے دے چه د دے چار دیواری نشته- نو چه د یوے تهانے خپله چاردیواری نه وی نو هغه به د عوامو څه حفاظت اوکړی؟ او بیا په (ج) کښې ما دا غوښتلی وو چه دا کمرے د رهائش قابلے دی؟ نو دوئ بیا لیکلی دی چه دا کمرے بالکل د رهائش قابلے نه دی- پولیس والا چه د ورځے ټوله ورځ ډیوټی اوکړی او د شپے هلته باران اوشی نو ټوله ورځ د باران سره کټونه کله یو خانے ته او کله بل خانے ته گرځوی- نو د هغوی د نه ډیوټی په وجه په علاقه کښې زیات تکلیف وی ولے چه خلق د پولیس نه دا گله کوی چه هغوی ډیوټی نه کوی او پولیس شپه او ورځ په دغه تهانه کښې بے آرامه دے- نو په آخر کښې ما دا غوښتلی دی چه د دے چار دیواری، د کمرو مرمت او نوے کمرو جوړولو د پاره حکومت څه انتظام کوی؟ نو په هغې کښې دوی وئیلی دی چه او، د دوه لکهه روپو هغې ته ډیر شدید ضرورت دے او چه دوه لکهه روپئ اوشی نو څه نه څه به هغه تهانه په دے ټهیک شی- نو منسټر صاحب دِ اول خو چه دا زما څومره کونسچنز دی، د دے جواب راکړی- بیا دِ دا جواب راکړی چه آیا دا دوه لکهه روپئ، چونکه دوئ خپله دا Agree کوی او دوه

لکھه روپئ جی دومره شے نه دے۔ دوه لکھه روپئ خو دلته په یو یو میټنګ باندے لګی او په یو یو پروګرام باندے لګی۔ نو دوه لکھه روپئ دِ زمونږه دے تهانے ته راکړی۔ باقی چه دا کوم سوال دے، نو د دے سره خو د دوئ خپل دغه دے، نو Request مے دا دے چه هلته زمونږه هغه پولیس ته ډیر تکلیف دے او دوئ دِ زمونږه په حال باندے رحم اوکړی او د پیسو بندوبست دِ اوکړی۔

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>، جناب سپیکر صاحب، نن خو داسے ښه ورخ ده چه زمونږه ایم پی اے صاحبان د پولیس ډیر Favour کوی لګیا دی۔ چه کله د Law and order situation خبره راشی نو بیا په پولیس پسے به دوئ څومره خبرے کوی۔ دا مونږه بالکل داسے منو چه هلته تکلیف هم شته، هغوی هم انسانان دی او پکار ده چه هغوی ته مونږه زیات تحفظ ورکړو چه هغوی زمونږ د پاره دا ټول Law and order situation صحیح ساتی۔ مونږ دا منو چه هلته تکلیف دے۔ مونږه دا هم منو چه هلته د پیسو هم ضرورت دے خو د پولیس ډیپارټمنټ دے او د دے یو خپل فنډ او خپل بجټ وی، مونږ به د دے په باره کښ آئی جی پی ته اووایو چه دے ته د Top priority ورکړی چه دا زر تر زره کیدے شی چه دا ورله اوکړی۔

<u>جناب اکرم خان درانی</u>، په دے کښے زما یو بل ضمنی سوال دے۔ هلته زمونږ په بنوں کښے د پولیس سټیشن سره دکانونه جوړشوی دی نو په هغه یو یو دُکان باندے تقریباً دوه دوه لکھه، درے درے لکھه روپئ پګړی ده، منسټر صاحب د ما ته دا Assurance راکړی چه هلته په هغه دکان کومه پګړی دوئ واخلی نو د هغے رقم نه دوئ دوه لکھه روپئ ما ته تهانے ته راکولے شی؟

<u>وزیر آبپاشی و آبنوشی</u>، ما خو تاسو ته عرض اوکړو چه د پولیس ډیپارټمنټ

خپل یو بجټ وی- مونږه به آئی جی پی ته اووایو چه هغه په دے مسئله بانڈے په Top priority کار اوکړی- اوس د Top priority مطلب دا دے چه چرته نه هم پیسے راشی نو زمونږه کوشش به داوی چه دا کار اوشی-

جناب اکرم خان دُرانی: پیسے خو ما دوئ ته اوښودلے- یوه هفته یا لس ورځے پس په هغے بانڈے پګړی ملاویږی- دوئ دِ ما ته دا اووائی چه دا پیسے چه دی چه دا زه ئے ورته په ګوته کوم، د دے نه مونږ ته دوه لکهه روپئ راکړی-

وزیر آبپاشی و آبنوشی: دا به مونږ آئی جی پی صاحب ته اووایو چه دا کومے پیسے راځی نو Top priority مطلب دا دے چه دا شے به په Top priority کښے راشی او پیسے چه د چرته نه هم راشی نو دا خائے به انشاء اللّه تعالیٰ مونږه ټهیک کوؤ او د حکومت فرض دی چه هغوی ته مونږ داسے دیوال هم جوړ کړو او د رهائش د پاره انتظام هم اوکړو-

Mr. Speaker: Mr. Hameedullah Khan, MPA, to please ask his Question No. 266.

*

266 - جناب حمید اللہ خان: کیا وزیر اعلیٰ از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ــــــ

(ا) آیا یہ درست ہے کہ حکومت دوران ملازمت انتقال کر جانے والے سرکاری ملازمین کے خاندانوں کو پنشن کے علاوہ بنوولنٹ فنڈ بھی دیتی ہے،

(ب) آیا یہ بھی درست ہے کہ حکومت مذکورہ متاثرہ ملازمین کے خاندانوں کو گروپ انشورنس بھی ادا کرتی ہے،

(ج) اگر (ا) و (ب) کے جوابات اثبات میں ہوں تو۔

(ا) ضلع دیر کے پولیس ملازمین، جو دوران ملازمت سال 1986 میں انتقال کر گئے تھے، کے ناموں کی تفصیل نیز جن مرحومین کے خاندانوں کو بنوولنٹ فنڈ اور گروپ انشورنس نہیں دیا گیا، ان کی مکمل تفصیل فراہم کریں اور تاخیر کی وجوہات بتائی جائیں؛

(۲) آیا حکومت مذکورہ بالا ملازمین کے خاندانوں کو بنوولنٹ فنڈ اور گروپ انشورنس کے بقایاجات ادا کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

وزیر اعلیٰ (جواب جناب بشیر احمد بلور، وزیر آبپاشی و آبنوشی نے پڑھا۔)، (ا) جی ہاں، جو پولیس ملازمین دوران ملازمت فوت ہو جاتے ہیں، ان کو بنوولنٹ فنڈ سے کفن دفن کے علاوہ ماہوار پنشن بھی دی جاتی ہے بشرطیکہ ان کی دوران ملازمت دس سال سے کم ہو۔

(ب) جی ہاں، جو آفیسرز دوران ملازمت وفات پا جاتے ہیں، ان کے لواحقین کو گروپ انشورنس بھی ادا ہوتی ہے۔

(ج) (ا) سال 1986 میں مندرجہ ذیل اشخاص فوت ہوئے۔

سب انسپکٹر محمد نواز، تنخواہ سکیل 11۔ جی پی فنڈ اور انشورنس مل رہی ہے۔

کانسٹیبل نوشیروان، تنخواہ سکیل 2۔ جی پی فنڈ مل رہا ہے کیونکہ اس کی نوکری دس سال سے کم ہے۔

کانسٹیبل فضل خالق، تنخواہ سکیل 2۔ جی پی فنڈ نہیں مل رہا کیونکہ اس کی بیوی نے دوسری شادی کرلی ہے۔

(۲) جواب اوپر (ج) میں درج ہے۔

جناب نجم الدین: پوائنٹ آف آرڈر، سر۔ دا ضمنی سوال دے، حمید اللّٰه خان لږ بهر وتلے دے۔ یو میټنګ له ورغلے دے جی ----

وزیر آبپاشی و آبنوشی: پوائنٹ آف آرډر، سر۔ معافی غوارم، زه به مخکښے دا

Correcti اوکړم چه دا Clerical mistake دے جی، "بشرطیکه ان کی دوران رمت دس سال سے کم ہو"، لیکلے دے نو د دے په ځائے "کم نہ ہو" دے جی۔ هغه Clerical mistak دے، دا به لږ درست کړو نو د هغے نه پس دِ آنریبل ممبر خپل نوټیچن کوی۔

جناب نجم الدین، سر! زما خو په دے کښے یو ضمنی سوال دا دے چه کانسټیبل فضل خالق، دوئ دا لیکلی دی چه ده ته پنشن د دے وجے نه نه ملاویږی ځکه چه د ده ښځے دویم واده کړے دے۔ نو زما عرض دا دے چه د ده خو به بچی وی، مور او پلار به ئے وی نو که فرض کړه ښځے واده اوکړو نو د هغه پنشن به دے باندے ختمیږی چه هغه ته خپل حق نه ملاویږی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، جناب سپیکر صاحب! دوئ ډیره ښه خبره اوکړه۔ د حکومت رولز دا دی چه کومه ښځه بل واده اوکړی او بچی ئے نه وی نو هغے ته بیا پنشن نه ملاویږی او که هغه واده د خاوند د رورسره هم اوکړی نو هغے ته به پنشن ملاویږی او که هغه د بل چا سره واده اوکړی او بچی ئے ی نو بچو ته حکومت پنشن خامخا ورکوی۔

جناب نجم الدین، سر! په دے کښے خو ئے لیکلی دی چه دے د پنشن حقدار نو ے دے نو بچی خو به ئے خامخا وی او مور پلار به ئے هم وی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، هغه مړ وو کنه جی او دا پته هم نشته چه هغه په کوم مرکښے مړ شوے دے۔ او که د هغه بچی وی نو د بچو د پاره خو رولز دی ه ورکوی به۔

جناب نجم الدین، منسټر صاحب! خو جی د لسو کالو پورے پنشن نه کوی نو لس کاله خو هغه نوکری کړے ده بلکه د هغے نه به ئے زیاته کړی

وی او د هغے باوجود دوئ وائی چه بچی ئے نشته دے جی، نو دا خو د دوئ خبره غلطه ده۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، ما نه دی وئیلی چه بچی ئے نشته۔ زه دا وایم چه کیدے شی که بچی ئے وی نو بچو ته حکومت خا مخا پنشن ورکوی۔

جناب نجم الدین، آیا د ده بچی شته او که نشته، چه تاسو ئے وضاحت اوکړئ۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی، دا جی دے پخپله ایم پی اے دے او د ده علاقه ده نو دے د په علاقه کښے تپوس اوکړی چه بچی ئے شته که نشته؟ (قہقہے)

جناب والٹر مسیح، پوائنٹ آف آرڈر، سر۔ جناب سپیکر صاحب! نجم الدین صاحب بڑے اچھے آدمی ہیں، سمجھدار ہیں اور سینئر ممبر ہیں اور ان کو یہ علم ہونا چاہئے یا وہ کسی میڈیکل آفیسر سے ملیں کیونکہ بعض اوقات لوگوں کی شادی کو بیس بیس سال گزر جاتے ہیں لیکن اللہ کی طرف سے ان کی اولاد نہیں ہوتی۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب! زما دا ضمنی سوال دے چه یو سرکاری ملازم مړ شی، پولیس والا شو یا بل څوک شو، د ده چه بیوه پاتے شی، دے پخپله په سروس کښے پاتے شوے دے او پنشن یافته دے، دے مړ شی نو د ده بیوه چه پاتے شی یا یتیمان، نو هغوی ته هم دا Full pension ملاویږی که نه کموی ترے نه؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی، دا سوال دِ دوئ واضح کړی۔

جناب پیر محمد خان، یو سرکاری ملازم ریټائر شوے دے او پنشنر دے چه کله دے مړ شی، د ده هغه پنشن د ده هغے ښځے ته یا بچو ته پوره ملاویږی که نه کټ کیږی ترے نه؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی، سپیکر صاحب! دا خو زما خیال دے، زه دا نه شم

یلے، دوئ دِ نوے کونسچن اوکړی، مونږ به تپوس اوکړو چه څه پوزیشن

ے؟

اب پیر محمد خان: زما د اطلاع مطابق جناب سپیکر صاحب، دے بیوه ته نیم

لاویږی۔

زیر آبپاشی و آبنوشی: چه تا ته پته ده نو بیا څه له تپوس کوے؟

جناب پیر محمد خان: زما مقصد دا دے چه دا اوس د دے سره ظلم دے که انصاف

دے چه د دے د سر سورے وو، د کار بیگار خاوند ئے وو چه هغه مړ شو نو

هغه پنشن ترے نه نیم کټ شو۔ جناب! دا قانون خو د ظلم قانون دے۔ قانون څه

د قرآن آیت نه دے چه په دے کښے Amendment نه شی کیدے۔

جناب سپیکر: د ترمیم د پاره تاسو بیا کوشش اوکړئ کنه جی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: د Amendment د پاره به مونږ سوچ اوکړو او بیا به

کمیټئ ته لاړشی۔ که د دے ضرورت وو نو بیا به ئے اوکړو خو د مخکښے نه

مونږه دا کوشش کوؤ چه د Establishment پیسے کمے شی چه دا ترقیاتی

کارونه نشته، دا نشته نو که دا اوشی نو په دے کښے به هم د حکومت اربونه

۔وپئ لاړے شی۔ او دے وائی چه ما ته پته ده نو بیا نه پوهیږم چه دوئ ته د یو

شی پته وی نو بیا څه له کونسچن کوی؟

ناب پیر محمد خان: پته خو راته ده خو ظلم دے جناب سپیکر صاحب۔ خو زه

ه Amendment Bill راوړم نو دوئ به ئے مسترد کوی۔

یر آبپاشی و آبنوشی: تاسو Amendment Bill راوړئ بیا به هغه دلته کښے

Discu کړو کنه۔ دا څه خبره ده۔

ب پیر محمد خان: دوئ به ورته فنانس بل وائی کنه جناب سپیکر صاحب،

واپس کوی به ئے- دوئ دِ راوړی چه مونږه ئے پاس کړو-

جناب سپیکر: هغه وخت به ورسره کتلے شی- Mr. Akram Khan Durani, MPA, to please ask his Question No. 306.

*306 - جناب اکرم خان درانی: کیا وزیر اعلیٰ از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ـــــ

(ا) ضلع بنوں میں پولیس کی کل کتنی نفری ہے' ان میں کتنے ڈی ایس پی' کتنے انسپکٹرز' کتنے سب انسپکٹرز' کتنے اے ایس آئی اور کتنے سپاہی ہیں، نیز آبادی کے تناسب سے ایک سپاہی کتنے افراد کی حفاظت کا ذمہ دار ہے،

(ب) آیا ضلع بنوں میں مذکورہ بالا پولیس نفری موجودہ حالات کے پیش نظر کافی ہے،

(ج) اگر (ب) کا جواب نفی میں ہو تو آیا حکومت ضلع بنوں کیلئے پولیس نفری بھرتی کرنے کا ارادہ رکھتی ہے؟

وزیر اعلیٰ (جواب جناب بشیر احمد بلور' وزیر آبپاشی و آبنوشی نے پڑھا-): (ا) ضلع بنوں کی کل نفری مندرجہ ذیل ہے:

ایس پی 1' ڈی ایس پی 2' انسپکٹرز 5' اے ایس آئی 61' کانسٹیبلز 1086- بمطابق پولیس آبادی کا تناسب مقرر نہیں ہے لیکن ٹاؤن کی کل 30,000 کی آبادی کے اوپر صرف واچ اینڈ وارڈ ڈیوٹی کیلئے ایک سپاہی 450 افراد کی حفاظت کا ذمہ دار ہے- علاوہ ازیں بھی پولیس کو ڈیوٹی دینی پڑتی ہے مثلاً این آئی پی ڈیوٹی' جلسے جلوس' تفتیش' قیدیوں پر گارت اور گشت وغیرہ' جس کیلئے مزید نفری کی ضرورت ہوتی ہے-

(ب) نہیں-

(ج) مزید نفری کی ضرورت ہے- مزید بھرتی کا امکان بجٹ اور وسائل کا اندازہ لگا کر ہو سکتا ہے- محکمہ نے معزز رکن کا مشورہ نوٹ کر لیا ہے-

جناب اکرم خان دُرانی. دا ما غوښتلی وو چه په بنوں کښې ټوټل څومره پولیس سپاهیان دی او څومره ASI, Sub Inspectors دی؟ نو د هغې دوئ جواب راکړے دے. بیا مے دا غوښتلی وو چه په څومره آبادئ باندے یو سپاهی ذمه دار دے چه د هغوی حفاظت اوکړی، تحفظ اوکړی -----

جناب سپیکر. اکرم خان صاحب! نن خو تاسو د پولیس په حق کښې ډیر ښه روان یئ چه څنګه چل دے؟

جناب اکرم خان درانی. پولیس چه ښه کارونه کوی نو مونږ خو د هغے ستائنه کوو جی او چه کوم ځائے کښې بد کار اوکړی نو د هغے بد وایو. نو دوئ لیکی چه په 450 افراد باندے یو سپاهی ډیوټی کوی او په دے کښې نوره هم په ده باندے ډیوټی راځی چه هغه پکښې گشت، چرته د قیدیانو په گارت باندے تلل راتلل شامل دی نو د منسټر صاحب نه زه دا تپوس کوم چه یو سړے به د 450 کسانو څنګه حفاظت اوکړی؟ او بیا مے دا غوښتلی وو چه "آیا ضلع بنوں میں مذکورہ بالا نفری موجودہ حالات کے پیش نظر کافی ہے؟" نو دوئ پخپله لیکی چه دا ناکافی دی نو پکاردا دی چه مونږ ته نور پولیس بنوں د پاره راکړی او دوئ آخر کښې لیکی جی چه "مزید نفری کی ضرورت ہے۔ مزید بھرتی کا امکان .بجٹ اور وسائل کا اندازہ لگا کر ہو سکتا ہے۔" نو دے کښې زما گزارش دا دے چه څنے داسے مدونه دی چه هغه بالکل لازم و ملزوم دی. په دے ملک کښې اول امن و امان او د خلقو تحفظ ضروری دے. نو مونږه وایو چه داسے مدونو نه پیسے کټ شی چه هغه غیر ضروری اخراجات وی او د پولیس د پاره دا زیاتے کړے شی او په هغې کښې دِ دوئ ته، یو خو تنخواه هم کمه ده که مونږ د هغے د پاره په پولیس باندے دا هم الزام لګوو چه سپاهی چه اوخی نو د خپلے تنخواه نه

علاوه نور څه کوی، نو هغه چه په دو هزار کښې چه شپه او ورځ ډیوټی اوکړی نو د هغه اخراجات نه پوره کیږی۔ نو هغه هم مونږ ورسره شاملوؤ که موجوده حکومت د هغوی په تنخواه کښې څه اضافه اوکړی نو لږ به دا جرائم د هغې سره نور هم کم شی۔

حاجی عبدالرحمان خان، جناب سپیکر صاحب! زما هم پکښې یو ضمنی سوال دے۔ وزیر صاحب دِ دا اوښائی چه گشت د پاره دے پولیس والا له څه ورکړے شوی دی؟

جناب سپیکر، د گشت د پاره؟

حاجی عبدالرحمان خان، نو که دوئ ما په دے پوهه کړی چه آیا د پولیس د گشت د پاره څه انتظام شته؟

جناب سپیکر، ستاسو مطلب دا دے چه موبائل یا څه گاډے وغیره؟

حاجی عبدالرحمان خان، موبائل وغیره، او چه کوم شته نو هغه کافی دے که ناکافی دے؟

جناب عبدالسبحان خان، سپلمنٹری، سر۔

جناب سپیکر، شعر ورسره اووایه جی، د سپلیمنټری سره۔ (قہقہے)

جناب عبدالسبحان خان، محترم سپیکر صاحب! عبدالرحمان خان یا درانی صاحب چه کوم سوال اوکړو او دا ئے ضمنی سوال دے، عبدالرحمان چه څنګه اوفرمائیل چه دوئ له گشت له څه ورکوی؟ نورکله به ئے زما په خیال چه ما ته څومره علم دی، پچهتر لیټر تیل به ئے د تهانے د پاره ورکول او پچاس لیټر تیل به ئے د هغې علاقے متعلقه ډی ایس پی له ورکول، خو اوس هغه تیل هم کټ شوی دی۔

جناب سپیکر، کټ نه دی خو په قرضو نے اچوی۔

جناب عبدالسبحان خان: ما ته چه څومره علم دے نو وائی چه کټ کړی ئے دی یا کم شوی دی نو په دے باندے غور پکار دے چه هغه موبائل ګشتونه د Law and order situation برقرار اوساتلے شی۔

میاں مظفر شاہ: سپیکر صاحب! دے لړ کښے یوه خبره کوم۔ ما یو توجه دلاؤ نوټس هم ورکړے دے، خو خدائے خبر چه هغه کله راځی؟ د دے پی۔او۔ایل د وجے نن پینځمه میاشت ده چه نو ښار ته چالان نه ځی او باقاعده مقدمے۔۔۔۔

جناب سپیکر: دا ستاسو رارروان دے، ما Allow کړے دے۔

میاں مظفر شاہ، ښه جی۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: جناب سپیکر صاحب! څنګه چه اکرم خان درانی صاحب خبره اوکړه چه دا 450 کسانو باندے یو پولیس والا چرته کنټرول کولے شی؟ نو زه د دوئ د انفارمیشن د پاره دا وایم چه دا 450 کسان د انګریزانو د وخت نه دی، اوس زمونږ سره خو په یو زر کسانو باندے هم مشکله ده چه یو پولیس والا ملاؤ شی او بیا ورسره دوئ وائی چه نور زیات کړئ او زمونږه حاجی صاحب اوفرمائیل چه موبائل د پاره ورته تاسو پټرول ورکړئ، نو دا چه کوم وخت کښے بجټ پیش کیږی نو پکار دا ده چه زمونږه ممبران صاحبان دِ هغه وخت اودریږی او دوئ دِ اووائی چه پولیس له ډیرے پیسے ورکړئ چه مونږ ورله ډیرے پیسے ورکوؤ۔ نو دوئ وائی چه پولیس خو کار نه کوی، تاسو په بجټ کښ هغوی ته ولے دومره پیسے مختص کوی۔ نو دا پکار ده چه کوم وخت کښ بجټ پیش کیږی چه دوئ وائی چه په بجټ کښے ورته مونږه زیاتے پیسے نه شو ورکولے۔ د پټرول

خبره چه دوئ کومه اوکړه نو چه هغه توجه دلاؤ نوټس راشی نو بیا به انشاء الله تعالیٰ دهغے جواب هم ورکړو۔

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر صاحب! د وزیر صاحب په خدمت کښے دا عرض دے چه په بجټ کښے خو د پولیس د پاره فنډ شته۔ دا چه مونږ درته وایو نو مونږ ترے نه خپل عوام خلاصوؤ۔ بیا گرځی او په خواست د گشت د پاره ویگنے هم غواړی، موټرے هم غواړی، نو دا مهربانی اوکړئ چه دا پولیس د دے خواست نه خلاص کړئ او خپل بندوبست ورله اوکړئ۔

وزیر آبپاشی و آبنوشی: بالکل جی، دا چه کوم په بجټ کښے د هغوی پیسے مختص دی، انشاء الله تعالیٰ مونږ به پوره دغه کوؤ۔

Mr. Speaker: Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, to please ask his Question No. 84.

* 84 - جناب احمد حسن خان: کیا وزیر قانون و پارلیمانی امور از راہ کرم ارشاد فرمائیں گے کہ ـــ

(ا) آیا یہ درست ہے کہ واڑی سب ڈویژن، ضلع دیر میں اضافی قاضی (ایڈیشنل سیشن جج) اور علاقہ قاضی کی تقرریاں مستقل طور پر کی گئی ہیں؛

(ب) مذکورہ سب ڈویژن کی عدالتوں میں زیر التواء مقدمات کی تعداد بتائی جائے؛

(ج) کیا زیر التواء مقدمات کے تناسب کو مدنظر رکھتے ہوئے اضافی ضلع قاضی اور علاقہ قاضی کی مستقل تقرریاں ضروری نہیں ہیں؟

جناب بشیر احمد بلور (وزیر قانون و پارلیمانی امور): (ا) واڑی سب ڈویژن، ضلع دیر میں اضافی ضلع قاضی (ایڈیشنل سیشن جج) کی تقرری مستقل طور پر نہیں کی گئی ہے بلکہ اضافی

ضلع قاضی ثمرباغ مینہ میں صرف ایک ہفتہ کیلئے واڑی کا دورہ کرتا ہے۔ علاقہ قاضی (سول جج) واڑی ضلع دیر میں کی تقرری مستقل طور پر کی گئی ہے۔

(ب) واڑی سب ڈویژن کے اضافی ضلع قاضی کی عدالت میں زیر التواء 155 کیسز ہیں اور علاقہ قاضی کی عدالت میں 244 کیسز ہیں۔

(ج) زیر التواء مقدمات کے تناسب کو مدنظر رکھتے ہوئے اضافی ضلع قاضی کی مستقل تقرری ضروری نہیں ہے جبکہ علاقہ قاضی کی مستقل طور پر واڑی میں تقرری ہو چکی ہے۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! دا دوئ چه کوم جواب ورکړے دے، د دے په بنیاد سچوئشن Over burdened دے جناب سپیکر نو زما دا درخواست دے چه په دے کښے دِ دوئ مالی حالات یا نور صورتحال اوګوری، زما یقین دے چه داسے صورتحال به وی، خو دوئ دِ اوګوری، هلته کښے دا ضرورت شته دے. که مستقل تعیناتی اوکړی نو زه به مشکور یم۔

وزیر قانون و پارلیمانی امور: جناب سپیکر! د لاء ډیپارټمنټ د طرف نه مونږه سمری لیږلے ده۔ چه مونږ ته اجازت ملاؤ شی، مونږ ته پخپله دا فکر دے او د دے موجوده حکومت دا کوشش دے چه لوگوں کو انصاف ان کے گھروں تک پہنچایا جائے، نو مونږ کوشش کوؤ چه دا انشاء الله اوشی۔

Mr. Speaker: The sitting is adjourned for tea break and we will re-assemble after half an hour.

(اس مرحلے پر چائے کیلئے ایوان کی کارروائی آدھ گھنٹہ کیلئے ملتوی ہوگئی۔)

(وقفہ کے بعد جناب سپیکر مسند صدارت پر متمکن ہوئے۔)

## معزز اراکین کی رخصت

جناب سپیکر: بسم الله الرحمٰن الرحیم۔ جناب محمد ہاشم خان، ایم پی اے نے 13 و 14

نومبر، 1997 اور سردار مشتاق، ایم پی اے، نے 13 نومبر 1997 کیلئے چھٹی کی درخواستیں ارسال کی ہیں ۔ Is it the desire of the House that leave may be granted to the honourable Members?

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. Leave is granted to the Hon'able Members.

## تحاریک التواء

Mr. Speaker: Mr. Saleem Saifullah Khan, MPA, to please move his Adjournment motion No. 122. Not present, it lapses. Mr. Sher Zaman Sher, MPA, to please move his Adjournment motion No. 125.

جناب شیر زمان شیر: جناب سپیکر صاحب! "اسمبلی کی کارروائی روک کر ایک اہم مسئلے پر بحث کی اجازت دی جائے اور وہ یہ ہے کہ میرے حلقہ پی ایف۔27، صوابی 4 کے ہائی سکولوں میں نہ سائنس ٹیچرز ہیں اور نہ استانیاں ہیں جس کی وجہ سے طلباء اور طالبات کا قیمتی وقت ضائع ہوتا ہے"۔

جناب سپیکر صاحب! د کال د سر نه مونږ جی خواست کوؤ چه زمونږ په سکولونو کښ د سائنس استاذانے نشته، په اخبارونو کښے راغی او د طلباء او د طالباتو قیمتی وخت ضائع کیږی۔ زمونږ ستاسو په وساطت باندے منسټر صاحب ته دا خواست دے چه د طالبعلمانو قیمتی وخت ضائع کیږی، امتحانونه په سر راروان دی او تر اوسه پورے د سائنس استاذانے او استاذان په سکولونو کښے نشته او د هغوی والدین په مختلفو وختونو کښے ملاویږی

او هم دغه فریاد کوی چه زمونږ د بچو تعلیمی کال ضائع شو- زمونږ منسټر صاحب ته دا درخواست دے چه زمونږ په ټولو سکولونو کښے جی، هلته چه زمونږه ځومره هائی سکولونه دی د جینکو او د هلکانو، په هغے کښے د سائنس استاذان او استاذانے نشته، منسټر صاحب دِ دا مهربانی اوکړی چه د دغے د پاره د فوری څه انتظامات اوکړی-

جناب افتخار الدین، جناب سپیکر صاحب! یو عرض مے کولو- زمونږ په صوبه کښے ځائے په ځائے دا مډل سکولونه جوړشوی دی او هغے کښے ایس ای ټی پوسټونه تر اوسه پورے خالی پراته دی نو د سکولونو څه مقصد حاصل نه شو، نو منسټر صاحب دِ په دے باندے لږ غور اوکړی جی-

ملک نقیب الله خان، جناب سپیکر صاحب! شیر زمان خان چه کومه خبره اوکړه، هغوی خو د سائنس ټیچرز خبره اوکړه، زمونږ په بنوں بلکه تقریباً په هر ځائے کښے داسے سکولونه چه هیډ ماسټران یا ځنے خلق پروموټ شوی دی، هغه پوسټونه خالی پاتی دی او Ban پکښے Impose دے نو چه کومو سکولونو کښے داسے حالات دی چه هلته هیډ ماسټر پروموټ شو یا گریډ 19 ته لاړو یا بل ځائے ته لاړو نو د هغے د پاره څه حل پکار دے ځکه چه سکولونه دغه شان پراته دی او بغیر د هیډ ماسټر نه خو سکول نه چلیږی-

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر صاحب! لکه څنګه چه نقیب الله خان اووئیل، داسے یوه غلطی غونډے شوے ده- چه کله دا پروموشن کیدو نو په هغه وخت کښے زمونږ په یو سکول، گورنمنټ هائی سکول لالوزئی کښے د هیډ ماسټر پوسټ Vacant وو او ایس ای ټی نه ایوب خان نومے یو سړے پروموټ شو نو هغه ئے بټگرام ته اولیږلو- زمونږ هغه خپل سکول اوس هم

خالی دے او په بنوں کښے جی تقریباً په شپږ، اتو سکولونو کښے هیډ ماسټران نشته او زمونږ د بنوں چه کوم پرنسپلز او هیډ ماسټرز دی، هغوی څوک په ایبټ آباد کښے دی، څوک په بټګرام کښے دی نو زمونږه منسټر صاحب ته دا خصوصی Request دے چه چونکه زمونږه خپل سکولونه خالی دی نو په Ban کښے د څه Relaxation اوکړی او په بټګرام او ایبټ آباد کښے زمونږه کوم هیډ ماسټرز چه دی، هغوی د خپل Home districts ته ټرانسفر کړی۔

جناب طارق خان سواتی: جناب سپیکر! یہ پورے صوبے کا مسئلہ ہے۔ پورے صوبے کے سکولوں میں سبجیکٹ سپیشلسٹ، سائنس ٹیچرز اور ایس ای ٹی ٹیچرز نہیں ہیں۔ جناب سپیکر! اس کے ساتھ ساتھ ایک اور چیز بھی ہم نے ایجوکیشن کی سٹینڈنگ کمیٹی میں اٹھائی تھی کہ کلاس فور یا میرے خیال میں گرلز سکولوں میں کلاس فور کی جو Sanctioned پوسٹیں ہیں، ان پر تعینات لوگوں میں سے چند کی Death ہو چکی ہے اور کچھ ریٹائر ہو چکے ہیں لیکن محکمہ اب بھی ان پر Appointments نہیں کر رہا تو جناب سپیکر، آپ اس پر اپنی رولنگ دیں اور بھرتی پر جو Ban ہے، اسے Lift کیا جائے کیونکہ جن سکولوں میں استاد نہیں ہیں، تو ان سکولوں کا مقصد کیا ہے؟ سکولوں میں استاد نہیں ہیں لیکن طالبعلم تو ہیں تو Ban لگا کر صرف یہ کیا گیا ہے کہ جب ہم کہتے ہیں کہ فلاں سکول میں استاد نہیں ہے تو جواب ملتا ہے کی Ban ہے۔ میں یہ سمجھتا ہوں کہ اس Ban کی وجہ سے ہمارے بچوں کی تعلیم پر اثر پڑ رہا ہے۔

جناب نجم الدین: ما جی یو عرض کولو چه دا مسئله ټولو ته ورمخامخ ده، دے له دِ داسے یو ټائم مقرر کړے شی او جی دا تاسو د ډسکشن د پاره منظور کړئ او د دے ډسکشن د پاره که په دے موجوده سیشن کښے ټائم کیښودے شو، ځکه چه ټول سکولونه خالی دی جی، په یو سکول کښے هم استاذان نشته

او د ټولو دغه يوه مسئله ده جی۔ ايډمټ ئے کړئ سر۔

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم)، سپیکر صاحب! زه خو وايم چه داسے کار به اوکړو چه دا منظور کړئ او يو ورځ ورله کيږدئ چه بحث پرے اوکړو۔

جناب پیر محمد خان، سپیکر صاحب! دا خبره خو ټهيک ده خو -----

حاجی محمد یوسف خان، دا خو ډيره اهم مسئله ده، ټانم مه ايږدئ ځکه چه دے کښے د هيډ ماسټر او د سائنس ماسټر، د دوانړو مسئله ده۔ سکولونه خالی پراته دی او د طالبعلمانو تعليم بالکل ضائع کيږی۔

جناب پیر محمد خان، يوه خبره ده، صرف د پوسټونو د پاره هغه خو دوئ په دوه منټه کښے دلته کولے شی چه اناؤنس کړی چه کوم ځائے کښے سائنس ټيچرز نشته، مثلاً زما په حلقه کښے چوده، پنډره هائی سکولونه دی چه په هغه کښے د سائنس يو پوسټ دوه شته، نور ټول خالی دی۔ دوئ خو د کرک د پاره يو فيصله کوی چه دے ته خصوصی دغه ورکړئ او ----

جناب سپیکر، تاسو لږه دومره مهربانی کوئ جی ----

وزیر تعلیم، سپیکر صاحب ----

جناب سپیکر، يو منټ جی، يو منټ۔ دومره مهربانی کوئ، گورئ جی، بل ممبر صاحب د مخکښے نه خبره کوی لکه اوس حاجی صاحب اوکړه، مظفر شاه اوکړه__ تاسو ما پريږدئ، چه څوک مخکښے پاسيدلے وی چه زه هغه له فلور ورکړم، مينځ کښے راپاسيدل Avoid کوئ جی ځکه چه د دے ډير غلط اثر غورزيږی چه ولے د هغه روستو پاتے شی، ولے د مخکښے پاتے شی؟ نو مهربانی اوکړئ جی۔ حاجی صاحب، رومبے تاسو خبره اوکړئ۔ تاسو څه وئيل غوښتل۔

وزیر تعلیم: سپیکر صاحب! که زه دا وضاحت اوکړم شاید چه دوئ مطمئن شي۔

جناب سپیکر: یو سیکنډ کینئ جي، خیر دے هغوی پاسیدلے دي، چه څه وائي؟

حاجي محمد یوسف خان: جناب سپیکر! حقیقت دا دے چه دا مسئله ډیره اهمه ده۔ حکومت په اربونو روپئ په تعلیم باندے خرچ کوي او تعلیم یو داسے مد دے چه د دے قوم سره ډیر ګهرا تعلق دے۔ حقیقت دا دے چه پوسټونه هم Sanctioned دي، هر څه شته خو صرف څه د ډیپارټمنټ په وجه باندے یا د څه نورو حالاتو په وجه باندے هغه ټول مقصد فوت کیږي۔ یوازے د هیډ ماسټر خبره نه ده بلکه د سائنس ماسټر خبره ورسره هم ده۔ چه په یو سکول کښے هیډ ماسټر نشته، په یو سکول کښے سائنس ماسټر نشته نو بچو ته به څوک څه تعلیم ورکړي؟ او نن صبا تاسو ته پته ده چه آرټس څه معنیٰ نه لري تر څو پورے چه ټیکنیکل ایجوکیشن نه وي۔ نو زما دا تجویز دے چه دا د ایډمټ کړے شي او په دے باندے د پوره بحث اوشي او دے د پاره څه تجاویز راشي او حکومت د د دے څه حل راوباسي۔

میاں مظفر شاه: جناب سپیکر صاحب! څنګه چه تحریک التواء راغلے ده، ټولو ممبرانو خبره اوکړه خو د هغے نه مخکښے هاشم خان چه کومه خبره اوکړه، د هغے سره زمونږ اتفاق دے چه دا د ایډمټ شي او په دے باندے د بحث اوشي ولے چه په دے صوبه کښے د ایجوکیشن کوم برا حال دے، د بل څه نه دے۔

(شور)

جناب غفور خان جدون: جناب سپیکر صاحب! یو عرض کومه، وزیر صاحب

پخپله محکمه باندے ښه پوهه دے۔ یو پینځه منټه هغه له ټائم ورکړئ چه هغه خپله مدعا دوئ ته پیش کړی۔ که دوئ ورسره اتفاق اوکړو نو ډیره ښه ده۔

جناب سپیکر: هغے ته ئے خو څوک نه پریږدی کنه، هم هغه یو خبره ده۔ یو ممبر صاحب پاسیدو چه دا د ټولے صوبے مسئله ده او حقیقت هم دا دے نو چه ئے اوونیل نو زمونږ دا عادت دے چه مونږ کښے هر یو دا وایو چه مونږ نه د خلق خبر شی چه ما خبره اوکړه۔

جناب عفور خان جدون: دے جی Educated سړے دے۔ تاسو ئے جی Mover لږ پریږدئ -----

جناب سپیکر: ایم پی اے صاحبانو ته زما دا خواست دے چه دا شے لږ Avoid کړئ۔ په دے باندے هیڅ فرق نه پریوزی چه ستاسو یوه خبره ده، هغه Generally اوشوه نو بیا د هغے Repetition کولو باندے وخت مه ضائع کوئ خکه چه دا صرف په دے باندے چه ما خبره اوکړه، خبره چه کومه ده Repetition به بیا زه پریږدم بیا به دغه نه وی، .Let him reply please

میاں مظفر شاہ: جناب سپیکر صاحب! ستاسو دا خبره ډیره غوره ده لیکن بعضے شے ډیر Important شی چه ډیر ایم پی اے گان وی، نو د هغے خپل یو وزن خو وی کنه جی۔ یو کس خبره اوکړی باقی اونکړی نو بیا ئے وزن ختم شی۔

جناب سپیکر، نه جی هغے سره، گورئ کنه چه د چا مخالفت وی کنه، هغه پاسی، مخالفت والا پاسی، نور خو د یو کس خبره، د یو ایم پی اے خبره پکار ده۔ چه نور پرے غلی پاتے شی نو By implication it means چه هغه نور ئے سپورټ کوی نو ما ته خو څه تکلیف نشته۔ تکلیف تاسو ته دے چه ستاسو یو

بزنس پاتے شی، په هغے باندے پاتے کیږی۔ جی هاشم خان!

<u>جناب محمد هاشم خان (وزیرتعلیم)</u>: جناب سپیکر صاحب! زمونږ شیر زمان خان چه کومه تحریک التواء پیش کړے ده نو ما خو Already اووئیل چه ځه ټهیک ده، مونږ نے منو او ایډمټ کوؤ، بحث دِ پرے اوکړی خو دے سلسله کښے دوئ ته صرف دومره خبره کول غواړم چه زیات تر زمونږ د ایم پی اے صاحبانو دا شکایت دے چه د دوئ په حلقو کښے ایس ای ټی ټیچرز نشته او ایس ایس نشته نو مونږ پبلک سروس کمیشن ته د ایس ای ټی ټیچرز، د ایس ایس او د هیډ ماسټرانو لسټ لیږلے وو، انټرویو د پاره هغوی لسټ لیږلے دے، د ایس ای ټی ټیچرز هغوی انټرویو کړے ده، سلیکټ شوی دی او مونږ له واپس لسټ راغلے دے۔ مونږ هغوی ته وئیلی دی چه په څلورو، پینځو یا شپږو ورځو کښے دننه میډیکل اوکړئ۔ چه څنګه میډیکل نے اوشی، هر یو ډسټرکټ ته، هر یو سکول ته به خپل ایس ای ټی ملاو شی۔ شیر زمان شیر خان ته وئیل غواړم چه د صوابئ د پاره نهه ایس ای ټی ټیچرز منظور شوی دی د بیل بیل مختلف سکولونو د پاره، صرف د میډیکل د مرحلے د وجے پاتے دی۔ دویمه خبره د مډل سکول زمونږ افتخار الدین خټک صاحب اوکړه، هغوی هم د ایس ای ټی ټیچرز وائی، هغے سره هم د دوئ دا مسئله حل کیږی۔ نقیب اللّٰه خان اووئیل هیډ ماسټران نشته، هیډ ماسټران Already د ګریډ 18 د پاره پبلک سروس کمیشن انټرویوز روانے کړے دی۔ د دے میاشت دننه دننه انشاء اللّٰه څنګه چه مونږ ته د هغوی هغه لسټ راشی، زر تر زره به مونږ هیډ ماسټران ورته ورکړو۔ اکرم درانی صاحب وئیلی دی چه هائی سکول کښے هم زمونږ داسے هیډ ماسټران نشته، پروموټ شوی دی او

بل خوا تلی دی، نو چه څنګه دغه انټرویوز اوشی او پبلک سروس کمیشن نه مونږ ته هیډ ماسټران راشی، دوئ له به ئے په دے میاشت کښے دننه ورکړو۔ طارق سواتی هم وائی چه ایس ایس هم نشته او ایس ای ټی هم نشته۔ مطلب دا ټولو ته بیل بیل په دے وایم څکه چه اوس به بیا زما معزز رور راپاسی چه زما جواب ئے را نه کړو نو دوئ ته هم وئیل غوارم او یقین دهانی ورکوم چه د ایس ای ټی انټرویوز شوی دی، ایس ایس هم ورسره شوی دی، ایس ایس به هم په دے میاشت کښے راشی، د ایس ای ټی د پاره مونږ Already میډیکل کوو او دویمه خبره دوئ د کلاس فور وائی۔ په کلاس فور باندے هیڅ قسم Ban نشته۔ که سرے مړ شی یا ریټائر شی نو د هغے د پاره صرف دا ده چه Minister concerned ن ہ به که د هر یو ډیپارټمنټ وی، چیف منسټر صاحب یو نوټیفیکشن کړے دے چه د Minister concerned نه به Ban relaxation اخلی، صرف د کلاس فور د پاره، نو هغه که د دوئ په کومه حلقه کښے کلاس فور نه وی نو را د شی، Application د اوکړی، زه به ئے ورله اوس په دے ساعت Ban relaxation ورکومه۔ یوسف ترند صاحب وائی چه دا اهم مسئله ده نو ما خو مخکښے هم اووئیل چه جی دا د ټولو مسئله ده۔ انشاء الله که دوئ لږه موقعه راکړه او لږ انتظار ئے اوکړو، ډیر انتظار ئے کړے دے که لږ نور انتظار ئے هم اوکړو نو انشاء الله دوئ له ایس ای ټی، ایس ایس، هیډ ماسټرز، ټول به ملاؤ شی۔ بیا هم -----

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر صاحب! -----

وزیر تعلیم، بیا هم که دوئ بحث کول غواړی نو مونږ بحث کولو ته تیار یو۔ سپیکر صاحب! چه تاسو کومه ورځ مقرر کوئ -----

میاں مظفر شاہ: سپیکر صاحب! یو ----

وزیر تعلیم: مقرر کړئ ورله، انشاء اللّٰه په هغے به مکمل بحث اوکړو۔

میاں مظفر شاہ: د دوئ نه یو وضاحت غواړو جي۔ دوئ اوونیل چه کوم کلاس فور مړ شي، ټرانسفر شي یا ریټائرډ شي، نو زما په حلقه کښے تقریباً پینځه، شپږ سکولونه نوي سینکشن شوي دي، هلته چه کلاس فور یا چا زمکه ورکړے ده یا نوے کلاس فورلګوو نو هلته د ډي۔ای۔او سټاف دا وائي چه په دے باندے Ban دے۔ دلته زمونږ منسټر صاحب Categorically اوونیل چه Ban نشته۔ دا دے لږ Clarify کړي۔

وزیر تعلیم: جناب سپیکر صاحب! Ban لګیدلے دے۔ دوئ ته خو ما اوونیل کنه جي چه د Ban د Relax کولو د پاره به Concerned Minister له Application ورکوي۔ اوس Application راکړه چه په دے ساعت ئے درله اوکړم۔

جناب پیر محمد خان: سپیکر صاحب! دا خو دوئ ډیره ښه خبره اوکړه۔ مونږ خو چه دوئ ته اووایو نو دوئ وائي چه مونږ به انکوائري اوکړو، ډائریکټر ته به ئے مارک کړو او ډائریکټر به هلته اولیږي۔ درے ځلور میاشتے مخکښے مے ورته ورکړے دے او تر اوسه پورے هغه انکوائري لا نه ده شوے۔

وزیر تعلیم: سپیکر صاحب! د ده بله مسئله وه۔ دوئ پکښې انکوائري کول غوښتل۔ نوي دغه ئے نه بهرتي کولو۔

جناب پیر محمد خان: دا د کرک ټاکل شان کیس دے۔ په دے کښے خو ښه په آسانه دوئ اوونیل چه د کرک د پاره Ban نشته۔ دا جناب سپیکر صاحب، د دوئ آرډر دے، د کرک د پاره یو شان تیاروي چه "--- Impose ban on postings and transfers against the newly created posts in some schools which

have been established/up-graded in District Karak on

developmental and non-developmental side with effect from 1/9/97,

subject to the prior approval of the Chief Minister. The Chief

Minister has been pleased to direct that there will be no ban on

postings and transfers". اوس د کرک د پاره خو دوئ خصوصی اوکړو -
ولے زمونږ دا نورے ضلعے؟ یو کرک ته مو تاسو محتاج کوئ؟ چه کومه
فیصله د فرید طوفان د پاره کوی، هغه د زمونږ د ټولے صوبے د پاره اوشی کنه
یعنی چه کومه دغه د دوئ د پاره کوی، داسے زمونږ سکولونه نوی اپ گریډ
شوی دی، فنانس نه په غویمو باندے پوسټونه لاړل او دوئ وائی چه بس Ban
دے، پرے دا نه دغه کیږی- نو هغه ټول نوی پوسټونه چه راغلی دی، هغه
سکول کهلاولو او د پوسټونو ورکولو فائده څه شوله-

وزیر تعلیم: سپیکر صاحب! ما اووئیل چه په کلاس فور باندے Ban نشته-
Application راوړه چه درله ئے اوکړم-

جناب سپیکر: دا ئے خو تاسو ته Categorically اووئیل چه په کلاس فور باندے
Ban نشته، صرف Application ورکړئ-

جناب پیر محمد خان: نه جی، یوازے کلاس فور نه دی، کوم سکول چه اپ گریډ
شوے دے-----

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر!-----

جناب پیر محمد خان: د دغے سکول د Up-gradation څه فائده شوه چه په هغے
کښے سټاف نه وی، هیډ ماسټر نه وی، استاذان نه وی؟ فنانس پوسټونه
ورکړل او دوئ وائی چه د مارچ پورے Ban دے- نو د مارچ پورے هغه

سکول به کھلاو نه شی، بند به پاتے شی -----

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! پوائنٹ آف آرڈر پر ہوں۔

جناب پیر محمد خان: بیا یوه خبره دلته کومه جناب سپیکر صاحب، -----

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! محترم وزیر صاحب نے دس پندرہ منٹ پہلے یہ کہا ہے کہ اسے ایڈمٹ کرلیں تو میرے خیال میں آپ ہاؤس سے پوچھ کر اسے ایڈمٹ کرلیں۔

جناب پیر محمد خان: په دے کښے جناب سپیکر صاحب، یوه خبره پاتے شوه۔ دوئ چه کوم ایس ای تی لیږی -----

Mr . Speaker: Is it the desire of the House that the Adjournment motion be admitted for discussion?

(The motion was carried)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. It is admitted for discussion.

## توجہ دلاؤ نوٹس

Mr . Speaker: Mr . Najmuddin Khan , MPA , to please move his 'Call Attention Notice' No. 128.

(تالیاں)

جناب نجم الدین: توجہ دلاؤ نوٹس نمبر 128- "یہ اسمبلی حکومت کی توجہ اس طرف مبذول کرانا چاہتی ہے کہ آر۔ایچ۔سی پترات جو کہ دو سال پہلے مکمل ہوچکا ہے لیکن تاحال اس کیلئے سٹاف کی منظوری نہیں ہوئی ہے جس کی وجہ سے عوام کو مشکلات کا سامنا کرنا پڑتا ہے۔"

سر! زما عرض دا دے چه په 1984 کښے، دوئ د کاغذات اوګوری،

منسٹر صاحب ناست دے، په پتراټ کښے یو بی ایچ یو منظور شوے وو او هغه بی ایچ یو Complete شو۔ د هغے نه روستو بیا هغه آر ایچ سی کښے Convert شو، درے څلور کاله شوی دی چه هغه آر ایچ سی هم Complete شوے دے۔ د دغه بلډنګ بیخ بنیاد اووتو، تر اوسه پورے هغے له سټاف نه Sanction کیږی۔ کله وائی په دے کښے قانونی کارروائی ده۔ د بی ایچ یو او د آر ایچ سی د سټاف د پاره کومه قانونی کارروائی ده؟ سر! مونږ ټائم ډیر څکه نه اخلو چه منسټر صاحب خو اوږد تقریر اوکړو، زمونږه یو قرارداد راروان دے، هغه نے روستو کول غواړی خو زمونږ دا عرض دے چه پکار دا وه چه یو شے ایډمټ شونو (شور) یو شے ایډ مټ شو د هغے باوجود ته پړے دومره لمبا چوړا تقریر څه له کوے؟ خو زما عرض دا دے چه په دے باندے زمونږ سره دو ټوک خبره د منسټر صاحب اوکړی۔ دا سټاف کله څی؟ دا بلډنګ خراب شو۔ هلته خلقو ته مشکلات دی۔ زه دا وایم چه دا په 1984 کښے د بی ایچ یو بلډنګ شروع شوے دے او دغه شان نورهم بلډنګونه دی، هغے له به هم ورځ مقرر کړو، خبرے به پرے اوکړو۔ نو دا ده جی چه منسټر صاحب د دے خبرے جواب ورکړی۔

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر صاحب! په دے ضمن کښے زه هم عرض کوم۔ دوه بی ایچ یو په 1990 کښے زما هم تیار دی ----

جناب سپیکر: دا نجم الدین خان په تاسو باندے هم اعتراض اونکړی چه دا قرارداد د هغه روستو کوئ تاسو؟ په کال اټینشن باندے ډسکشن چرته دے؟ عبدالرحمان خان، که ستاسو خپل څه شی کښے دلچسپی وی نو You please bring in your own Call Attention. No discussion on Call Attention Notice

حاجی عبدالرحمان خان: مطلب دا دے چه ما د دے وخت نه فائده اخسته۔ ما ونیل چه شه جوابو نه پکښے راغلل ---- (شور)

Mr. Speaker: No discussion, what-so-ever, no discussion on 'Call Attention Notice', no discussion. Jee, Minister Sahib!

جناب نجم الدین: سر! دے زما نه د شه شی تپوس کوی؟ د منستر نه دِ تپوس اوکړی۔

جناب ثناء اللہ خان میانخیل (وزیرصحت)، جناب سپیکر! آر۔ایچ۔سی، پتراٹ کی S.N.E proposal محکمہ خزانہ کو بھیجی جا چکی تھی لیکن چونکہ پتراٹ میں بجلی مہیا نہیں کی گئی، وہاں پر بجلی پہنچی نہیں ہے تو وہاں پر جو Criterion ہے، اس کے مطابق محکمہ خزانہ نے اس پر Objection لگا کر واپس بھیجی تھی۔ اس وقت ڈی۔ایچ۔او، دیر اور حکومت کے مابین کارروائی ہو رہی ہے اور مستقبل قریب میں امید ہے کہ سٹاف مل جائے گا، تو انشاء اللہ تعیناتی جلد کر دی جائے گی۔

جناب نجم الدین: سر! زما عرض دا دے چه یو کال مخکښے پتراټ ته بجلی نه وی رسیدلے، بجلی نه وی لګیدلے، خلقو میټرے نه وی لګولے نو زه به د دے سیټ نه مستعفی شم، خو یو کال اوشو، بجلی لګیدلے ده۔

جناب سپیکر: ته ګورے ډیر لوئے Asset یے د اسمبلی، نه استعفٰے ورنکړے ګورے، خیال کوه۔

جناب نجم الدین: او کنه جی، دا خبره د واوری۔ یو کال شوے دے منستر صاحب، بجلی رسیدلے ده خو سټاف نه ورکوی جی۔ شه بل شه چل ول دے۔

وزیر صحت: سر! میں نے عرض کیا ہے کہ خزانہ کی طرف سے اس وقت، جیسا کہ یہ خود فرما رہے ہیں کہ عرصہ دراز سے یہ کیس چل رہا ہے اور وہ مکمل ہے اور سابقہ حکومت میں بھی اس کی پروپوزل گئی ہو گی، اگر وہاں پر بجلی پہنچ گئی ہے تو انشاء اللہ -----

جناب سپیکر: منسٹر صاحب! داسے کار اوکړئ کنه جی چه څنګه هغوی تاسو ته وانی د ډیر وخت نه، مهربانی اوکړئ دے له Top priority ورکړئ And you proceed پخپله پرے دغه اوکړئ او هغوی ته اووایئ چه زر تر زره دا ختم کړئ- د هغوی خو دا مطلب نه دے چه په کلونو به دا پراته وی-

وزیر صحت: سر! انشاء اللہ ہمارے محکمے کی طرف سے اس میں کوئی رکاوٹ نہیں ہو گی-

جناب نجم الدین: خدائے دجی ژوندے لره، سپیکر صاحب- (قہقہے)

Mr. Speaker: Mr. Ahmad Hasan Khan, MPA, to pleas move his Call Attention Notice No. 171. Mr. Ahmad Hasan Khan, please.

جناب احمد حسن خان: شکریہ جناب سپیکر صاحب- توجہ دلاؤ تحریک- جناب سپیکر! پرائمری ایجوکیشن پراجیکٹ سے کل مورخہ 27 اکتوبر 1997 کو اے ڈی پی ٹارگٹ برائے سال 1997-98 حاصل کرنے اور اس کو دیکھنے سے یہ حقیقت ثابت ہوگئی ہے کہ مذکورہ پراجیکٹ میں اس سال کیلئے پرائمری تعلیم کی ترقی کی مختلف مدوں میں بالعموم اور پرائمری سے مڈل تک درجہ بڑھانے کی مدمیں بالخصوص میرٹ، اصول اور ضرورت کو بالائے طاق رکھ کر فیصلے کئے ہیں- یہاں تک کہ ممبران اسمبلی کو بلا کر ان کو میرٹ اور Criteria پر قصیدے سنانے اور سمجھانے کے باوجود ان کے مشوروں کا بھی مذاق اڑایا جا چکا ہے- نیز یہ پالیسی امداد دینے والے ممالک کے ساتھ طے شدہ شرائط کے بھی خلاف ہے لہذا میں اس سلسلے میں وزیر تعلیم کی توجہ دلا کر ان سے فوری اور مناسب کارروائی کی توقع رکھتا ہوں-

جناب سپیکر ! پرائمری ایجوکیشن پراجیکټ افسرانو، چه په شامی روډ باندے ئے کوم دفتر دے، هغے ته د ضلع دیر ټول ایم پی اے راغوښتی وو او مونږ ته ئے Criteria او Merit او چه څه د ډونر ایجنسئ طریقه کار دے، هغه ئے راته واورولو او په هغه بنیاد باندے ئے تجاویز زمونږ مخکښے ته کیښودل۔ زه دا هم د هغه پراجیکټ والا مشکور یم ځکه چه جناب منسټر خو تر اوسه پورے دا تکلیف نه دے کړے چه مونږه ئے راغوښتی وے او په دے پرائمری ایجوکیشن کښے چه څه کیږی، چه مونږ ئے د دے متعلق خبره باندے پوهه کړے وے او قابل افسوس خبره بیا دا ده چه د DDAC د ختمیدو نه پس د منسټرانو مونږه راغوښتل او زمونږ سره مشورے کول او زمونږ پوهه کول نور هم زیات ضروری وه۔ د DDAC متعلق، چه په هغه باندے عملدرآمد نه کیږی چه کوم آرډیننس ختم شوے دے، مونږه ستاسو په سیکریټریټ کښے تحریک استحقاق وړاندے کړے دے، انشاء اللّٰہ په هغے باندے به خبره کوؤ خو د یو منسټر دا هم ذمه واری جوړیږی چه ټریژری بنچز سره سره د اپوزیشن بنچز پخپله باندے یا د خپلو افسرانو په ذریعه باندے هم په اعتماد کښ واخلی۔ قابل افسوس خبره دا ده چه نن مونږ ته وزیر تعلیم دا وائی چه تاسو لږ صبر اوکړئ نو ستاسو ټول مسائل به حل شی۔ مونږ لس میاشتے صبر اوکړو په هغے کښے خو د حل طرف ته مونږ څه پیشرفت او نه لیدو۔ چه "لږ صبر" دوئ څه ته وائی؟ "لږ صبر" نه پس خو زما په خپل خیال مسائل د دوئ هم حل کیږی۔ د حکومت د دے ګران بوجھ نه به زرد دوئ اُولی سپک شی ځکه چه کوم څه روان دی، د دے خو دغه اندازه ده۔ که دغه راته وائی خو دا بله خبره ده۔ په هغه میټنګ کښے جناب سپیکر، څه اکیس سکولونه، د هغه پراجیکټ

افسران، زه دا وایمه او دے فیصلے او ثبوت پیش کولو ته ورته تیاریمه چه یویشت د جینکو او د هلکانو پرائمری سکولونه From Primary to Middle، هغوی دا بالکل اوونیل او ما ته دا اوونیل او ما ته ئے دا شاباش راکړو چه مونږ ستا ممنون یو او مشکور یو او شاباش درکوؤ چه ته د خپلے حلقے په ترقیاتی منصوبه بندئ باندے ځومره زیات پوهیږے۔ چه د یوے خبرے نه هم هغوی انکار اونکړو او وئیل چه دا یویشت وانړه سکولونه به بالکل کیږی، خامخا به کیږی خو په راروانو درے کالو کښے به کیږی۔ نو په "راروانو درے کالو کښے" جناب سپیکر، د هغے مطلب دا وو چه په دے کال کښے زما د Up-gradation اووه سکولونه کیدل په هغه حساب باندے او دا شاباش ئے راته هم اوونے چه دومره پیسه ده، دومره فنډ دے چه ته ځومره دغه شان مسائل راوړے چه هغه په دے Criteria او Merit باندے Based وی نو مونږ به درته انکار نه کوو که هغه په Re-construction کښے وی که په Shelter List کښے وی که په Conversion کښے وی که په څه کښے وی۔ جناب سپیکر، خو چه کوم ما ته ټارګټ ملاو شو نو په هغے کښے بیا زما یو سکول وو، د هغے میټنګ او د هغه هر څه، نو ما دا ضروری اوګڼړله چه ستاسو په وساطت سره زه د جناب قابل احترام منسټر صاحب، او زه اوس په دے خبره مجبور یمه چه ستاسو په وساطت سره دا عرض اوکړم چه که دا ایجوکیشن منسټری، ځکه چه ډیرے ښه ښه منسټرئ نورے ډیرے شته، کار والا منسټری شته، که دے ته داسے یو منسټر ستاسو په مشوره سره حکومت ورمخکښ کړی چه هغه زمونږ سره مشوره کوی او دا ایجوکیشن منسټری ډیره زیاته Sensitive ده، ډیره زیاته Sensitive ده۔ مونږ چه کله ټرانسفر او د پوسټنګ په سلسله

کښیے راشو نو مونږ. به تاسو ته اوښایو جناب سپیکر، چه منسټر صاحب په بعض درخواستونو باندے څه قسم آرډر کړی دی، تاسو به حیران شئ۔ غالباً صبا د هغے ورخ راتلونکے ده، زه دا درخواست کوم جناب سپیکر، چه د هغه وخته پورے چه تر څو پورے چه د DDAC دغه نه وی شوے، زمونږ سره د برابر، زمونږ حق دے، زمونږ د خپلے ضلعی او د حلقے په بنیاد باندے مونږ د په اعتماد کښیے واغستے شو او زما سره چه پراجیکټ والا په میټنګ کښیے کومه وعده کړے وه، په دے کال کښیے د ما له د یویشت سکولونو په بنیاد، نور به له ورله ورکوم، اووه سکولونه راکړی او ما ته د ترجیحات پریږدی۔ د هغے وجه دا ده جناب سپیکر، پراجیکټ والا ټهیک ده، د هغوی به څه مجبوری وی خو زمونږ خپله هم څه مجبوری ده۔ نور څه خو په دے صوبه کښیے د ترقی نشته، صرف تعلیم دے۔ تاسو ته معلومه ده صرف د تعلیم په مد کښیے هغه هم د Donor Agencies and Foreign Aided Projects دی، نور هیڅ نشته۔ نور خو خیر خیریت دے، خیر ما او خیر شما۔ تاسو هم په خیر کښیے یئ جناب سپیکر او مونږه هم په خیر کښیے یو، څه شته دے نه، قلاره قلاری ده۔ نو زه دا درخواست کومه ستاسو په وساطت سره، زه دا ډیمانډ کوم، دا مطالبه کوم او په دے باندے زور ورکوم چه زما دا اووه وانړه سکولونه دی، د دے اکیس سکولونو د درے کالو د Proportion په بنیاد باندے د دغه هم منظور شی او باقی هغوی ته د دا اووائی چه کوم کار له مونږ راغواړی، صرف نشستاً، خورداً او برخاستاً د نه کوی چه د هغے نه پس د مونږ ته اووائی چه تاسو لاړشئ او راته وائی چه اووه سکولونه به کیږی او بیا راله یو سکول راوړی۔

Mr. Speaker: Honourable Minister, please.

جناب محمد ہاشم خان (وزیر تعلیم): جناب سپیکر ! د احمد حسن مشکور یو او
دوئ په خپل دے تقریر کنبے لکه خپلو خبرو کنبے هم دا اووئیل چه مونږه
مشکور یو چه مونږه پرائمری ایجوکیشن پراجیکټ والا راوغوښتوو او گله
نے ما نه اوکړه چه یره دوئ راو نه غوښتو، نو ما خو هم دے ډیپارټمنټ ته
وئیلی وو چه دا ایم-پی-اے راوغواړئ او دوئ سره کینئ او دوئ سره
خبرے اوکړئ- خو افسوس دا دے چه دے به لږ گله مند وی، خفه به وی، نو
که فرض کړه، هغوی راوغوښتو نو هغه زمونږ نوم نے ترے په شا کړو او هغه
کریډټ هغوی له ورکوی- بهرکیف مونږ خو کوشش دا کړے دے چه هر یو
ایم-پی-اے چه کوم د دے ایوان دے، هغه مونږ ته معزّز دے او مونږ ته گران دے
څنگه چه زمونږ د خپل ټریژری بنچز والا دی- بل دوئ سره زما خپل ذاتی
هم ښه تعلق شته- چه کله هم داسے مسئله د دوئ راغلے ده، هغه ورله مونږه
حل کړے ده- دوئ بیا په دے آخر کنبے اووئیل چه ما ته د مجبورئ هم پته
شته چه د هغه خپل دونړ والا مجبورئ دی- زمونږ د ډیپارټمنټ هم مجبورئ
دی او د ده هم مجبورئ دی- نو Three-year plan هغوی جوړه وی،
Three-Year plan هغوی جوړ کړے دے- هغے کنبے ئے د دوئ سکول
اچولے دے- یویشت سکولونه، لکه چه څنگه دوئ وائی، د هغے په حساب
کنبے دا دوئ چه څنگه اوفرمائیل پخپله چه زما ورسره اووه سکوله کیږی،
زه به انشاء اللّٰه دوئ د هغه خپل پرائمری ایجوکیشن پراجیکټ والا سره صبا
کینوم- د صبا نه پس که وائی چه د اسمبلئ سیشن نه بعد کینول غواړی، د هغے
نه پس به هغوی راوغواړم، دلته کنبے به ئے دے Assembly premises کنبے

کینوم، خبره د ورسره اوکړی۔ چه کوم ځائے کښے څه مشکلات وی، که مونږ حل کولے شو، انشاء الله مونږ به ئے ورله حل کړو او د دوئ دا مسئله به مونږه روانه کړو او دونږ چونکه ورلډ بینک والا پیسے ورکوی او هغه Five-Year یا Two-Year یا Three-Year Project وی، نو د هغوی هغه خپل مشکلات به هم که څه وینو، په هغے کښے به راسره دوئ مدد اوکړی، د هغے په لړے کولو کښے او چه څه مسئله د دوئ ده، هغه به اوکړو۔ باقی پاتے دوئ خبره کوی چه یره زمونږ مسئلے یا کارونه نه حل کیږی، نو وقتاً په وقتاً که دے کله راغلی دے نو مونږ ورله خپل پوره توجه ورکړے ده۔ که د هغه جونیئر کلرک په هغه میرټ لسټ کښے راغلے وو، ما ورله ټیلیفون هم کړے دے، ما ورله سړی ته لیکل هم کړی دی او ما ورسره پکښ پوره منډه تړه کړے ده، که نه وی نو ما ته به اووائی چه او نا۔ کم داسے وخت راغلے دے چه مونږ دوئ سره کمک نه وی کړے۔ انشاء الله بیا به هم کوو، زمونږ روردے۔ نن مونږ دلته یو، صبا به هلته یو۔ پرون دوئ په دے بنچز باندے وو، نن مونږه د هغوی په بدل کښے راغلو۔ نو دا خو د ارهټ لوټکی دی، اوړی راوړی کنه جی او۔ نو دغه خبره به نه وی۔ زمونږ خپل ذاتی به یو بل سره به ښه تعلق ساتو۔ دا ټول اراکین چه دی، دا مونږ ته معزز دی او زمونږه رونړه دی، د سر ګلونه مو دی۔

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! تاسو خوږه خبره غواړئ او ما همیشه د خوږے خبرے کولو کوشش کړے دے۔ نن وایم چه خدائے دِ اوکړی چه دا وزیر تعلیم دغه شان خوږ پاتے شی لکه نن چه د خپل ضرورت په بنیاد یا زمونږ د ضرورت په بنیاد باندے خوږ وو ----

وزیر تعلیم: سپیکر صاحب! چل م دده نه زده کړے دے-----

جناب احمد حسن خان: جناب سپیکر! چه چل تے زما نه ایزده کړو؟ نو د نن نه پس دے زما شاګرد شو، با ادب به اوسی کنه، بیا به ورسره خبره کوم- ډیره مهربانی-

Mr. Speaker: Mr. Abdur Rehman Khan, MPA, to please move his 'Call Attention Notice' No. 173. Mr. Abdur Rehman Khan!

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر! "میں آپ کی توجه فوری اور مفاد عامه سے متعلق ایک اہم مسئلے کی طرف مبذول کرانا چاہتا ہوں اور وہ یہ ہے کہ حیات میڈیکل کمپلیکس میں بھرتیاں میرٹ کے خلاف ہوئی ہیں جس کی وجہ سے مستحق افراد میں مایوسی اور بے چینی پھیل گئی ہے اور امن و امان میں خلل پڑنے کا خطرہ ہے، لہذا اس پر بحث کی جائے"۔

جناب سپیکر! حیات کمپلیکس چه دے، دا زمونږه حیات آباد کښے دے او په دے کښے زمکے د خلقو نه ډیرے ارزانے اغستے شوی دی او د هغه زمکو په عوض کښے کلاس فور، پکار ده چه نورڅه مراعات هغه خلقو له ورکړے شی، خو په موجوده وخت کښے هغه خبره صحیح شوے نه ده بلکه مونږ له چه څوک راغلی دی، زمونږ د موجوده حکومت پالیسی دا وه چه په میرټ، نو هغے کښے د میرټ خلاف هم کار شوے دے، نو ستاسو په وساطت زه د وزیر موصوف په خدمت کښے دا عرض کوم او ما ورته زبانی هم وئیلی دی چه حیات کمپلیکس کښے کوم د میرټ خلاف ورزی شوی دی نو پکار ده چه هغه لرے کړی- کلاس فور نه بره تر فانیو پورے پکار ده چه حیات آباد کمپلیکس متاثرینو له ورکړے شی او د هغے نه بره د میرټ خاص خیال اوساتلے شی- نو ستاسو په خدمت کښے دا عرض دے، وزیر موصوف صاحب

د په دے خبره اوکړی چه هغه سره داولے شوی دی؟

جناب سپیکر. جی، آنریبل منسٹر صاحب!

جناب ثناء اللہ خان میاخیل (وزیر صحت)، جناب سپیکر! اس سلسلے میں عرض یہ ہے کہ جیسے انہوں نے کہا ہے کہ Appointments purely on merit کی جائیں تو اس کیلئے باقاعدہ Advertisements ہوئی ہیں اور انٹرویوز کیلئے Calls بھیجی گئی ہیں۔ اس میں چونکہ بہت زیادہ لوگوں نے Apply کیا تھا تو اس میں Written test لیا گیا ہے From Grade-5 and above اور اس Written test میں ہر ایک پوسٹ کیلئے ٹاپ پر آنے والے پانچ افراد، ہر ایک پوسٹ کیلئے انہوں نے ایک Criteria select کیا تھا کہ ہر ایک پوسٹ کیلئے پانچ آدمی کیونکہ ہزاروں کی تعداد میں لوگوں نے شرکت کی تھی، تو ہر ایک پوسٹ کے Against پانچ آدمیوں کو جنہوں نے ٹاپ پر نمبرز لئے تھے، انٹرویوز کیلئے کال کیا گیا اور اس کے بعد باقاعدہ ایک کمیٹی مقرر ہوئی، جس میں ہر ایک شعبے کے سپیشلسٹ ڈاکٹرز یعنی جس جس شعبے سے ان پوسٹوں کا تعلق تھا اور وہ ڈاکٹرز جو ڈیپارٹمنٹ کے ہیں، کو اس کمیٹی میں رکھا گیا اور ان کی موجودگی میں انٹرویوز ہوئے ہیں اور میرٹ کی بنیاد پر لوگوں کو بھرتی کیا گیا ہے۔

حاجی عبدالرحمان خان. پوائنټ آف آرډر۔ جناب سپیکر صاحب! د دے کلاس فورکوم میرټ دے؟ کلاس فور خو زمونږ د زمکو حق دے۔ هغه خو مے دعویٰ ده چه چا زمکه ورکړے ده، هغه به د هغوی نه اخلی۔ بحث اوږدوو نه، صاحب، تحقیق اوکړه۔ ما درته یوه خبره په نوټس کښے راوسته که په میرټ شوے وی ----

جناب سپیکر. تحقیق کرلیں جی، آپ تحقیق کرلیں۔

حاجی عبدالرحمان خان. نو ما ته به اووائی چه په میرټ شوی دی؟ کلاس فور د

خلقو حق دے، هغه به ورکوی۔ د دغے نه سوا به بل سړے، مونږ دے ته

نه يو ----

ب سپیکر: آپ ایک انکوائری کرا لیں اور اگر اس میں میرٹ کے خلاف کچھ ہوا ہو تو

آپ ایکشن لیں۔

) عبدالرحمان خان: نو بس، دا بحث اوږدوو نه، ختموو ئے۔ کلاس فور د

نو حق دے، هغه به ورکوی او نور میرټ به مونږ ته لږ کیعنئ۔

صحت: جناب سپیکر! میں اپنی بات پر آ رہا تھا۔ میں عبدالرحمان خان کو جواب دینا

ا ہوں کہ یقیناً کلاس فور کی جو میرٹ ہے، وہ کم از کم یہ ہے کہ Apparently وہ بیمار

۔ یا اور کچھ اس کے علاوہ اس میں میرٹ کی کوئی خاص بات نہیں ہے۔ کلاس فور کے

تی میں ان کے ساتھ اتفاق کرتا ہوں کہ اس میں کوئی خاص میرٹ یا Criteria نہیں

۔ لیکن جن لوگوں کا میں نے کہا ہے یعنی Grade-5 and above تو وہ میرٹ پر

تی ہوتے ہیں اور ان کیلئے وہ Open option ہے -----

ی عبدالرحمان خان: جناب! هغه به ورته زه په ګوته کړمه، د دغے جواب نه

و ----

برصحت: جناب! اگر یہ اس میرٹ کو دیکھنا چاہتے ہیں تو بے شک دیکھ لیں، وہ ان کیلئے

ت ہے اور اگر کہیں پر بھی کوئی زیادتی ہوئی ہے، تو اس کو ہم Rectify بھی کریں

ے اور ان کو سزا بھی دیں گے۔

ی عبدالرحمان خان: دفتر کښے به ورسره ملاؤ شو، بس ټهیک شوه۔(تالیاں)

Mr. Speaker: Mr. Akram Khan Durrani, MPA, to please move I

'Call Attention Notice' No. 175.

اب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب! "اسمبلی کی کارروائی روک کر ایک اہم اور

فوری نوعیت کے مسئلے کی طرف ایوان کی توجہ دلانا چاہتا ہوں اور وہ یہ ہے کہ کوہاٹ جیل سے گندے پانی کا جو نکاس ہے باہر کی طرف تو اس کیلئے نہ کوئی نالہ بنایا گیا جس سے کہ گندا پانی نکلتا ہو۔ وہ پانی جیل کے قریب، جس کے ساتھ کافی آبادی ہے، جمع رہتا ہے اور نکلنے کا کوئی بندوبست نہیں جس سے سڑک پر آنے والے مسافروں اور مقامی آبادی کو انتہائی تکلیف ہوتی ہے' لہٰذا اس پر بحث کی اجازت دی جائے"۔

جناب سپیکر صاحب! دا د کوهاټ جیل چه جوړ شوے دے، د هغے د نکاس هیڅ قسم څه بندوبست نه دے شوے۔ د جیل نه چه کومے اوبه راوځی، ورسره قیمتی زمکے دی، ورسره خلق آباد دی، نو که تاسو چرته داسے په دے روډ باندے لاړشئ او کله چه د کوهاټ جیل ته راورسئ نو په هغه سړک باندے به دومره بد بو وی چه ته به شیشے بندوے او نه شے پرے راتلے۔ ورسره هلته په لکھونو قیمتی آبادی پراته ده، په هغے کښے آبادی د دے گنده اوبو نه نه شی کیدلے۔ نو پکار دا دی چه د دے نکاس څه ذریعه جوړه شی او که چا دا سنگینه غلطی کړے ده، پکار دا دی چه چرته هم آبادی کیږی نو د هغے د پاره څه د نالو د اول نه انتظام شوے وی، نو زما Request دا دے چه دے ته دِ خصوصی توجه ورکړے شی او هلته د دے دا گنده اوبه چه دی، د کوهاټ جیل او ورسره د آبادئ خلقو ته تکلیف دے، ورسره هلته ----

جناب سپیکر، دا جواب به څوک ورکوی؟ جیلخانه جات والا به ورکوی، که سی اینډ ډبلیو والا به ورکوی؟

جناب اکرم خان درانی، دغه جیل خو جی سی اینډ ډبلیو جوړ کړے دے، پکار دا وو چه سی اینډ ډبلیو د اول نه د دے لحاظ ساتلے وے چه اوبه نے ویستلے وے۔

ملک نقیب اللہ خان، زما خیال دے، د دے به هوم ډیپارټمنټ جواب ورکوی۔

جناب اکرم خان درانی، نو د سی اینډ ډبلیو د منسټر صاحب نه زموږ Request دے چه د دے څه حل اوکړی۔ هلته خلق ډیر پریشانه دی۔

جناب عبدالسبحان خان، سپلیمنٹری، سر۔

جناب سپیکر، سپلیمنټری کوئسچن دے؟ (قہقہے/شور)

جناب پیر محمد خان، سپلیمنټری نشته۔

جناب عبدالسبحان خان، سر! تاسو ته خو، دے باره کښے، ډیره مینه مو همیشه کړے ده که زموږ د مردان یوه خبره مو پکښې اوکړه نو -----

جناب سپیکر، نو سپلیمنټری خو دے کښے نشته کنه جی، دا خو کال اټینشن دے ----

ملک نقیب اللہ خان، اجازت جوړ ورکوی، زما خیال دے۔

جناب عبدالسبحان خان، شعر راباندے نن مه وایه۔ ډیره مهربانی، شکریه جی۔ محترم سپیکر صاحب! زما سوال خو به راځی د لوکل باډیز سره جی، د نکاس مسئله ده ----

جناب سپیکر، هغه به بیا هم هغه ساعت اوشی کنه جی۔ د لوکل باډیز وخت کښے به تے اوکړو جی، بالکل به ئے اوکړو جی۔

جناب عبدالسبحان خان، ٹھیک شوه جی۔

جناب سپیکر، جی، منسٹر صاحب۔ آنریبل منسٹر صاحب!

جناب یوسف ایوب خان (وزیر مواصلات وتعمیرات)، تھینک یو۔ سپیکر صاحب! اس کا تعلق تو ہوم ڈیپارٹمنٹ کے ساتھ ہے لیکن میں کوشش کرتا ہوں جی۔ یہ واقعی پرابلم ہے

جیساکہ درانی صاحب نے فرمایا ہے۔ اس گندے پانی کو پکے نالے تک لے جانے کیلئے سی اینڈ ڈبلیو نے تقریباً سولہ لاکھ، پچاس ہزار روپے کا Estimate لگایا ہوا ہے تو گورنمنٹ کوشش کر رہی ہے کہ کسی طرح سے فنڈز کی Arrangement ہو جائے تاکہ اس کو بنایا جاسکے۔ This problem is there, we agree to that.

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب! لکه هر یو ډیپارټمنټ ته پکار دی چه کله منصوبه بندی کوی، په هغه وخت باندے د هغے طریقه جوړه شی۔ اوس یو سکیم دے، په هغے باندے کروړونه روپئ لګیدلی دی، په هغے کښے قیدیان هم په تکلیف دی، بهر آبادی هم په تکلیف ده، نو که چا هم دا سنګینه غلطی کړے وی نو پکار دا دی چه اول خو هغے خلقو ته چه چا دا غلطی کړے ده، څه سزا ملاو شی۔ دا اوس که نوے سوله لاکه روپئ پرے لګولی وی نو هغه مخکښے پیسے چرته لاړے؟ نو مونږ وایو چه مخکښے کوم ډیزائن شوے دے، په حقیقت کښے په هغے وخت کښے پکار وو چه د دے نکاس ئے انتظام کړے وے او که اوس دوئ سره څه طریقه وی نو مونږ هم غواړو خو یقین دهانی د راکړی چه کله به کار پرے شروع شی؟

وزیر آبپاشی و آبنوشی: سپیکر صاحب! دا عرض کوم چه کله جیل جوړیدو نو د دیوال سره ئے پخه نالئ هم جوړه شوے وه او د جیل دیوال نه اته ګزه لرے په مین روډ باندے یو پُل وو خو په 1994 کښے چه کوم وخت نیشنل هائی وے والو چه کار شروع کړو نو هغه پُل بیا هغوی نه دے صحیح جوړ کړے۔ هغے د پاره ما ته دا لیکل ملاو شوی دی، 1994 کښے هغوی ته مونږ دا وئیلی دی چه دا پل ټهیک کړی۔ هغوی اوسه پورے، 1997 شو، دا د محکمے غلطی ده، پکار داوه چه دوباره ئے Contact کړے وو۔ د سی اینډ ډبلیو منسټر صاحب هم

ناست دے، انشاء اللّٰه Contact به هم اوکړی۔ کوشش به کوؤ چه هغوی اوکړی نو انشاء اللّٰه دا حکومت به اوکړی۔

جناب اکرم خان درانی: سپیکر صاحب! صرف منسټر صاحب په نوټس کښې راولم چه څنګه تکلیف چه په کوهاټ کښې دے، لکی هسپتال نه هم ګنده اوبه څلورو طرفونو نه ورځی که ورسره ورسره د لکی هسپتال انتظام هم اوشی۔

Mr. Speaker: Mr. Ghafoor Khan Jadoon, MPA, to please move his 'Call Attention Notice' No. 202.

جناب غفور خان جدون: شکریہ۔ جناب سپیکر! "آپ کی اجازت سے حکومت کی توجہ اس طرف مبذول کرانا چاہتا ہوں کہ کامرس کالج بام خیل، صوابی کے طلباء کا مطالبہ ہے کہ اس کالج کو ڈگری کا درجہ دیا جائے۔ اس سلسلے میں طلباء نے مظاہرہ بھی کیا تھا اور مقامی انتظامیہ نے طلباء کو یقین دلایا تھا کہ ان کا یہ جائز مطالبہ حکومت کے نوٹس میں لایا جائے گا۔ یہ ایک قومی مفاد کا مسئلہ ہے اور اسے حل کرنے کی طرف توجہ دلائی جائے"۔

جناب سپیکر صاحب! دے کالج نه په سن 1996 کښې تقریباً پچاس هلکان پاس شوی وو او بیا په مردان کښې صرف اووه هلکانو ته په بی۔کام کښې ایډمیشن ملاو شو او بیا په 1997 کښې اتسته هلکان پاس شوی دی او اوسه پورې هیڅ چا ته داخله نه ده ملاو شوې۔ دا کالج چه کوم دے، دے کښې هیڅ څه Finance involve نه دے کمرې پکښې پوره دی، استاذان پکښې پوره دی، استاذان وائی چه په دغه سټاف باندې مونږ بی۔کام ته کلاسونه ورکولے شو جی۔ د کمرو جوړولو ضرروت پکښې نشته۔ دے به اوس وائی چه فنانس پکښې Involve دے، فنانس پکښې بالکل Involve نه دے او که دا Justify

کوی جی نو مهربانی د اوکړی چه نان اے۔ډی۔پی لاندے د فوری طور باندے دے له د دګری درجه ورکړی او دا اُنستهٔ هلکان چه کوم دی، که دوئ داخلے نه شی ورکولے نو پکار دی چه فوری طور په مردان کښے یا په نوښار کښے دوئ له د د ایډمیشن بندوبست اوکړی۔ اول خو زما به دا Request وی، چیف منسټر صاحب هم ناست دے، پیسه پکښې Involve نه ده، هغه سټاف، هغه کمرے، هیڅ ضرورت ورته نشته نو مهربانی اوکړئ، دے صوابئ سره دِ مهربانی اوکړی جی او دے له د فوری طور نن د دګری اعلان اوکړی۔ هغه استاذان، پرنسپل صاحب سره ما نن خبره کړے ده، هغوی وائی راتلونکی لسو کالو کښے مونږ ته ضرورت نشته۔

<u>وزیر تعلیم</u>: جناب سپیکر صاحب! غفور جدون صاحب ته خو د دے کال اټینشن د راتلو نه مخکښے ما عرض اوکړو چه Financially حالات ښه نه دی، چه کله هم انشاء اللّٰه تعالیٰ Financial crisis کم شو، ختم نه، چه کم شو نو انشاء اللّٰه مونږ به د دوئ د دے کالج د پاره بندوبست اوکړو۔ دوئ وائی چه دے موجوده سټاف باندے چلیدے شی نو ما ډائریکټر ټیکنیکل راغوښتے دے، دا چه اوس څنګه دا کال اټینشن ختم شی، ما او دے به بهر لاړ شو، ورسره به کینو، خبره به ورسره اوکړو۔ چه څه کیدے شو، انشاء اللّٰه د هغے لائحه عمل به مونږه جوړ کړو که خیر وی، انشاء اللّٰه تعالیٰ۔

<u>جناب عفور خان جدون</u>: زه سپیکر صاحب، ستاسو په وساطت ده ته دا یقین دهانی ورکوم، نه پکښې فنانس Involve دے، نه پکښې سټاف Involve دے۔ ګوره پیسے پکښې Involve نه دی، سټاف پکښې Involve نه دے، زه وایم په دغه سټاف باندے دا کلاسونه شروع کیدے شی۔ مسئله ده، پرون نه هغه بله

ورځ نے درے گھنټے صوابی۔ټوپی روډ بند کړے وو، پرون ئے بیا بند کړے وو، نن به ئے بیا بند کړے وی۔ مسئله دا ده چه فنانس پکښ نه دے Involve، پیسه پکښ نه ده Involve، کمرے پکښ نه دی Involve، ټیچر پکښ نه دی Involve، هغه سټاف ئے کوی، لیکلی هغوی راکړی دی۔ هیڅ قسم مسئله نشته، نو مهربانی اوکړئ -----

<u>جناب سپیکر</u>: هاشم خان! تاسو داسے کار اوکړئ، تاسو د دے پته اولګوئ که دوئ داسے سټیټمنټ ورکوی په هاؤس کښے چه په هغے کښے فنانشل هډو څه مسئله شته نه نو خپل سټاف راوغواړی، چه سټاسو Concerned څوک افسر وی ----

<u>وزیر تعلیم</u>: سپیکر صاحب! قطع کلامی دِ معاف وی، جی راغوښتے مے دے، د دے ور په شا ناست دے خو صرف دومره د تکلیف اوکړی چه ما سره لاړ شی او هغه ته ئے مخامخ کړم۔ که واقعی دغه شان وی، مونږ به ورله یقین دهانی ورکړو۔

<u>جناب غفور خان جدون</u>: سپیکر صاحب! دا کال اټینشن نوټس په دغه ورکړے وو نو دوئ له پکار نه وو چه درے ورځو کښے ئے پرے دوئ میټنګ کړے وے، زه ئے راغوښتے وے؟ عرض دا دے جی -----

<u>وزیر تعلیم</u>: سپیکر صاحب! دا توجه دلاؤ نوټس خو نن ملاؤ شوے دے مونږ ته، نن ورځ -----

<u>جناب غفور خان جدون</u>، زما عرض واورئ جی، دا کوره ما سره لیکلی پراته دی، زه دا وثوق سره وایم جی -----

<u>جناب سپیکر</u>، غفور خان، غفور خان، اوس په ما خبره مه کوه، دا نور ممبران

به خفه شی چه دَ ده دِ مخکښې کړے دے او زمونږ دِ روستو کړی دی- (قہقہے)

جناب عفور خان جدون: یره سپیکر صاحب، ته خو محترم نے او کوره ستا مثال زمونږ په دے صوبه سرحد کښ ملاوېږی نه- وایم سپیکر صاحب، د فراخ دلئ نه تا اکثر کار اخستے دے، هغه شان داخل هم ---- (قہقہے)

## قرار دادیں

Mr. Speaker: Mr. Najmuddin Khan, MPA, to please move his Resolution No. 48.

(تالیاں)

جناب نجم الدین: اعوذ بالله من الشیطٰن الرجیم- بسم الله الرحمٰن الرحیم-

(قطع کلامی)

جناب عبدالسبحان خان: بیا جی هغه کلمه ده- ما چه ورته هغه بله ورخ کلمه ٹھیک کړے وه نو بیا ئے هیره کړے ده جی-

جناب نجم الدین: نصر من الله و فتح قریب- قرارداد نمبر 48- "یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے (سر، دے کښې ئے دا شے غلط لیکلے دے) سفارش کرتی ہے کہ وہ وفاقی حکومت سے اس امر کی سفارش کرے کہ صوبہ پنجاب، سندھ اور بلوچستان کے ناموں سے وہاں کے عوام کی اندرون اور بیرون ملک شناخت ہوتی ہے جبکہ شمال مغربی سرحدی صوبہ کے نام سے یہاں کی صرف جغرافیائی حدود ظاہر ہوتی ہیں جو صوبے میں رہنے والوں کی شناخت کا ذریعہ نہیں ہے، لہٰذا آئین میں ترمیم کرکے شمال مغربی سرحدی صوبے کا نام "پختونخوا" رکھا جائے۔

(تالیاں)

جناب سپیکر: دا Resolutions چونکه Identical دی نو تاسو یو منټ کینئ چه

دا نور هم پیش کړی نو بیا به تاسو پرے خبرے اوکړی۔

جناب نجم الدین: ښه جی، نور چا هم پیش کړے دے؟ ما خو وئیل چه یوازے زما دے۔ زما خیال دے---- (قہقہے)

Mr . Speaker: Mian Iftikhar Hussain , MPA , to please move his Resolution No. 57.

(تالیاں)

میاں افتخار حسین: جناب سپیکر صاحب! "یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ وہ وفاقی حکومت سے اس امر کی سفارش کرے کہ جس طرح ملک کے دوسرے صوبوں کے نام وہاں کے رہنے والے لوگوں کی پہچان کیلئے کافی ہیں جیسا کہ پنجاب، سندھ اور بلوچستان، تو اسی طرح ہمارے صوبے کا نام بھی یہاں کے رہنے والے لوگوں کی پہچان کیلئے اور عوام کے حق کو تسلیم کرتے ہوئے آئین میں ترمیم کر کے شمال مغربی سرحدی صوبے کا نام "پختونخوا" رکھا جائے"۔ (تالیاں)

Mr . Speaker: Haji Muhammad Adeel , MPA , to please move his Resolution No. 57.

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! "یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ وہ وفاقی حکومت سے اس امر کی سفارش کرے کہ چونکہ اس صوبے کے موجودہ نام کی کوئی تاریخی، ثقافتی اور لسانی حیثیت نہیں ہے بلکہ اس سے صرف علاقے کا جغرافیائی محل وقوع ظاہر ہوتا ہے، لہذا آئین پاکستان کے آرٹیکل 1، کلاز (2) (اے) میں ترمیم کر کے شمال مغربی سرحدی صوبہ کی بجائے "پختونخوا"، جو کہ اس علاقے کا پرانا تاریخی نام ہے، رکھا جائے۔ (تالیاں)

Mr . Speaker: Mohtharma Bagum Naseem Wali Khan , MPA , to

please move her Resolution No. 58.

(تالیاں)

بیگم نسیم ولی خان: مهربانی سپیکر صاحب، زه ستاسو ډیره مشکوره یمه- سیکرټریټ نه یوه گله کومه چه زه قرارداد پښتو کښے ورکومه، هغه ما له قرارداد په اُردو کښے راکوی- زه په دے مجبوره یم چه دا اُردو قرارداد په پښتو کښے ترجمه کړم- که د لفظونو څه اخوا دیخوا کمی وی نو ستاسو نه او د ټول هاؤس نه به مخکښې معافی اوغواړم-

"دا صوبائی اسمبلی د حکومت نه سفارش کوی چه هغه دِ وفاقی حکومت ته د دے امر، د دے خبرے سفارش اوکړی چه د صوبه پنجاب، صوبه سندھ، صوبه بلوچستان د نومونو په شان، چه هلته د عوامو نومونه د هغوی د صوبے د نوم سره مطابقت لری، داسے دِ زمونږ د دے صوبے نوم چه زمونږ د وجود، زمونږ د نوم سره او زمونږه د شناخت سره مطابقت لری، دِ شمال مغربی سرحدی صوبے په ځائے صوبه "پختونخوا" کړی- (تالیاں)

جناب سپیکر: نورکه څوک خبرے کول غواړی- د Movers خبرو نه بعد چه څوک څوک پرے خبرے کول غواړی- مسټر نجم الدین خان، پلیز-

جناب نجم الدین: جناب سپیکر صاحب! ډیر د خوشحالئ مقام دے-----

جناب سلیم سیف اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! زما یو گزارش دے چه چا دا ریزولیوشن Move کړے دے جی هغوی ته خو هم حق ملاویږی لیکن میں بھی اس پر بولنا چاہوں گا-

جناب سپیکر: ورله به کړو جی، ټولو ته به ورکړو جی-----

جناب سلیم سیف اللہ خان: مجھے بھی وقت دیا جائے-

جناب سپیکر: لږ لږ وخت به ورکړو، بالکل جی، بالکل به ورکوؤ۔

جناب نجم الدین: جناب سپیکر صاحب! -----

ملک جهانزیب: نجم الدین خان بسم اللّٰه هم اوکړه او ترجمه ئے هم اوکړه---

جناب نجم الدین: بسم اللّٰه خو مے کړے ده یوخل- سر! مونږ خو به ډیر ټائم اخلو، دا د چا چه قراردادونه نشته دے، دا د لږ لږ واخلی-

جناب سپیکر: ته بالکل Mover یے، ته Mover یے، ستا ټائم زیات دے-

جناب نجم الدین: دا کوم قرارداد چه پیش شوے دے جی، دا د دے صوبه سرحد د نوم متعلق دے او د ډیر وخت نه د خلقو دا مطالبه وه څکه چه په سنده کښې سندهیانو ته د سنده نوم ایښودے شوے دے، بلوچیانو ته د بلوچستان نوم ایښودے شوے دے، پنجاب ته د پنجاب نوم ایښودے شوے دے لیکن زمونږه د صوبے دا بدقسمتی ده چه هغه جغرافیائی حالات داسے معلوم کړی دی، شمال مغربی صوبه سرحد یا North West Frontier Province چه دا بالکل جی زمونږه د دے پښتنو هغه شناخت د دے سره ورک دے- زه په دے سلسله کښې خبره کومه، زما د پارټئ یو خپل Clear cut role دے جی- مخکښې هم پاکستان پیپلز پارټی په دے ایوان کښې د میر افضل خان په وخت کښې د دے قرارداد حمایت کړے وو او دا خلے بیا پاکستان پیپلز پارټئ هغه پخپله باندے هم پیش کړے دے او انشاء اللّٰه تعالیٰ د دے قرارداد مونږه ښه په کهلاؤ ذهن باندے حمایت کوؤ او د هغے څه وجوهات دی- وجوهات دا دی چه زمونږ د دے صوبے د نوم سره کم از کم د دے دا تبدیلی پکار ده- زمونږه هم یو شناخت شته، مونږ پښتانه یو او د هغه پښتو په لیول باندے د دے په داسے طریقه باندے نوم کیښودل غواړی چه د هغه سره خبره اوشی جی- زه عرض

دا کوم، زه زیات تقریر نه کوم خو دومره قدرے ته وایمه چه د پختونخوا په مسئله کښے مونږه ځکه دے پختونخوا ته خبره ایښودے ده چه په دے مسئله باندے د اے این پی او د مسلم لیګ یو Written agreement هم پروت دے۔ د اخبارونو په ذریعه باندے مونږ ته پته لګیدلے ده۔ د موجوده حکومت په دے د یو بل سره اتحاد هم دے۔ د دوئ په دے صوبه کښے د Two-third majority نه زیاته Majority شته دے جی او په مرکز کښے هم د آئین ترمیم، تاسو ته ښه پته ده چه په مرکز کښے په نیمه ګهنټه کښے دننه ترمیم کیدے شی، په نیمه ګهنټه کښے، ډیر ټائم هم نه اخلی۔ پینځه منټه په بعض ترمیم باندے اولګی، یو دوه درے ترمیمونه شوی دی۔ زما خپل دا درخواست دے چه دوئ د دغه ایګریمنټ تحت، د دوئ د اتحاد د وجه نه چه دوئ په خپل مینځ کښے اتحاد کړے دے، دے خبرے له ډیر طول ورکول نه دی پکار، دا زمونږ مطالبه ده او دے له په دے طریقه باندے کارکول غواړی چه دا متفقه طور د دے صوبائی اسمبلئ نه دا قرارداد هم پاس شی او مونږه خصوصاً بیګم صاحبے ته درخواست کوو، دا درخواست ورته کوؤ چه په مرکز کښے د دوئ هم اتحاد دے او هلته په مرکز باندے دوئ پرے ډیر زور راولی چه دا آئینی ترمیم اوکړی او د دے صوبے نوم پختونخوا کیږدی جی۔ که چرے دا او نه شی، ما خو تاسو ته دا اووئیل چه زمونږه هغه شناخت ورک شوے دے۔ زه ستاسو په وساطت سره د دے صوبائی اسمبلئ ممبرانو ته خصوصاً مسلم لیګ ته، اے این پی ته، چه د دوئ په هغه باندے مخکښے Agreements شوی دی، دا څه پټه خبره نه ده، په اخبارونو کښ راغلی دی، Agreements شوی دی او د هغه Agreements تحت د دوئ د حکومتونو اتحاد جوړ شوے دے، په هغے باندے

د دوئ سوچ اوکړی او دا هم درخواست کوم چه دا یوه اهم مسئله ده، د صوبې یوه اهم خبره ده، پکار دا وه چه نن ټوله ورځ مونږه دے له ورکړے وے او هر ممبر ته په دے باندے خبرے کولو موقع ملاو شوے وے۔ خو تاسو اوس هم د انصاف په کرسئ ناست یئ، زما اوس هم دا یقین دے چه هر ممبر ته په دے باندے د خبرو کولو اجازت ورکړئ او د هر یو رائے معلومه کړئ او د دغه رائے مطابق د دے صوبې نوم پختونخوا کیږدئ سر۔ ډیره مهربانی۔ (تالیاں)

Mr. Speaker: Haji Muhammad Adeel, please.

حاجی محمد عدیل: بسم الله الرحمٰن الرحیم۔ جناب سپیکر! شاید میں تو اب تقریر کرنا بھول گیا ہوں لیکن کوشش کرونگا۔ جناب سپیکر! ہمارے آئین کے جو آرٹیکلز -----

جناب سپیکر: سوری حاجی صاحب، میاں افتخار صاحب کا نمبر تھا۔ I am very sorry. جی میاں صاحب!

میاں افتخارحسین: شکریه سپیکر صاحب، زه ډیر مشکور یم۔ ما وئیل چه زما نمبر خطا شو خو بهرحال زه ستاسو ډیر زیات مشکور یم چه تاسو ما ته موقع راکړه۔ او رښتیا خبره دا ده چه د پختونخوا په حواله باندے دلته کښې خبره د نجم الدین د طرف نه چه اوشوه، په هغې باندے د هغه شکریه ادا کوؤ او ډیر خوشحاله یو۔ ځنګه چه دوئ اووئیل چه متفقه طور، نو یقیناً چه دا زمونږ د دے سیمے اسمبلی ده او د هر چا نه طمع او توقع کیدے شی چه هغه د دے خلقو د جذباتو ترجمانی اوکړی او ځنګه چه د دے خاورے نوم تاریخی طور پختونخواه دے، پکار دا ده چه مونږه ټول په هغې باندے متفقه طور رائے ورکړو۔ سپیکر صاحب! حقیقت دا دے چه مونږه هغه خلق یو چه د دے وطن په نقشه خپل نوم غواړو۔ نو دا داسے یوه خبره ده چه که ماشوم پیدا شی نو

بغير نومه لا تر اوسه پورے چا ماشوم ليدلے نه دے۔ نو داسے خاوره چه هغه د صدو راسے بغير نومه پرته ده بلکه د صدو خو نه، خو صدئ به ورته اووايو خکه چه د انګريز د طرف نه دا نوم راکړے شوے وو او يو وخت داسے راغلو چه د پاکستان دا ټولے صوبے يو شوے او دے ته به تے مغربی پاکستان ونيل، د يوے صوبے شکل ئے ورله ورکړو خو چه کله بيا دا خپل حقيقی شکل ته راتلل نو افسوس خبره ده چه نورو له خو تاريخی نومونه ورکړے شو خو ما ته د انګريز هغه ميراث پاتے نوم بيا راکړے شو۔ نن مونږه د انګريز هغه طوق د غاړے نه اوباسو او مونږه وايو چه هغه تاريخی جبر چه په مونږه باندے شوے دے، د هغه جبر په مخالفت کښے مونږه وايو چه د دے خاورے نوم پختونخوا وو، پښتونخوا دے او ګرانو ملګرو نه طمع کوم چه هغوی به د دے په ترون او ملګرتيا کښے خبره کوی۔ سپيکر صاحب! زه د دے په حواله باندے يو څو تاريخی حوالے ورکول غوارم۔ ' ويد' د آريا يو قديمی مذهبی کتاب دے، په دے کښے د پښتنو د زمکے ذکر د ' پکهت ' په نوم شوے دے او وخت تيريدو سره سره هغے د پښتون شکل اختيار کړو او د هغے د دوو جلدونو انګريزی ترجمه مشهور محقق ټی ايچ ګرفتھ کړے ده چه د پښتون قوم په حواله پکښ ذکر شته او اوس هم ټول هغه کتے شی۔ دغه رنګ ' اوستا' د 1000 قبل مسيح يو کتاب دے په هغے کښے هم د پښتنو ذکر د پختونخوا په حواله باندے موجود دے او داسے د يونان يو مورخ هيرودوټس، بهرحال خير دے ' پختون ' نه دے، که نوم کښے ئے څه کمے بيشے راشی نو څه بديت ئے نشته، چه په 484 قبل مسيح کښے تير شوے دے، هم د پښتنو د سيمے نوم دلته کښ پختونخوا ليکلے دے، ذکر ئے کړے دے۔ داسے يو يونانی سياح سکائی

لارکس 486 قبل مسیح کښې په دے ځائے تیر شوے دے، هغه په خپل کتاب کښې د پختونخوا ذکر کړے دے او په دے حواله د جغرافیائی حواله ورکړو چه میکالے په تاریخ هیرودوټس جلد اول کښې د هغے د مسلمانانو د انسائیکلو پیډیا په نوم باندے کتاب کښې د دے ذکر شته دے او دغه رنګ سپیکر صاحب، د یونان مشهور جغرافیه دان بطلیوس چه هم د پکتیا ذکر د پختونخوا په حواله باندے کړے دے او داسے ځلور زره کاله په دے خطه کښې تاریخ موجود پروت دے چه د دے نوم چه دے پختونخوا وو او د پکتیا په نوم باندے چه رو رو هغے د 'پختونخوا' شکل اختیارولو۔ داسے سپیکر صاحب! یوه تاریخی حواله چه دولسمه صدی ورته مونږ وئیلی شو، سن 1197 کښې سلطان محمد غوری چه د پرتهوی راج سره چه کله جنګ کولو نو په هغے کښې زمونږ د پښتنو شاعرانو د 'پختونخوا' ذکر کړے دے۔ په هغے کښې دا وائی چه ــــ

د پختونخوا ښکلی زلمی چه زغلی هند ته

نو آغلیه پیغلے کاندی اتڼونه

دا د دولسمے صدئ خبره ده۔ (تالیاں) او بیا سپیکر صاحب، بابا هوتک چه په دیارلسمه صدئ کښې په 1241 کښې پیدا شوے وو، هم د مغلو خلاف چه کوم جنګونه کړی دی، په هغه زمانه کښې د 'پختونخوا' لفظ هغه په خپله شاعرئ کښې استعمال کړے دے۔ بهرحال زره شاعری ده، که په وئیلو کښې څه غلطی اوشی نو معافی غوارم۔ زه د تاریخی حقائقو د پاره هغه دلته کښې وارندے کومه ــــ

غښتلیو ننګ کړی دا مو وار دے

مُغل راغلے په تلوار دے

په پختونخوا کښے نے ناتار دے

دا د هغه وخت چه په پختونخوا تکلیف وو، هغه په دے باندے ذکر کړے دے او دغه رنګ ) کاظم خان شیدا په 1715 کښے چه پیدا شوے وو، د خپلے شاعرئ ذکر کړے دے او په هغے کښے نے د 'پختونخوا' لفظ استعمال کړے دے۔ په هغے کښې دی۔

د تمامے پختونخوا له شاعرانو

معزالله! عبدالرحمان دے منتخب

غرض دا ، دے خبرے نه به بیا سپیکر صاحب، په آخیره کښے زه دا خپله خبره داسے راغونده کړم چه زمونږه د پښتنو بابا، احمد شاه بابا چه کله د ایران، هندوستان او د برصغیر دا ټوله علاقه چه په دے باندے هغه دا ټول فتوحات حاصل کړل، نو هغه چه کله د دهلی په تخت باندے کیناست او دا ــــ هغه د پښتنو نیکه دے، چه په دے سیمه باندے د اسلام کوم خدمت شوے دے، د پښتنو کوم خدمت شوے دے او دا سیمه چه نے د مُغلو د غلامئ نه آزاده کړے ده، هغه احمد شاه بابا دے ته تاریخی نوم ورکوی او هغه فرمائی چه د دے نوم پختونخوا دے او په خپله شاعرئ کښے هغه ذکر کوی ــــ

د دهلی تخت هیره وومه چه را یاد شی

د خپل ښکلی پختونخوا د غره سرونه (تالیاں)

جناب سپیکر! د دے دومره تاریخی حوالو نه پس د دے خبرے وضاحت پکار دے چه د هر چا په ذهن دا خاکه کینی چه دا یو سیاسی یا د یو فرد مسئله نه ده، دا د یو قوم، د یو خطے تاریخی مسئله ده او پکار دا ده چه مونږ دِ په تنګ

نظری باندے نه، په وسیع النظری باندے اوگورو او چه نن په دے پاکستان کښے د نورو صوبو نومونه د قومونو په بنیاد باندے ایښودلے شوی دی، نو مونږه درخواست هم کوؤ او دے ټول ایوان ته وایو چه د دے وطن ډیرو ملګرو به دا مونږ ته وئیل چه دا ' پختونخوا' څنګه تاسو یادوئ، د دے خو به تاسو بل څه وئیل، نو نن د دے خبرے ضرورت پریوتو چه دا پختونخوا تاریخی‌حیثیت لری او مونږه غواړو چه د پښتنو د دے سیمے ټاټوبی نوم د خپل تاریخ په رنړا کښے کیښیودے شی چه سبا زمونږ نه خپل بچی تپوس کوی، راتلونکے نسل زمونږ نه تپوس کوی چه مونږه سرخرو یو او مونږه نن دا تاریخی فیصله اوکړو چه د دے خپلے صوبے نوم ' پختونخوا' کیږدو څکه چه دا د پښتنو د دے سمیے نوم دے۔ زه په دے یو څو اشعارو اجازت غواړم۔ وائی چه ــــ

زه یم پښتون زما په سر شمله ککه اوتړئ
پس له مرګه چه مے زنه په خاصه اوتړئ
دا مے د پلار نیکه یادګار دے چه ژوندے پاتے شی
خازے د قبر ته مے توره او نیزه اوتړئ
که په ژوندون مے پوره نه شو دا ارمان دے زما
د انقلاب جهنډا زما په جنازه اوتړئ

(تالیاں)

Mr. Speaker: Honourable Haji Muhammad Adeel Sahib.

حاجی محمد عدیل: جناب سپیکر! میں آپ کا مشکور ہوں۔ مجھ سے پہلے میرے دوست، میاں افتخار نے ' پختونخوا' کے تاریخی حوالے دئیے۔ تاریخ ہر مرتبہ نہیں لکھی جاتی اور ہو سکتا ہے

کہ تاریخی حوالے Repeat بھی ہوں۔ میں جناب نجم الدین صاحب کا بھی مشکور ہوں کہ انہوں نے 'پختونخوا' کے حق میں قرارداد پیش کی۔ جناب سپیکر! میں کوشش کروں گا کہ 'پختونخوا' کے حوالے سے اگر کسی لسانی گروہ کے ذہن میں کوئی کنفیوژن ہے تو اسے دور کروں۔ جناب سپیکر! سب سے پہلی بات کہ اس کی ضرورت کیوں پیش آئی ہے کیونکہ ہمارے آئین کے Article 1 (2) (a) میں ہمارے صوبے کا نام N.W.F. ہے یعنی North West Frontier اور 'Province' ہمیں کہنا پڑتا ہے لیکن پنجاب کے ساتھ ہم 'Province' نہیں کہتے، سندھ کے ساتھ ہم 'Province' کا لفظ استعمال نہیں کرتے اور بلوچستان کے ساتھ بھی ہم 'Province' کا لفظ استعمال نہیں کرتے لیکن ہماری مجبوری ہے کہ جب ہم 'North West Frontier' کہتے ہیں تو ہمیں مجبوراً 'Province' کہنا پڑتا ہے تو تب کسی کی سمجھ میں آتا ہے کہ یہ تو کسی صوبے کا نام ہے۔ جناب ایک دوسری جو غلط فہمی ہے جیسے کہ بعض لوگ کہتے ہیں کہ جی ہمارے صوبے کا نام تو سرحد ہے، جناب سپیکر، یہ Constitution جو آپ کے پاس ہے، اس Constitution میں 'سرحد' کا لفظ موجود ہی نہیں ہے اور جو حکومت یا حکومتیں 'سرحد' کا لفظ استعمال کرتی ہیں وہ Un-constitutional ہے۔ "فرنٹیئر" کا ترجمہ اگر سرحد کیا جاتا ہے تو پھر "پنجاب" کا Five water کرنا چاہئے اور آج تو صرف تین آب ہیں، دو دریا تو ہم نے دے دیے ہیں۔ جناب سپیکر! 'سرحد' کا جو لفظ ہے وہ Constitutional نہیں ہے اور جہاں کہیں بھی کسی نے 'سرحد' استعمال کیا ہے یا کہا ہے کہ ہمارے صوبے کا نام تو 'سرحد' ہونا چاہئے تو وہ Un-constitutional ہے۔ ہمارے صوبے کا نام اس Constitution میں بدقسمتی سے 'North West Frontier' یا 'N.W.F.' ہے۔ میں سمجھتا ہوں کہ یہ ہمارے ساتھ ایک بہت بڑی زیادتی ہے۔ پھر ہمارا آئین یہ کہتا ہے، اس کے Preamble میں ہے کہ یہاں اسلام ہوگا، اسلام کے خلاف نہ کوئی فیصلہ ہوگا اور نہ ہی کوئی قانون بنے گا۔ سوشل

جسٹس بھی ہوگا تو اسلامی روح کو دیکھ کر ہوگا۔ قرارداد مقاصد کو بھی اس میں شامل کر دیا گیا ہے۔ جناب سپیکر! پھر ہم قرآن کو سامنے لاتے ہیں کہ کسی قوم کا، کسی علاقے کا، کسی شخص کا، کسی شہر کا نام کیا ہونا چاہئے ایک اسلامی مملکت میں؟ تو جناب اسلامی مملکت میں ایسا نام ہونا چاہئے کہ جس سے اس کی شناخت ہو، اس کا کوئی ثقافتی، نسلی اور لسانی سلسلہ ہو۔ قرآن شریف میں ذکر ہے، اللہ تعالیٰ فرماتا ہے کہ اے انسانو! میں نے تمہیں ایک انسانی جوڑے، مرد و زن سے پیدا کیا ہے اور پھر تم کو شعوب اور قبائل میں تقسیم کیا ہے تاکہ تم آپس میں ایک دوسرے کو پہچان سکو۔ جناب سپیکر! اگر میں این۔ ڈبلیو۔ ایف ہوں تو میری کیا شناخت ہے؟ مجھے کون پہچانے گا؟ (تالیاں) میرا تعارف اور میری شناخت کیا ہوگی؟ شناخت کیلئے نام کے ساتھ، اسم کے ساتھ، مسمی کا نام، اسم ایسا ہونا چاہئے کہ جس سے اس کی شناخت ہو۔ میرے بھائی، گیان سنگھ یہاں بیٹھے ہوئے ہیں، اگر مجھے گیان سنگھ کہہ دیا جائے اور ان کو حاجی محمد عدیل کہہ دیا جائے تو کیا کنفیوژن Create نہیں ہو گی؟ (قہقے) سب سے بڑی کنفیوژن یہ ہو گی کہ-----

<u>جناب عبد السبحان خان</u>: میں ذاتی طور پر گیان کو گیان خان کہتا ہوں۔

<u>جناب سپیکر</u>: دا ئے درسرہ د حلیم خٹک والا کار اوکړو چہ هغه به دربانده کله آواز اوکړو او هغه هر څه به ئے درنه هیر پیر کړل۔ (قہقہہ)

<u>حاجی محمد عدیل</u>: اب یہ جو "این۔ ڈبلیو۔ ایف" ہے تو نہ یہ ہمارا ثقافتی نام ہے اور نہ نسلی، جیسے میں نے کہا ہے کہ بدقسمتی سے یہ نام فرنگی کا دیا ہوا ہے۔ ہمیں اسلامی تاریخ میں دیکھنا پڑے گا کہ حضور صلی اللہ علیہ وسلم کا ان ناموں کے معاملے میں کیا رول تھا؟ حضور صلی اللہ علیہ وسلم جب ہجرت کرکے یثرب پہنچے، عربی لغت میں "یثرب" کا مطلب ہے میل کچیل اور اچھا نہیں، تو حضور صلی اللہ علیہ وسلم نے فوراً کہا کہ نہیں اس کا نام طیب، طیبہ یا مدینہ رکھیں۔ تو فرنگی کا نام ہمیں پچاس سال ہوئے ملا ہوا ہے اور یہ ایک اسلامی

مملکت ہے، ہم کہتے ہیں کہ یہ نام تبدیل کریں اور اب تو شکر ہے کہ تقریباً ہر شخص یہ کہتا ہے کہ نام تبدیل ہونا چاہئے اور اس سے کوئی انکار نہیں کرتا بلکہ صرف یہ اختلاف ہے کہ کیا ہونا چاہئے۔ ہم کہتے ہیں کہ "پختونخوا" ہونا چاہئے اور پختونخوا کیوں ہونا چاہئے؟ تو جناب سپیکر، جب آزادی ملتی ہے تو چین پیکنگ کا نام بیجنگ رکھ لیتا ہے، انڈیا میں پرانا نام بمبئی جو کہ فرنگی کا نام تھا، ممبئی ہو جاتا ہے اور بنارس جو کہ فرنگی کا دیا ہوا نام تھا، وامسائی ہو جاتا ہے یعنی پرانے تاریخی نام آ جاتے ہیں اور اگر ہم کہیں کہ این۔ڈبلیو۔ایف کو آپ "پختونخوا" کر دیں جو کہ ہمارا تین ہزار سال پرانا نام ہے تو اس میں کیا حرج ہے؟ میری قرارداد اس بات پر زور دیتی ہے کہ میں اپنا پرانا نام چاہتا ہوں۔ بعض لوگ کہتے ہیں کہ جناب، اس صوبے میں میری طرح جس کی مادری زبان ہندکو ہے، وہ بھی رہتے ہیں، پشتو بولنے والے بھی رہتے ہیں، ہمارے صوبے کی زبان پشتو ہے اور قومی زبان اردو ہے، میں ہندکو بولنے والا ہوں لیکن میرا یہ دعویٰ ہے جناب سپیکر، کہ پختونخوا یا اس کا جو ابتدائی نام ہے پختی خاہ، جو لیہندا، پراگ، پالی، سنسکرت اور ابتدائی پشتو کا لفظ ہے جو کہ تین ہزار سال پہلے تاریخ میں موجود تھا اور یہ وہی جگہ ہے جہاں ہمارے آباؤ اجداد رہتے تھے اور آج ہم رہ رہے ہیں۔ جیساکہ میرے ساتھی نے کہا کہ ہیروڈوٹس، تو ہیروڈوٹس یہاں پانچ سو سال قبل مسیح آیا تھا اور اس نے کہا تھا کہ اس کا نام "پختی خاہ"، لیکن یہ لوگ تو پانچ سو سال پہلے یہاں رہتے تھے یا ممکن ہے ہزار سال پہلے رہتے ہوں۔ تاریخ میں زبانیں ترقی کرتی ہیں اور یہ نام پھر "پخت" سے "پختوا" اور پخت کیا تھا؟ اس معاشرے میں، اس علاقے میں رہنے والے وہ لوگ "پخت" کہلاتے تھے جو باختر سے چل کر آئے تھے اور باختر افغانستان کا علاقہ ہے جس میں ( ) علیہ السلام پیدا ہوئے۔ آپ ابوالکلام آزاد کی تفسیر دیکھیں جس میں ان کے ہمعصر پیغمبر ذوالقرنین علیہ السلام کا ذکر ہے اور جب یہ لوگ وہاں سے Migrate کرکے یہاں آباد ہوئے تو ان کو اس حوالے سے پخت کہتے تھے جو بعد

میں بختیہ اور پختونخوا بنا۔ جناب سپیکر! میرے دوست نے ویدگ کے دور کی بات کی اور میں آریاؤں کے دور کی بات کرتا ہوں کہ یہ نام اس زمانے میں بھی موجود تھا اور پھر میرے بھائی نے تاریخی حوالے بھی دیئے ہیں تو میں بھی کچھ تاریخی حوالے دینا چاہتا ہوں۔ پشتو کے کلاسک ادب میں ایک پختون عالم سلیمان ماکو گزرے ہیں جن کی تالیف ہے "تذکرہ اولیاء" سن 612 ہجری جس میں انہوں نے اسے "پختخا" لکھا تھا کیونکہ "پخت" سے تھوڑی سی Progress ہوئی تھی۔ پھر بعد میں اخون بابا صاحب، جو میرے حلقے میں دفن ہیں، کی ایک کتاب جو اس پہلی کتاب تذکرہ اولیاء کے تقریباً چار سو سال بعد لکھی گئی تھی۔ انہوں نے اپنی اس کتاب مخزن میں جو کہ 1000 ہجری میں لکھی گئی تھی، کئی مرتبہ پختونخوا کا لفظ استعمال کیا ہے۔ ایک اور کتاب ہے "پٹہ خزانہ"، گنج مسطور، اور نیننگز محمد بابک ہوتک صاحب ہیں جو پشتو کے ایک بہت بڑے ادیب اور شاعر تھے، انہوں نے اس کتاب کے دیباچہ میں، کتاب کے متن میں "پختونخوا" کا لفظ بار بار استعمال کیا ہے۔ اس کے علاوہ جناب شکار ویندوی صاحب جو بارھویں صدی عیسوی میں ایک بہت بڑے شاعر تھے اور جن کا تعلق غوری دربار سے بھی تھا، نے ایک زرمیہ نظم لکھی تھی جس میں بار بار پختونخوا کا لفظ استعمال کیا ہے بالکل اسی طرح جس طرح کہ ہم آج چاہتے ہیں۔ جناب سپیکر! انہوں نے خوشحال خان کا ذکر کیا، احمد شاہ ابدالی کا ذکر کیا اور میں تو یہاں بیٹھے ہوئے اسفندیار خان کے پردادا صاحب کی کتاب کا ذکر کرتا ہوں، باچا صاحب کی کتاب کا، انہوں نے بھی اپنی کتاب میں اس علاقے کو پختونخوا لکھا تھا۔ (تالیاں) جناب سپیکر! یہ تو میں نے تمام اسلام کے حوالے دیئے ہیں اور پختون کلاسک ادب کے حوالے دیئے ہیں لیکن جب تک انگریز کا حوالہ نہ دیا جائے تو بات مستند نہیں ہوتی۔ میرے پاس ایک کتاب کی Re-production ہے اور یہ اس کتاب کا دوسرا ایڈیشن ہے جو 1842 میں شائع ہوا ہے اور اس کا پہلا ایڈیشن 1810 میں شائع ہوا تھا۔ اس کتاب کا نام ہے 'An Account

of The Kingdom of Kabul اور یہ اس کا Revised Edition, Volume: II تھا۔
پہلے Volume کی جلد میرے پاس ہے اور یہ Honourable Mounts Trout۔
Allyfenstone نے لکھی ہے۔ وہ اپنی کتاب کے صفحہ 200 پر لکھتے ہیں کہ "Dr.
Lydon has mentioned the name of Pushtoonkhwa." یہ کتاب 1810 میں
پہلی دفعہ شائع ہوئی ہے (تالیاں) اور یہ آکسفورڈ ٹرسٹ لندن سے شائع ہوئی ہے۔
وائسرائے نے ایک Delegation بھیجا تھا کہ اس پورے علاقے کا سروے کیا جائے لیکن مجھے افسوس ہے کہ میں ڈاکٹر لائیڈن کی کتاب حاصل نہیں کرسکا کیونکہ یہ یقیناً 1700 صدی میں شائع ہوئی ہوگی۔ جناب سپیکر! اس کا پرانا نام یہی ہے، تاریخی نام یہی ہے، بھائیوں Historical نام یہی ہے، کلاسیکل نام یہی ہے اور ہم اس کیلئے تیار ہیں۔ لوگ کہتے ہیں کہ جی اگر اس کا نام "پختونخوا" ہوگا تو، میں سمجھتا ہوں کہ افغانستان کا رہنے والا ہر شخص افغان کہلاتا ہے، پختونخوا کے تمام پاکستانی پختون ہونگے، پختون رہیں گے اور پختون قوم کہلائیں گے۔ (تالیاں) تو جناب سپیکر، میں اپنے تمام اراکین اسمبلی سے استدعا کرتا ہوں کہ ہمیں اپنا پرانا نام دیجیئے کیونکہ یہ ہمارا، آپ کا اور آپ کی آنے والی نسلوں کا نام ہے اور تاریخی نام ہے۔ ہماری Support کیجیئے اس قرارداد کو پاس کرنے میں اور اس صوبے کا نام "پختونخوا" ہونا چاہیئے۔ میں آپ کا بہت مشکور ہوں۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: محترمہ بیگم نسیم ولی خان صاحبہ۔ (تالیاں)

بیگم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب! ډیره مننه۔ زما خیال دے چه زما خنی ملګری چه په تیر شوے اسمبلۍ کښے دلته ناست وو، د پختونخوا په حواله ما یو ډیر لوئے جامع تقریر کړے وو او د هغے رونړو د تسلۍ او اطمینان د پاره مے کړے وو چه د کومو خلقو په زړونو کښ خنے وسوسے او خنے خدشے وے۔ زما نه مخکښے چه دریو کسانو کوم تقریرونه اوکړل،

په خصوصیت سره زه د نجم الدین صاحب ډیره زیاته مشکوره یم او هغه خو د خپلې پارټۍ یوه پالیسي بیان کړه خو زه هغه د ځانه سره حسابه ووم ځکه چه دا زما او د هغه یو مشترکه ایشو دے، نو زه د هغه ډیره مننه کوم خو اول د دے نه چه زه د حاجي عدیل او د بچي افتخار حسین ذکر اوکړم، دا زما د پارټۍ ملګری دی، د دوئ خو یو لائن دے، د دوئ یوه طریقه ده۔ دا یو شے دے۔ د دوئ تقریرونه دومره جامع دی چه د هغے د پاسه زه کربه نه شم کولے، خبره پرے نشم کولے۔ دلته کښے بتولے خبرے اوشوے په دے حواله باندے چه د پختونخوا ولے مونږ نوم ایږدو؟ پښتونخوا ځکه ایږدو چه دا یو زوړ نوم دے او کله چه نومونه روایت کیږي او اول خلق کوشش کوی چه هغه زوړ نوم ورله راوالی که هغه زوړ نوم نے ښکلے نه وی، بیا خلق کیني او مشترکه طور سوچ اوکړی۔ زما په حساب باندے چه تاریخي حوالو نه، د تاریخي کتابونو نه کومه خبره ثابته شوه، هغه خو ثبوت ته اورسیده چه د دے علاقے زوړ نوم چه دے، دا پختونخوا دے او انشاء الله پختونخوا به شي۔

(تالیاں) زه دلته کښی یوه خبره کوم چه په دے ضمن کښی هیڅ چا خبره او نه کړه چه دا مونږ 'North-West Frontier Province' ولے شو؟ ما په دے باندے تیر خل ډیره تفصیلي خبره کړے وه۔ فرنګے په وطن قابض وو، د فرنګي خپلے خارجه پالیسۍ وے او فرنګي په خپل سلطنت کښے خپلے پالیسۍ د خپلے خارجه پالیسۍ ماتحت جوړولے۔ داسے به یے نه کول چه د بهر نه خارجه پالیسي راتلله او مونږ به پرے ټاپه لګوله۔ هغوی به خپلے خارجه پالیسۍ د خپل اندروني حالاتو په مطابق لګولے۔ په هغه وخت کښے پوزیشن داسے وو چه په دنیاوی طاقتونو کښے دوه طاقته وو چه یو فرنګے

وو چه خلقو به ونیل چه په سلطنت کښې یې نمر نه ډوبیږي- یو خوا روس وو چه اول زار روس وو او بیا سویت یونین شولو چه اشتراکی قوت شولو- د دے دوارو قوتونو په خپل مینځ کښې د ټکراو، لکه څنګه چه په هغه زره خبره کوله او ثابته شوله د تیرو پنځلسو شپارسو کالو راسے، په دے وطن کښې ثابته ده چه هغه دوه قوتونه او جنګیدل- فرنګی سره ټول عمر دا خطره وه چه که زما ټول ګیر چاپیره، چه څومره زما په شا، زما په مخه، زما ډډو باندے زما حدود دی، زما سرحدات دی دا د هر طرفه محفوظ وی- هغه راغلے په اوبو وو، د اوبو شهزاده وو، سمندری طاقت او قوت د چا دومره نه وو چه په هغه باندے ئے حمله کړے وے- تاریخ د دے ګواه دے چه د هغه هومره لویه بحری بیړه په هغه وخت کښې هیڅ چا سره نه وه، د دغه طرفونو نه هغه بالکل مطمئن وو- که هغه غیر مطمئن وو نو د یو طرف نه وو، د خپل شمال نه، شمال او هغه مغرب چه مونږه پکښې واقع یو- د دے نه هغه غیر مطمئن وو- نو هغه دے له 'North-West Frontier Province' نوم ورنه کړو- هغه ونیل چه دا زما د سلطنت 'The Frontier' دے- 'The Frontier' یوواز ئے Frontier دے- که هغه نومونه بدلول نو هغه به خان له پنجاب غاړے ته نوم هم بدل کړے وو، هغه به خان له بنګال غاړے ته نوم هم بدل کړے وو، هغه به خان له راجهستان غاړے ته، افغانستان غاړے ته، د ایران غاړے ته نوم هم بدل کړے وو- د هغه سلطنت سره چه څومره لائنونه وو او څومره حدود وو، هغه جغرافیائی حالات وو، هغه ټول نومونه به ئے بدل کړے وو خو هغه دا یو نوم بدل کړو او دا یو نوم هغه د خپل ضرورت د پاره بدل کړو او بدل ئے په داسے طریقه کړو چه دا پښتانه ئے په خپل مینځ کښې

ورواچول- بیا ئے بټه بټه کړل، څوک ئے یو کړل، څوک ئے بل کړل، څوک ئے ښنواری کړل، څوک ئے آفریدی کړل، څوک ئے ترین کړل، څوک ئے جدون کړل- دا ټول یو پښتانه دی، د دوئ ژبه، د دوئ کلچر، د دوئ ثقافت، د دوئ تاریخ، د دوئ جغرافیه، د دوئ روایات، د دوئ آنا، دا ټول یو دی- اوس خبره دے ځائے له راځی چه آیا نن هم ضرورت د دے شته چه مونږه د د فرنگی هغه وراثت پاتے کړو؟ نو د اللّٰه احسان دے، زمونږ په دے صوبه کښے خو ما ته داسے څوک سړے نه ښکاری چه د فرنگی وارث دے- که د فرنگی وارث څوک وی نو د پاسی او دِ اووائی چه زه ئے وارث یم او زه ئے د وراثت حقدار یم او زه د هغه د وراثت جنگ کوم- مونږ به ورسره اومنو چه هغه ئے وارث دے، هغه حق لری چه هغه په دے خبره باندے مونږه سره اختلاف اوکړی- خبره دا ده چه څنگه ملگرو اووئیل د ټولو صوبو ـــ یو بلے خبرے ته تاسو له راځم- مونږه په قامونو او په قبیلو کښے، په دے خپلو پښتنو کښے هم تقسیم یو- ولے که تاسو د وزرات مال کاغذونه راواخلئ، تاسو که د پټوار خانے کاغذونه راواخلئ او تاسو که هغے کښے اوگورئ نو هغے کښے یوه خانه ده "قوم"، تاسو پخپله وکالت کړے دے، د دے ټولے صوبے پختونخوا د هر سړی نه چه تپوس کوی چه قوم، نو هلته ورته لیکی "افغان"- بنیادی طور افغان او پښتون کښے هم تفریق نشته چه په دوو سیمو آباد شو- هغوی خان افغانان کړل او مونږ خان پښتانه کړل- دا د یو کلچر، د یو ثقافت، د یو تاریخ، د یو جغرافیے ـــ بیا به وایم، په څنے څنے خبرو کښے به روایتاً هغوی زمونږ نه مختلف وی او مونږه به ترے مختلف یو، زمونږه طرزتمدن، زمونږه لباس، زمونږه خوراک، زمونږه بود و باش، دا یو دے د

ټولو پښتنو- زمونږه دا تمدن او دا چه بدلیږی Abruptly په دے دریائے سندھ بدل شي- خکه بدل شي چه دریائے سندھ نه یو بله صوبه شروع کیږی او هغه صوبے ته وئیلے شي پنجاب- پنجاب ورته خکه وئیلے شي چه پنجابیان پکښے اوسی- بیا یوه صوبه ده دلته ستاسو سندھ، په هغے کښے ډیر ښه ښه نومونه شته، نومونو له هم راخم چه خلق مونږه ته دغه وانی چه فلانے نوم دِ شی او فلانے نوم دِ شی، هلته بلوچستان دے، دلته خنے خلق وائی چه دلته هندکو سپیکنګ او دلته ګوجری سپیکنګ او دلته سرائیکی سپیکنګ، نو زه ستاسو په وساطت د دے هاؤس نه تپوس کوم، دا ټول قابل خلق دی، په دے بلوچستان کښے د پښتنو Percentage څومره دے؟ د زور Census په حساب باندے 40 % او هغوی اوس دعوئ کوی چه نوے Census کیږی، پښتانه وائی چه زمونږه هغه Percentage چه دے، هغه زیات شوے دے او د بلوچو کم شوے دے- خو دغه خبره چه ده هغه دلته، د هغے خبرے دلته ضرورت نشته چه زه ئے اووایم- په څلویښت پرسنټه به ئے اودروو، په څلویښت فیصد به ئے اودروو- آیا هغه څلویښت فیصد والا خلق چا د بلوچستان نه اوویستل؟ آیا د هغوی حقوق په دے غصب شو چه هغوی دی پښتانه او هغوی په صوبه کښ اوسی؟ اول خو زه دے ټولو خلقو ته پښتانه وایم خو که یو سړے دا اووائی چه زه پښتون نه یم نو بیا خو به خان له یو نوم پیدا کوی کنه- تیر خل هم ټولو ته مے داسے مخ کړو، ما وئیل ټول خپل ګریوان کښے سر دننه کړئ که په لارے تلئ او تاسو ته چا پنجابے اووے، خدائے شته چه سر ورله په کانړی مات کړئ- که تاسو ته چا سندھے اووے، تاسو به په هغے باندے هم خفه شئ او که پښتون ته د بلوچ اووے، دے په هغے باندے هم خفه کیږی خکه چه

د پښتون خپل يو شناخت دے۔ پښتون خپل شناخت، پښتون خپل تاريخ، د هغه هغه کارنامے، د پښتون په تاريخ جوړيدو کښے د هغه هغه حصه، د پښتون هغه جنګونه، د پښتون هغه جهادونه، هغه هڅوی هيڅ چا له په هيڅ هم نه ورکوی۔ نو زه په دے نه پوهيږم، ځوک به راپاسی په اخبارکښے به اوليکی چه دا خو غداران وطن دی۔ اے د خدائے انصاف دارو، زه به درته اوس د غداران وطن خبره اوکړم چه څوک دی؟ چه د جناح صاحب، د قائد اعظم خور، محترمه مادر ملت اليکشن ته اودريده نو خو دا غداران ورسره روان وو او تاسو ورته تاړی غړوله او مونږه د هغے جلوسونه کول۔ (تالیاں) کړی مو دی او که نه دی کړی؟ تاريخ ګواه دے۔ ځنے خلق وائی چه مونږه د قيوم خان مسلم ليګيان يو، د فاطمه جناح دا اليکشن خو د قيوم خان په دور کښے وو۔ دا هغه خلق چه تاسو نے نن غداران کوئ او دا هغه خلق چه هغه غواړی چه زه خان د پاکستان په تاريخ کښے د خپل وجود يو نمونه واچوم، خان د هغے په نقشه کښے شامل کړم ـــ زه په نقشه کښے نه يم، پښتون د پاکستان په نقشه کښے نشته۔ زمونږ متعلق دا هم ډيرے خبرے وے، دا خبرے هم راتلے چه دوئ د صوبے نوم بدلوی ځکه چه دوئ د ملک نه وتل غواړی۔ اے د خدائے زوره ورو، د کوم ملک نه وتل غواړو؟ د هغه مُلک نه مونږه وتل غواړو چه مونږه پرے قربانئ ورکړی دی؟ په دے خاورو کښے زمونږه د پلار او د نيکه وينے او ځوے هډوکی او ماتے پختے پرتے دی۔ د دے خاورے نه به مونږه کوم ځوا ځو؟ مونږه خو دا سوچ کوؤ چه شايد ځوک ترے اوتښتی او دا وطن مونږ ته پاتے شی۔ کوم ځوا به ځو؟ دا هم يوه خبره ده۔ دا د دے نه مخکښے يو شوشه، ډير خلق دا وائی چه دوئ مطالبه اوکړه د

پختونستان، یوه ډیره زړه تاریخي واقعه ده، په هغې به زه روستو خبره کوم، مونږه هغه مطالبه پریښوه- ولے مو پریښوه؟ چه دا یو هاؤس شو، دوست او دشمن او ډیر لاس پکښے د دشمن وو، کوشش ئے دا روان کړو چه تفریق پیدا کړی، مونږه پاکستان سره اوجنګوی- مونږه تر اوسه پاکستان سره جنګ نه کوو، نه مو کړے دے خکه چه پاکستان زمونږ وطن دے، که زمونږه مشرانو قربانۍ نه وے ورکړے، که خدائی خدمتګارو په سنګرونو ختل نه وو کړی، که قصه خوانۍ او بازار کلاں ټکر او ګوجر ګړهۍ او هاتهی خیل نه وے نو شاید چه دا وطن آزاد نه وے۔ (تالیاں) او چه دا وطن آزاد نه وے نو پاکستان به جوړ نه وو- دا پاکستان هله جوړ شو چه ما فرنګی سره جنګ اوکړو، زما ډلے جنګ اوکړو او زما مشرانو جنګ اوکړو، زما پلار نیکه جنګ اوکړو نو فرنګے ئے په دے مجبوره کړو چه هغه اوځی- چه کله فرنګے مجبور شو، هندوستان تقسیم شو او پاکستان جوړ شو- ځنے د عقل نه د کورا خلق وائی چه دوئ پاکستان د زړه نه نه دے منلے- د زړه حال خو یو خدائے تعالیٰ ته معلوم دے- ما ته اوښایه داسے یو بنیادم تاسو په دے ټولو خلقو کښ چه څوک دا دعویٰ کوی چه ما ته د زړه حال معلوم دے- د ظاهرے حال، د ظاهرے حال دا دے چه پاکستان جوړ شو، دا تاریخ دے او دا د تاریخ حصه ده، مسلم لیګ به پرے ما سره اتفاق کوی چه پاکستان جوړ شو، د وړومبے Constitutional Legislative Assembly تے ورته ونیل، باچا خان بابا، په ګور ئے نور شه، د هغے ممبر وو، هغه هلته لاړو او هغه هلته حلف واغستو- چه هغه حلف واغستو نو په دے حلف کښے څه وی؟ تاسو ته پته ده، ته سپیکر ئے، مونږ له دِ حلف راکړے دے، په دے حلف کښے څه وی؟ دا د

وفادارئ خبره وی او که دا د غدارئ خبره وی؟ نو زه وایم چه زه وفاداره یم، زه وایم چه زه قام پرسته یم، زه وایم زه د قوم دوسته یم، زه وائم زه تاسو سره په لاره ځم، زه وایم زه تاسو سره ملا تړ کوم او تاریخ بیا ګواه دے، په ډیرو موقعو چه کله مشکل په وطن راغلے دے، کله سخته په وطن راغلے ده، مونږه خپل ملګری نه دی پریښودی، اوسنے مثال درته ښایم۔ زه نن هم وایم چه مشکلات شته او زه تاسو ته دا خبره کوم، زما دا قرارداد د ډیر مخکښے نه نه وے راغلے نو ډیره ممکنه وه چه ما نن پیش کړے هم نه وے خکه چه په داسے حالاتو او په داسے واقعاتو کښے خپل ملګرے Tight corner کښے اودرول چه دی، دا زمونږه د پارټئ، بلیک میلرز مونږه نه یو، مونږه بلیک میلرز نه یو، مونږه هغه خلق یو چه خلقو سره د زړه د صدق نه ملګرتیا کوؤ او ملګرتیا ورسره ترهغے کوؤ چه هغه په سخته کښے وی ( تالیاں ) ترهغے ورسره ملګرتیا کوؤ چه هغه په سخته کښے دے۔ ننی حالات د پاکستان چه دی، چه مونږه ورته ګورو، ډیرو ملګرو دلته خبره اوکړه، ننی حالات د دے متقاضی نه دی، د دے متحمل نه دی چه هغه ډلے چه په پاکستان کښے یو بل سره روانے دی او د دے ملک د استحکام، د دے سسټم د بچ کولو، د جمهوریت د بقا، د Supremacy of Parliament ، د آئین او د قانون د بالادستئ جنګ کوی چه مونږه دِ په هغه جنګ کښے یو بل سره یو ځائے اودریږو۔ په دے کښے ډیر خلق خبرے کوی، زه دا نه وایم، مونږه یو ساده شان، معصوم شان ورته وئیلے شئ، بے ضرره، چه چا ته پرے هیڅ تکلیف نشته، ځوک به وائی چه دے له "آباسین" نوم کیږدئ، زوروړو چه دے له آباسین نوم کیږدئ نو دے پنجاب له "جهلم" نوم کیږدئ، دے سنده له "مکران" نوم کیږدئ، دے

بلوچستان له "بولان" نوم کیږدئ- څوک به وانی تاتاره ورله کیږدئ، یو تاریخی نوم شته او په دنیا کښې مثالونه دی چه تاریخی نومونه واپس راغلی دی- ټول نومونه ئے درته یاد کړل، د لینن گراډ نوم درته هیڅ چا یاد نه کړو- چه څنګه سویت یونین ټوټه ټوټه شو، د لینن گراډ نوم لاړو، د هغه خپل زوړ نوم، څه شے دے، خپل زوړ نوم ئے ما نه اوس د ذهن نه اوړنو د هغے خپل زوړ نوم چه په صدو ----

ایک آواز: سینٹ پیٹر برگ۔

بیگم نسیم ولی خان: سینټ پیټر برگ، سینټ پیټر برگ ئے راواغستو او هغه ئے پرے کیښودو، نه پرے هلته هنګامه اوشوه، نه چا هغه خلقو ته غداران اووے او نه هغه خلقو ته چا د قام دشمنان اووے- مونږه حتی الامکان کوشش کوؤ چه مونږه د دے مسئلے نه متنازعه مسئله جوړه نه کړو- دلته زما اندازه دا ده چه مونږه ټول په دے هاؤس کښې، که به یو نیم کس وی نو نه شم وئیلے، په دے به متفق یو چه صوبه بے نومه ده او د افتخار حسین خبره، بے نومه ماشوم به ترکومه گرځی؟ چه بے نومه وی خو بیا ئے نه د پلار نوم وی او نه ئے د مور نوم وی، نو دے بے نومه ماشوم له به نوم ورکوو- مونږه په خپلو دلائلو، په خپلو شواهدو، په تاریخی واقعاتو او په تاریخی ثبوتونو دا خبره ثابته کړه چه دا صوبه چه ده، دا علاقه چه ده، دا خاوره چه ده چه پښتانه پرے اوسی، د دے زوړ نوم چه دے، پختونخوا دے- لهذا خواست کوم خپلو ملګروته، خواست کوم هغه نورو ملګروته چه په زړه کښې ئے شکونه او شبهات دی، زه یوه بله خبره هم کوم چه کله دوئ وانی دا هندکو سپیکنګ خلق چه دی، د دوئ به څه حالات وی؟ نو زه ترے دا تپوس کوم چه په دے

پنجاب کښې څومره بلوچ دي، تاسو پخپله اووايئ سرائيکي بيلټ ټول د بلوچو دے، لغاريان بلوچ دي، مزاريان بلوچ دي او لوئے لوئے قبيلے دي، ورشئ تپوس ترے اوکړئ نو هغوی ته چا اووے چه اوخئ؟ هغوی ته چا اووے چه خانونه تاسو پنجابيان کړئ؟ هغوی ته خو چا دا نه دي وئيلي چه خانونه پنجابيان کړئ او زه دا په يقين سره وايم که يو پنجابي ته چا دا اووے چه ته خان پښتون کړه، هغه به پرے هم ډير بد اوګڼري او که يو بلوچ ته چا دا اووے چه ته خان پنجابے کړه، هم به پرے بد مني خکه چه هر سړے د يو تاريخ او د يو جغرافيے سره وابسته دے، هغه خان د هغه خپل Link نه Cut کول نه غواړي۔ که تاسو فکر اوکړئ، زما پښتانه په هغه ټولو رواياتو او په هغه ټولو ګزونو او په هغه ټولو پيمانو چه يو قوم دے خان ته اوواتي، دا قوم دے۔ پښتون يو قوم دے۔ ما نن د پاکستان په چوکاټ کښې چونکه پاکستاني قوم کښې خان ورواچوو، زه خان ته پاکستاني وايم، زه چه بهر ته خم، پاسپورټ کښې خان ته، Nationality تپوس کوي نو زه ورته پاکستاني ليکم، ما چرته پښتون نه دے ليکلے خو بيا د دے پاکستان په چوکاټ په قوم کښې ما خان کوم کمتر کړو د قوم مطالبه مے پريښوه، د قوم نه مے خان قوميت کړو او د قوميت په بناء زه خپل يو نوم غواړم۔ نو نن دومره انصاف هم ما سره نه کيږي نو دا خو ډيره ګرانه خبره ده چه زه به ټول عمر روانه يم او زه ټول عمر مدحے هم وايم، زه به ټول عمر مرستے هم کوم، زه به ټول عمر قربانئ هم کوم، زه به ټول عمر، خلق به ما په شا ټپوی په مورچه به مے هم ورواچوی او چه کله زما ضرورت شی نو بيا به __ توقع مے دا ده چه __ زه خو نه، زه خو بيا هم هغه يم، زه به بيا هم هغه يم، زه نن دا نه وايم، زه دا خبره نن د ټول هاؤس په

مخکښې او دا څومره خلق چه ناست دی، دا اخبار والا دی. زه بیا هم نن هغه مورچه ورځم۔ زما یو سیاسی ذهن دے، زما یو سیاسی پارټی ده، زما جمهوری پارټی ده، زما د پارټۍ روایات دی، زما د پارټۍ تاریخ دے، زما پارټۍ د اتباؤ کالو یو تسلسل دے، زه هغه داسے خرابولے نه شم خکه چه زما پارټۍ روایتاً خپل کمزورے ملګرے یا په جنګ کښے اینښتے ملګرے پریښے نه دے، زه د ملګری د پریښودو خبرے نه کوم۔ ولے یو ګله خو مے زړه له راځی کنه۔ هغه پښتانه وائی چه "د بوډے خویه څه خو بویه کنه"، څه طمع خو مے ترے ده کنه۔ (تالیاں) څه طمع خو مے ترے شته کنه، داسے خو ورته نه وایم چه ته د___ بس ټوله زما خبره ده۔ د هر چا خپلے مجبورۍ دی، هر چا ته خپل دیوالونه ولاړ دی۔ زه نه په مسلم لیګ کښے شامله شوے یم او نه مسلم لیګ زما په پارټۍ کښے شامل شوے دے۔ د مسلم لیګ یو خپل پروګرام او خپله طریقه ده او زما یو خپل پروګرام او یوه خپله طریقه ده۔ زه به یو خپله خبره کوم او هغوی به یو خپله کوی۔ سبا به داسے یو شے راځی چه زه به د هغے سره اتفاق نه کوم خو زه به دا هیڅ چرے هم نه کوم چه د خپل ملګری پښے به راکاږم۔ چا ته؟ بل چا ته! دا سوال کوم، دا خواست کوم۔ نورے خبرے چه دا قرارداد تاسو واچوۍ، نو بیا کوم چه اوګورم حالات واقعات څه دی؟ زه ډیره مشکوره یم سپیکرصاحب، چه تاسو ما له وخت راکړو۔ د پختونخوا مسئله دا نه ده چه، په دے پینځه، شپږ ګهنټے تقریر کیږی خو د خلقو او د اسمبلۍ او ستاسو وخت نه شم خرابولے۔ زه ستاسو ډیره شکریه ادا کوم۔ تهینک یو۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: یو منټ جی۔ پیر محمد خان، تاسو څه وایئ؟

جناب پیر محمد خان: زه هم پرے څه خبرے کول غواړم جی -----

جناب سپیکر: هاں جی۔

جناب پیر محمد خان: زه پرے هم یو څو خبرے کول غواړم -----

جناب سپیکر: یو منټ، خبرو له اجازت درکوؤ، ټولو له ورکوؤ۔ تاسو یو منټ کینئ جی۔ حمید الله خان! ستاسو هم یو خان له قرارداد دے۔

جناب حمید الله: زه نه Move کوم سر۔

جناب سپیکر: واپس اخلئ؟

جناب حمید الله: واپس مو واخستو، سر۔

جناب سپیکر: تاسو نے Withdraw کوئ جی؟ دا ستاسو قرارداد په دے باندے وو چه "کوهستان" نوم د پرے کیښودلے شی۔ تاسو نے واپس اخلئ؟

جناب حمید الله: او جی، ما واپس کړو، سر۔

جناب سپیکر: اکرم خان! ستاسو څه پوزیشن دے؟ قرارداد خپل Move کوئ؟

جناب اکرم خان درانی: زه پیش کومه۔

جناب سپیکر: پیش کړئ جی۔

جناب اکرم خان درانی: "یہ اسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ وہ وفاقی حکومت سے اس امر کی سفارش کرے کہ صوبہ پنجاب، سندھ اور بلوچستان کے ناموں سے وہاں کے عوام کی اندرون اور بیرون ملک شناخت ہوتی ہے جبکہ شمال مغربی سرحدی صوبے کے نام سے یہاں کی صرف جغرافیائی حدود ظاہر ہوتی ہیں جو کہ اس صوبے میں رہنے والوں کی شناخت کا ذریعہ نہیں ہے۔ لہٰذا آئین میں ترمیم کرکے شمال مغربی سرحدی صوبے کا نام "پختونستان" رکھا جائے" اور ساتھ ہی ----

جناب سپیکر، نه، نه، قرارداد پوره شو جی، تاسو اولوستو کنه۔ اوس بیا تاسو کیني جی، تقریر به روستو کیږی۔

جناب پیر محمد خان، جناب سپیکر صاحب! دوئ خپل پیش کړو۔ "یه آسمبلی صوبائی حکومت سے سفارش کرتی ہے کہ وہ وفاقی حکومت سے اس امر کی سفارش کرے کہ صوبہ پنجاب، سندھ اور بلوچستان کے ناموں سے وہاں کے عوام کی اندرونِ ملک اور بیرون ملک شناخت ہوتی ہے جبکہ شمال مغربی سرحدی صوبے کے نام سے یہاں کی صرف جغرافیائی حدود ظاہر ہوتی ہیں جو صوبے میں رہنے والوں کی شناخت کا ذریعہ نہیں ہے۔ لہٰذا آئین میں ترمیم کرکے شمال مغربی سرحدی صوبے کا نام "پختونستان" رکھا جائے"۔

جناب سپیکر، دا ټائم لږ دے، اکرم خان، Please be brief.

جناب اکرم خان درانی، جناب سپیکر صاحب! ستاسو ډیره مننه۔ نن په دے اسمبلئ کښے حقیقت دا دے چه کوم قرارداد پیش شو، دا ډیر پخوا پکار وو او دا د وخت یو ضرورت وو او که تاسو اوګورئ چه کله نه زمونږه دا ملک آزاد شوے دے، په هغه وخت کښے د دے ملک مشرانو، د دے ملک علماء د دے ملک د آزادئ د پاره یو جهاد اوکړو، یو جنګ ئے اوکړو، د هغوی صرف مقصد دا وو چه مونږ دلته آزاد شو او ورسره یو مقصد دا هم وو چه آزاد شو او مونږ دا قانون چه انګریز په دے ملک کښے جوړ کړے دے، ختم کړو او په دے ملک باندے مونږ خپل اسلامی نظام راولو۔ نو څنګه چه بی بی دلته خبره اوکړه، مونږ ته ډیره محترمه ده چه مونږ ته انګریزانو نه په میراث څه پاتے دی؟ نن زه په دے اسمبلئ کښے دلته په ډاګه باندے دا وایمه چه مونږ ته هغے په میراث کښں د دے ملک ✱ + + + پاتے دے او څنګه چه د دے صوبے

---

✱ بحکم سپیکر صاحب حذف کیا گیا

د نوم ضرورت دے، د دے ملک د آتین بدلولو هم ضرورت دے۔ د دے صوبے سره زیاتے ولے شوے دے؟ د دے صوبے سره زیاتے په دغه انداز باندے اوشو چه دلته پښتانه او د دے صوبے اوسیدونکی خلق راپاسیدل، هغوی انګریزانو سره جنګ اوکړو او انګریزان نے د دے ملک نه اوویستل نو هغوی په هغه وخت یو سازش اوکړو۔ پکار وه دا شناخت چه نن مونږ غواړو۔ د پاکستان د جوړیدو سره شوے وے، په هغه وخت کښے شوے وے خو چونکه هغوی په سازش باندے د دے صوبے نوم بدل نه کړو، دا نے صوبه سرحد کړو۔ لکه څنګه چه دلته په دے صوبه کښے مونږه اوسو، حقیقت دا دے چه اکثریت دلته ټول پښتانه یو، که څوک په هزاره کښے اوسیږی، هغه چه لاړ شی د پښتون په نظر ورته کتلے شی، هغه ټول پښتانه دی۔ هغوی په پښتو باندے پوهیږی، هغوی پښتو ژبه وائی او دا ټول د دے صوبے خلق چه دی۔ دوئ ته یو اعزاز دے چه کله څوک بهر لاړ شی، چه دا د هغه غیرتی صوبے خلق دی، چه هغوی یو زوړ تاریخ لری او د دے ملک د آزادئ د پاره ــ چه بهر ملک ته لاړ شی نو د پښتنو یو خپل وقار دے، د پښتنو د خپل وقار ساتلو د پاره ــ چونکه د زړه نه چه زه څه غواړمه، هغه دا دی چه زما په خله باندے پختونستان نامه راځی، چه هغه واخلے نو زړه دِ پرے یخ شی ( تالیاں )
خو چونکه زه نن د دے صوبے د عظیم مفادو د خاطره او د دے صوبے د یکجهتئ د خاطره لکه دے ځائے نه چه څنګه هغه بله ورځ صرف یو قرارداد د اسلامی نظام د پاره پاس شو نو نن زما زړه غواړی چه د پښتنو شناخت د اوشی۔ صرف د پختونستان او د پختونخوا فرق دے یقینی خو نن دلته شناخت د پختونخوا نه هم کیدلے شی او د پختونستان نه هم کیدلے شی۔ (تالیاں)

زه یو خل بیا دا وایمه چه د دے صوبے د عظیمو مفادو د خاطره او د دے صوبے د یکجهتئی د خاطره زه په خپل قرارداد کنبے ترمیم کومه چه هغه د پختونخوا شی (تالیاں) او ورسره یو خواست هم کومه چه دا قرارداد اوس صرف د اے۔این۔پی د طرف نه دے، دا د پیپلز پارټئ د طرف نه دے، جمعیت العلماء اسلام د طرف نه دے او ورسره ورسره روستو به پته لږی، آزادو د طرف نه دے او زمونږ مسلم لیگ والا رونړه ناست دی، هغوی ته هم، د دوئ ملګری دی او دا د صوبے د خاطره هغوی ته زه خواست کوم چه ښنګه چه ستاسو ملګرتیا ده، دا ملګرتیا سالمه اوساتی او د دے قرارداد مکمل حمایت دِ اوکړی (تالیاں) او دلته زه نه غوارمه چه دا ماحول چه نن ښومره خوشګوار دے او دلته زمونږ د پریس رونړه او بهر Intelligence او څه دیر کسان ناست دی، چه په دے کنبے معمولی هم بدمزګی جوړه نه شی۔ زما پورا هاؤس ته یو خواست دے چه هغوی د ټول د دے قرارداد حمایت اوکړی۔ ټول پښتانه یو او مونږ ټول د دے اسلام د پاره او د دے صوبے د پاره جنګیدلے یو او په هغے کنبے زه خپل خان هم وړاندے کومه چه د دے ملک د آزادئ د پاره او د دے صوبے د حقوقو د پاره زمونږ د خاندان ټول جانیداد انګریزانو سرکاری کړے وو، هغوی تیس سال جهاد کړے وو۔ (تالیاں) نن مونږ د هغه خپلو مشرانو په قدم باندے قدم اخلو او یو خل بیا د دے خائے نه د اتفاق مظاهره کوؤ او په آخر کنبې زه ستاسو شکریه ادا کومه۔ (تالیاں)

<u>جناب عبدالسجان خان</u>: پوائنټ آف آرډر، سر۔ ګران معزز رور -----

<u>جناب سپیکر</u>: شعر وایئ، شعر وایئ؟

<u>جناب عبدالسجان خان</u>: نه جی، شعر به هم اووایمه جی، خو جی زما په

غوړونو باندے اکرم درانی د آئین متعلق څه خبره اوکړه، هغه که لږ ___ دوئ اوونے چه مونږ ته انګریزانو نه پاتے دے که نوم ئے اوونئے دا خبره د لږ -----

جناب سپیکر: نوم ئے یاد کړو، نوم۔

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر! که ستاسو اجازت وی، قوانین، جی دلته چه مونږ ته پاتے شوے دی، قوانین۔ هغه سسټم چه مونږ ته پاتے دے، هغه د اسلام نه دے۔ مونږ ته چه پروردګارکوم کتاب رالیږلے دے قرآن پاک، هغه د هغے سره متصادم دے-----

آوازیں: بالکل، بالکل۔

جناب اکرم خان درانی: نو مونږ صرف دا غواړو چه دا قرآن پاک چه پروردګار مونږ ته رالیږلے دے، د هغے قوانین، د هغه چه څه حدود دی او څه رالیږلے دی، هغه د په مونږ باندے جاری شی۔

جناب باز محمد خان: محترم سپیکر صاحب! اکرم خان چه کومه خبره کړے وه، د هغه مطلب د نظام نه وو جی چه هغه نظام مونږ ته پاتے شوے دے۔

جناب عبدالسبحان خان: زما جی دا ګزارش وو که چرے ده لفظ * ++++ ونیلے وی نو چونکه آئین باندے خو متفقه لیډرانو چه په هغے کښے مولانا مفتی محمود صاحب مرحوم هم وو، هغه هم دستخط کړے دے نو هغه د Expunge شی۔

جناب سپیکر: هغه "نظام" ونیلے دے، "نظام"۔

جناب اکرم خان درانی: جی د نظام خبره ے کړے ده، کیدے شی په خبرو کښے داسے راغلے وی۔

*۔ حکم سپیکر صاحب حذف کیا گیا۔

جناب سپیکر: که غلط فهمی نه وی نو هغه لفظ دِ Expunge شی۔ (شور)

جناب عبدالسجان خان: دوئ وائی، شعر اووایه۔

حاجی عبدالرحمان خان: جناب سپیکر صاحب! زه -----

جناب عبدالسجان خان: یو شعر به جی__ دوئ وائی چه یو شعر اووایه -----

حاجی عبدالرحمان خان: یو منٹ، زه خپل __ جناب -----

آوازیں: شعر اووایه، شعر اووایه۔

جناب عبدالسجان خان: زړه راته وائی چه بیعت اوکړه په لاس د امن
خو چرته ماران راته لستونړی کښې لاسونه نه شی

(تالیاں)

جناب سپیکر: پیر محمد خان، جی!

جناب پیر محمد خان: شکریه، جناب سپیکر صاحب۔ زما رونړو پرے تفصیلی تقریرونه اوکړل۔ زما خو دا خیال وو چه زه به هم یو بورئ دلائل پیش کړمه، خو دوئ، حاجی عدیل صاحب دې خان زیات کړاولے دے۔ زه پکښې دا یو دوه درے خبرے کومه جناب سپیکر صاحب، چه دوه، دوه نیم زره کاله مخکښې قبل مسیح دلته په افغانستان چه کله آریا قوم راخور شو نو په هغه وخت کښې د دے نوم آریانه کیبنودے شوے وو۔ افغانستان او ورسره دا ګومره علاقے چه هغوی قبضه کړے وے، ته به ئے آریانه وئیل۔ بیا دوه، دوه نیم سوه کاله قبل مسیح چه کله بل یو قوم په دے باندے راغے چه د هغوی مشر، پانینی به ئے ورته وائیلے، په دے لاهور کښې اوسیدو، نو په هغه وخت کښې د دے نوم "روح" وو، چه هغه قوم ته روحیل ئے لیکلی دی په کتاب کښې۔ مونږ ورته عام خلق پښتو کښې روحیلے وایو۔ بیا انډیا ته لاړل

نو په انډیا کښې خواره شو۔ په هغه وخت کښې د دے نوم پختونخوا نه وو۔ بیا جناب سپیکر صاحب، د پانی پت د جنګ نه پس احمد شاه ابدالی صاحب چه په دهلی قبضه اوکړه، لکه زمونږ رونړو حواله ورکړه، هغوی د پختونخوا لفظ استعمال کړے دے خو دلته خبره دا ده جناب سپیکر صاحب، چه دے پختونخوا ته به ئے پختونخوا ولے وئیلے په دغه وخت کښې؟ دا ځکه چه په افغانستان کښې پښتانه وو، دلته کښې خو څه لږ خلق راغلے وو، څه لږ کورونه راغلے یو او لکه نن چه زمونږه د اټک سره پُله ده یا د کالا باغ پنجاب سره، نو په هغه وخت کښې د دوئ هم داسے غونتے کښې حیثیت وو۔ اوس هم په اټک کښې پښتانه شته که اټک ته مونږه پختونخوا وایو نو خیر دے ځکه چه زمونږه دا صوبه خو د پښتنو ده، دلته پښتانه اوسیږی لیکن دے صوبے ته چه مونږ پختونخوا وایو نو دا خو ډیره ناجائزه ده ځکه چه پښتانه پکښې اوسی نو چه مونږه کله مرکز شو، تر څو پورے چه مونږه غاړے ته وو او د دے ته وو نو پختونخوا وه خو چه کله مونږه مرکز کښې ګهیر شو نو بیا خو پختونستان شو۔ بیا جناب سپیکر صاحب، زما یقین دے، دوئ به په دے کښې ما سره تعاون اوکړی ځکه چه په 1947-48 کښې غالباً په بنوں کښې یو قرارداد پیش شو، باچا خان پیش کړے وو جی -----

جناب سپیکر: او۔

ایک آواز: 1946 کښې۔

جناب سپیکر: 1946 کښې په بنوں کښې جی، هغوی پختونستان پیش کړے وو-----

جناب محمد اورنگزیب خان، پټهانستان -----

جناب پیر محمد خان: پختونستان پاس شوے دے جی -----

جناب محمد اورنگزیب خان، نه پټھانستان -----

جناب سپیکر: تاسو هغوی پریږدئ چه هغوی خپله خبره اوکړی - Please don't interfere. لږ دوئ پریږدئ، ټولو له به موقع ورکوؤ۔

جناب پیر محمد خان: نو هغه د باچا خان خبره، زما یقین دے دوئ د باچا خان سپاهیان دي او د هغے اجلاس صدارت زمونږ د محترمے بی بی والد صاحب کړے وو چه پختونستان پکښے پاس شوے وو- بیا جناب سپیکر صاحب، انګریزانو دے ته شمال مغربی سرحدی صوبه یا North West Frontier Province نوم ورکړے دے- دا ټھیک ده چه دا څه نوم نه دے، په دے یوه خبره خو ټول متفق دي چه دا نوم څه نوم نه دے خو هغوی لکه حاجی عدیل حواله ورکړه، 1875 که څه، چه په هغے کښے هغه انګریز دے ته پختونخوا وئیلی دی نو هغوی خکه وئیل چه هغوی پختونستان صرف افغانستان ته وئیلو نو دلته مونږ ته ئے نه وئیل- چه نه ئے وئیل نو دے ته ئے پختونخوا لفظ استعمال کړو چه پختونخوا، نو د دے پختونخوا لفظ څه معنی نشته۔ پختونخواه، پختونخواه اوشي نو د دے څه مطلب دے؟ نو د دے په ځائے، دا لفظ بنیادی پختونستان د دوئ دے، زه وایم که دوئ په دے عمل اوکړی چه پختونستان ئے کړی نو دا به زیاته ښه نه وی؟ زه د دوئ سره په دے کښے مخالفت نه کومه، ټکره نه خورم خو صرف په دے لفظ لکه نجم الدین خان چه اووئیل چه پختونستان، دا لفظ، زمونږ یو زور وئیل چه ډیر خوږ په ما لګی، زه وایم چه دا لفظ ډیر خوږ دے خکه چه پخوا به د افغانستان نه مونږ اوریدل چه پختونستان غواړو او د قوم د پاره دا یوه ترانه به ریډیو باندے راتله نو هغه

پختونستان ډیر خوږ لفظ دے۔ که دوئ ټول په هغے باندے اتفاق اوکړی نو زما دا خیال دے، دا ځکه چه دا پختونخوا نن ایږدو، مونږه هاؤس ټول مجبوره هم کړی او پختونخوا ئے کړی خو سبا له دا پختونخوا به دوئ بیا بدلوی، پختونستان له بیا آخر کښے راځی نو د اوس نه ولے پختونستان له نه ځی چه پختونخوا د اوس نه کیږدی۔ جناب سپیکر صاحب! زه بذات خود خو د پختونخوا لفظ په حق کښ ځکه نه یم، زه یوسفزئ پختون یم، پښتو باندے ډیر ښه پوهیږم، د دے لفظ څه معنی نشته۔ په بعض علاقو کښ دا لفظ د کنزلو په معنیٰ استعمالیږی۔ "خواه" چه زما بعض رونړو ته پته ده چه د هغوی په علاقو کښے دا" خواه" لفظ د کنزلو په معنیٰ کښ استعمالیږی۔ خو بهرحال اوس د ټول هاؤس یکجهتیٰ ته ما اوکتل چه د مسلم لیګ او د اے این پی خو اتحاد دے او هغه خو زما یقین دے چه هغوی به د دے خلاف نه کوی۔ (تالیاں) د بلے غاړے پیپلز پارټیٔ ورسره هم خپله هغه ملګرتیا شریکه کړه، زما د جمعیت العلماء محترم رور هم خپل قرارداد د دے په حق کښے واپس کړو او آزاد ملګری زما رونړه چه دی، هغوی هم په دے خوشحاله دی چه یره ته په دے خپل قرارداد زور مه کوه، نو زه د هاؤس د یکجهتیٰ د پاره او بل هغه بله ورځ چه دوئ، اکرم خان درانی ونیل چه د شریعت په قرارداد کښے ئے مونږ سره تعاون کړے دے، تعاون ئے کړے دے خو ډیر زیاتے ئے را سره هم کړے دے جناب سپیکر صاحب، ځکه چه ډیر زیات ئے اوچهیړلو او تر دے پورے لاړل چه یره دا به کوم مذهب وی او دا به کومه فقه وی نو که دلته زه وایمه چه هندکو دلته کښے شته، دلته سرائیکی شته، دلته کښے کوهستانی شته، دلته چترالی شته، دے کښے به کومه پختونخوا وی، لکه د چا نوم به ورله ایږدو؟

نو مونږ سره ئے زیاتے کړے دے۔ د هغے نه پس ئے پاس کړے دے خو بهرحال یوه خبره لکه اکرم خان درانی اوونیل چه، بی بی اوونیل چه دلته کښے د فرنګی څه وراثت نه دے نو مونږ ته ئے پاتے دی۔ قوانین هم د فرنګی نه پاتے دی۔ زمونږ په دے خپله اسمبلئ کښے دا ټوله کارروائی د انګریزئ نه ده؟ دا د فرنګی نه دے؟ په دے صوبه کښے ما ته اوښایئ چه انګریزی د چا ژبه ده؟ د کوم قوم ژبه ده؟ یو کلے د ما ته دوئ اوښائی، د یو کلی هم انګریزی ژبه نشته دے۔ د دے ټولے صوبے ژبه پښتو اردو ده او ایک بټه تین حصه هندکو او هندکی ده۔ یو کلے ما ته څوک نه شی ښودلے چه هغه انګریزی ویونکی دی او ژبه زمونږه انګریزی ده، عدالتی نظام زمونږ ټول د انګریزئ دے، په عدالتونو کښے ټول قوانین د انګریزئ چلیږی۔ نو دغے طرف ته به هم، زما یقین دے چه دا به هم ښه غټه کارنامه وی، څنګه چه بی بی نن په دے قرارداد باندے ډیره کلکه ده او خوشحاله ده پرے، نو که هغے طرف ته دوئ هم توجه ورکړی نو بهرپور تعاون به ورسره کوو۔ چونکه دوئ هغه ورځ د شریعت قرارداد هم په آخر کښې پاس کړے دے، لهذا زه به خپل قرارداد Withdraw کړم۔

(تالیاں)

بیگم نسیم ولی خان: محترم سپیکر صاحب! ستاسو په وساطت او ستاسو د وساطت نه پس بیا د هاؤس په وساطت زه د اکرم خان درانی ــــ چه هغه د یو پارټئ غړے دے او یو پارټئ سره تړلے دے او هغه صحیح خبره اوکړه، د هغه ټولے خبرے ټهیک دی، د پیر محمد خان هغے کښے هم څه غلطی نشته، ما خو تاسو ته مخکښے هم وضاحت اوکړو چه زمونږ اوریجنل پښتونستان وو او دوئ دا خبره کوی، زما پلار هغه وخت کښے د صوبے صدر وو او

قرارداد هم هغوی پیش کړے وو خو بیا روستو که تاسو ورپسے اوګورئ نو بیا هغے پسے یو داسے توره تیاره جوړه شوه، یو داسے حال ئے راواغستو چه دا ئے کنځل کړل- چه چا به پښتونستان ونیل، بس ته به وائے چه دا دښمن دے نو مونږ زړه کښے سوچ اوکړو چه دا خپل قوم دومره خرابوؤ نه، منتشر کوؤ ئے نه- د دے وجے نه مونږ یو Mild شان نوم راویستلو ځکه چه ونیل به ئے "ستان"، نو ونیل به ئے چه افغانستان، نو ونیل به ئے چه چونکه دا افغانستان دے نو که دوئ پښتونستان وائی نو دا خان له یو بیل ملک غواړی- اے زورورو، چه هغه بیل ملک ئے درنه غوښتلو نو هغوی هډو د صوبے نوم بدل کړے نه دے او ځان ئے درنه بیل کړو، خبر هم ترینه نه شوئ- داسے په سلور پلیټ مو ورله ورکړو، خبر شوے نه یئ- چه څوک په زړه کښ غلا لری، هغه د زړه خبرے په ښُله نه کوی- زمونږ په زړه کښ غلا نشته، زمونږ په زړه کښے ډیر ساده سوده کار دے- مونږ د دے پاکستان خلق یو او بیا په پاکستان کښے د دے صوبے خلق یو- مونږ به اول خبره د ــــ وائی چه په کلی کښے اور اولګی خلق کلی له ورځی، چه په کندی کښے اور اولګی نو خلق کندی له ورځی، خو چه کور کښے اور اولګی نو بیا خلق خپل کور له راځی- نن زه په دے ډیره خوشحاله یم- د اکرم خان درانی به، زه دا هم وضاحت اوکړم لکه چه هغه اوونیل او هغوی پوره اونکړه- هغه وخت کښے د خدائی خدمت ګارو او د جمیعت العلماءِ هند، چه دے د کومے ډلے مشر دے، دا دواړه داسے سنګے په سنګے د آزادئ په جنګ کښے جنګیدل او هغه وخت کښے هغه علماء دین چه زه به هغوی ته علماء حق اووایم، په هغوی باندے خلقو د کفر فتوے د دے د پاره ورکړے وے چه هغوی د فرنګی خلاف

جنګیدل۔ اکرم درانی د هغے تسلسل یوه کړیٔ ده او زه هم د هغے تسلسل یوه کړیٔ یمه۔ چه کوم خانے کښے باچا خان بابا د خپلے خاورے جنګ کووَ، زه ډیره مشکوره یم د دوارو رونړو، د دوارو بچو او په خصوصیت مشکوره یم د حمید الله خان چه هغوی د سره نه هډو خپل قرارداد پیش نه کړو۔ زه ئے ډیره مشکوره یمه چه د هاؤس وخت ئے هم بچ کړو او زما زړه ئے هم اوساتلو۔ (تالیاں) د هاؤس رنګ ته ئے هم اوکتل، ډیره ئے مشکوره یمه، ډیره مننه، ډیره شکریه۔

جناب سپیکر: دا یو خبره ----

جناب سلیم سیف اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! یو منټ جی۔

جناب سپیکر: یو سیکنډ جی۔

جناب سلیم سیف اللہ خان: یو منټ جی ما له -----

جناب سپیکر: یو سیکنډ، یوه خبره اوکړم جی بیا به بحث له -----

جناب سلیم سیف اللہ خان: *جناب سپیکر! چونکہ بعض ممبران اس قرارداد کے حق میں نہیں ہیں، لہذا انہیں بھی موقع دیا جائے تا کہ وہ بھی اپنے خیالات کا اظہار کرسکیں۔*

جناب سپیکر: یو منټ، ګوریٔ جی، دا بعضے خبرے سلیم خان، داسے دی چه تاسو به نوټ کړے وی چه زه په هر یو څیز باندے وخت ورکوم خو چه زه یوه خبره پخپله کول غوارم او تاسو پاسئ نو د دے مطلب دا دے چه پریس د دا اووائی چه سپیکر صاحب ټائم نه ورکولو۔ ما بار بار تاسو ته اووئیل چه ړومبے حق د Movers وو۔ اوس زه تاسو ته فارموله مخے ته ایږدم او یو یو کس ___ تر صبا ماښامه پورے به دا سیشن چلوم چه تاسو بس نه وی وئیلے، نه خو په دے څیز باندے زه خفه کیږم خکه چه قانون ته ګوریٔ، قانون کښے دا ده

چه چا Move کړے دے نو هغه به خبرے کوی۔ بیا تاسو بار بار، که ما تاسو پرېښودئ، یو کس هم نه پرېږدم، .Till tomorrow I will sit here، پوهه شوئ؟ خو لږ لیګل طریقه کار ته ګورئ۔ تاسو په دے طریقه راپاسئ چه په هغے باندے په ما غلط Impression پرېوځی، .I am very sorry اوس طریقه کار به داسے وضع کړو، یو منټ جی، طریقه کار به داسے وضع کړو چه روميے به، دلته د پارلیمانی پارټو لیډران ناست دی، پیر صاحب ناست دے، زمونږ د اپوزیشن لیډر صاحب ناست دے، تاسو د یو پارټۍ لیډر یئ، تاسو ناست یئ او یو نوے پارټی خو خیر هغه ما سره رجسټرډ هم نه ده، هغه شته دے هم نه، خو ما سره رجسټرډ هم نه ده او د بلے پارټۍ چه کومه مدعا وه، هغوی هغه خپلے خبرے اوکړے نو روميے به دوئ ته موقع ورکړو۔ خو صرف ټائم، زما د طرف نه هیڅ پابندی نشته دے، زه به خپل ټائم ورسره ورسره Extend کوم او نور صاحبان آزاد والا هم، خیال م دے درته جی، تاسو ته م هم خیال دے، غټه پارټی هم ستاسو ده، د آزادو والا ده، تاسو ته به هم موقع درکوم۔ نو زه به دومره اووایم چه ټائم ستاسو خپل Discretion دے۔ د سپیکر د طرف نه په تاسو د ټائم هیڅ قدغن نشته دے۔ (تالیاں) جی! پیر صاحب۔

سید محمد صابر شاہ: جناب سپیکر! میں مشکور ہوں جی آپ کا کہ آپ نے مجھے یہاں اپنے خیالات کے اظہار کا موقع دیا۔ آج بڑا اہم دن ہے اور اس معزز ایوان میں بڑی اہم قرار دادیں پیش ہوئی ہیں جو کہ اس صوبے کے نام کی تبدیلی کے حوالے سے ہیں۔ حقیقت یہ ہے جناب سپیکر اور میں اس حقیقت کا اظہار کرتا ہوں کہ این ڈبلیو ایف پی کے حوالے سے جہاں تک اس نام کا تعلق ہے تو حقیقتاً یہ نام جو ہے، انگریزی استعمار کی یہ نو آبادی

شمال مغربی حصے میں واقع ہونے کی بنیاد پر انگریز نے اس کا نام شمال مغربی سرحدی صوبہ رکھا تھا اور وہی نام جو ہے' اس کی تبدیلی کے حوالے سے میں کہوں گا کہ یقیناً انگریز نے یہ نام دیا اور میں مسلم لیگ کے حوالے سے یہ کہوں گا کہ اس بات پر ہمارا کوئی اختلاف نہیں ہے کہ اس صوبے کو اور اس صوبے کے عوام کو ایک نام ملنا چاہئے۔ صوبے کا نام ہمیں تبدیل کرنا چاہئے۔ (تالیاں) تاکہ اس صوبے کے عوام کی شناخت ہو اور جناب سپیکر' یہ مسئلہ کوئی نیا مسئلہ نہیں ہے۔ یہ مسئلہ یقیناً آج سے پچاس سال پہلے کا ہے یعنی جب سے پاکستان معرض وجود میں آیا ہے۔ یہ بہت پرانا مسئلہ ہے اور اس مسئلے کو میں سمجھتا ہوں کہ حل کرنے کیلئے یقیناً یہ معزز ایوان ہی ایک ادارہ ہے کہ ہم یہاں پر بیٹھ کر اس مسئلے پر بات کریں اور آج تو اللہ تعالیٰ کی بڑی کرم نوازی ہے' بڑا کرم ہے اور میں سمجھتا ہوں کہ پاکستان کی سیاسی تاریخ کے اندر یہ ایک بہت ہی انوکھی بات ہے اور ایک ایسی مثال ہے کہ جو اس سے پہلے قائم نہیں ہوئی اور میں یہ سمجھتا ہوں کہ پاکستان کے اندر ہماری سیاسی پارٹیوں کا جو کردار ہے' تو نہ آئندہ شاید اس کی مثال ہمارے سامنے آسکے گی۔ عوامی نیشنل پارٹی اور پاکستان مسلم لیگ نے میاں نواز شریف کی قیادت میں جس مثالی اتحاد' جو ان دونوں پارٹیوں کے درمیان قائم رہا ہے اور اس ملک اور اس صوبے کی ترقی کیلئے ہم جس طرح ایک ساتھ چلتے آئے ہیں اور جس طرح اس اتحاد کے نتیجے میں پوری قوم کی نظریں آج اس حکومت پر صوبہ سرحد کے اندر اور صوبہ سرحد کے باہر لگی ہوئی ہیں تو ایسے حالات کے اندر جناب سپیکر' مسائل جو ہیں تو میں اس حوالے سے یہ کہوں گا کہ آج پاکستان مسلم لیگ بڑے کھلے دل کے ساتھ صوبے کے نام کی تبدیلی کے حوالے سے کہ یہاں پر ایک مثالی اتحاد قائم ہے اور ایک اچھا ماحول ہے اور بقول شاعر

موسم اچھا' پانی وافر مٹی بھی زرخیز
جس نے اپنا کھیت نہ سینچا وہ کیسا دہقان (تالیاں)

ان حالات کے اندر افہام وتفہیم سے مل بیٹھ کر ہم یہ پیشکش کرتے ہیں کہ اس صوبے کے نام کے مسئلے کو افہام وتفہیم کے ساتھ حل کیا جائے۔ جناب سپیکر! آج ہمارا ملک بیشمار مسائل سے دوچار ہے۔ ملک کے اندر ناخواندگی کو دیکھیں جو اپنی جگہ ایک بہت بڑا مسئلہ ہے۔ جناب سپیکر! آج قوم بے روزگاری کے چنگل میں پھنسی ہوئی ہے اور ہمارے لیے ایک بہت بڑا مسئلہ ہے۔ بے روزگاری ہے، مہنگائی ہے اورخصوصاً ملک کے اندر آج ہم جن حالات سے دوچار ہیں جو کہ ہمیں ورثے میں ملے ہیں، ملک کے اندر جو ایک تباہ شدہ ڈھانچہ آج اس حکومت کے حوالے کیا گیا ہے تو آج اس کی Repairs کیلئے، اس تباہ شدہ ڈھانچہ کی تعمیر کیلئے، آج اس ملک کے اندر جس رواداری کی، جس افہام وتفہیم کی اور خصوصاً میں کہوں گا یہ نظام کہ جس کو آج کچھ قوتیں داؤ پر لگانا چاہتی ہیں اور وہ اسلئے کہ ان حالات سے فائدہ اٹھا کر جو عوام کی حمایت سے محروم ہیں، ہمارے سسٹم کا جو دروازہ ہے، اس راستے سے ان ایوانوں میں نہیں آ سکتے، وہ اقتدار تک نہیں پہنچ سکتے، تو آج وہ قوتیں چاہتی ہیں کہ اس ملک کے اندر عدم استحکام ہو، آج وہ قوتیں چاہتی ہیں کہ اس ملک کے اندر اس کی ترقی اور اس ملک کو مسائل اور مشکلات سے نکالنے کیلئے جو راستہ اختیار کیا گیا ہے، جو کوششیں ہو رہی ہیں اور جس انقلاب کی طرف ہم رواں دواں ہیں، اس راستے کو روکا جائے، ملک کے اندر عدم استحکام پیدا کیا جائے اور ملک کے اندر انارکی پیدا کی جائے اور یہی وجہ ہے کہ آج اس ملک کے اندر یہ کوشش ہو رہی ہے کہ مسلمان کو مسلمان سے لڑا دیا جائے، فرقوں کے اندرہمیں تقسیم کیا جا رہا ہے۔ آج مسجدوں سے لاشیں اُٹھ رہی ہیں، آج خود مسلمان، مسلمان کا دشمن بن رہا ہے۔ یہ اتنے بڑے مسائل، یہ اتنی بڑی مشکلات اور یہ اتنے بڑے Challenges ہمارے سامنے ہیں۔ جناب سپیکر! آج اس معزز ایوان میں آپ کے حوالے سے انشاء اللہ تعالیٰ جو ہمارا اتحاد ہے اور انشاء اللہ نواز شریف کی قیادت میں ہم نے یہ عزم کیا ہوا ہے کہ ہمیں نہ صرف حالات کا مقابلہ کرنا ہے، نہ صرف ہم نے ان

مشکلات سے قوم کو باہر نکالنا ہے بلکہ سب سے بڑا چیلنج جو ہمارے سامنے ہے، وہ وہ قوتیں ہیں جو اس ملک کے اندر عدم استحکام چاہتی ہیں، وہ قوتیں جو اس نظام کو درہم برہم کرنا چاہتی ہیں۔ انشاء اللہ ہم ان قوتوں کے مقابلے میں بھی باہم متفق اور متحد ہیں اور انشاء اللہ ہم ان کے عزائم کو خاک میں ملائیں گے ------ (تالیاں)

<u>جناب سپیکر</u>: ټائم کورئ ډیر لږ دے. Please come to the point جی! (قہقہے)

<u>سید محمد صابر شاہ</u>: جناب سپیکر! میں کہہ دیتا ہوں آپ کے Behalf پر۔ جناب سپیکر! آج کی یہ اسمبلی، اس میں کوئی شک نہیں کہ یہ ایوان اس صوبے کا سب سے بڑا قانون ساز ادارہ ہے۔ اس صوبے کے عوام کی، سب کی متفقہ نمائندگی اس ایوان کے اندر ہے لیکن میں سمجھتا ہوں کہ ایک اسمبلی، ایک باعزت اور باوقار ایوان کے ساتھ ساتھ یہ اسمبلی اس صوبے کے عوام، یہاں کے پختونوں اور یہاں کی قومیتوں کا ایک مشترکہ جرگہ بھی ہے جو اس صوبے کی مشکلات، اس صوبے کے اندر رہنے والے عوام کی مشکلات کو نہ صرف جانتی ہے بلکہ ہمیشہ اس ایوان نے اس صوبے کے عوام کی مشکلات کو حل کرنے کیلئے اپنا کردار بھی ادا کیا ہے اور آج ہم اسی ایوان سے یہ توقع رکھتے ہیں کہ جناب، پختونوں کے معاشرے میں جب بھی کوئی مشکل سامنے آتی ہے، جب بھی کوئی مرحلہ ہمارے سامنے آتا ہے تو ہمیشہ پختونوں کا جرگہ، ان قوموں کے جرگے بیٹھ کی ان مسائل کو حل کرتے ہیں اور آج سب سے بڑا جو جرگہ یہاں پہ ہے، ہم اسی ایوان سے یہ توقع رکھتے ہیں اور اسی ایوان کے اندر، میں مسلم لیگ کی طرف سے اسی جرگے کے سامنے یہ تجویز رکھتا ہوں کہ جس طرح ہم ہر مسئلے کو افہام وتفہیم سے حل کرتے ہیں، اس صوبے کے نام کے مسئلے کو بھی افہام وتفہیم سے حل کرنے کیلئے ہم چاہیں گے کہ بجائے اس کے کہ ہم اس مسئلے کو ووٹنگ کیلئے پیش کریں یا اس کی حمایت یا مخالفت کریں، ہم چاہتے ہیں کہ یہاں اس معزز ایوان کی مختلف پارٹیاں یا جو جماعتیں ہیں، ان تمام کے نمائندوں کی ایک کمیٹی

بنائی جائے اور وہ کھلے دل کے ساتھ اس بات کا جائزہ لیں کہ ہم نے اس صوبے کے عوام کو کون سا نام دینا ہے جو تمام کو متفقہ طور پر قابل قبول ہو' جو سب کے دلوں کی آواز ہو اور جس سے ہماری یکجہتی کی بھی عکاسی ہوتی ہو۔ جناب سپیکر! ایک حقیقت کی طرف آتا ہوں۔ میں اپنی پارٹی کی طرف سے ایک تجویز دے رہا ہوں۔ میں اس حقیقت کی طرف آتا ہوں۔ بات یہ ہے کہ اس مسئلے پہ جو کہ ہمارا مسئلہ ہے بلکہ ہم سب کا مسئلہ ہے اور میں سمجھتا ہوں کہ تمام پارٹیوں کا مسئلہ ہے' اس صوبے کے عوام کا مسئلہ ہے اور وہ مسئلہ کہ اس کو جو نام ہم دیں گے' حقیقتاً یہ ہے کہ یہاں سے تو ہماری ایک آواز جاتی ہے اور حقیقتاً اس مسئلہ کو قومی اسمبلی میں جا کر' پارلیمنٹ میں جا کر حل ہونا ہے اور پارلیمنٹ کیلئے میں سمجھتا ہوں کہ جو بھی ہماری آواز جائے اور جب متفقہ طور پر ایک کمیٹی کے ذریعے سے مختلف پارٹیاں اس مسئلہ کو حل کریں گی' تو قومی اسمبلی کے اندر جو ممبران ہیں' ان تک ہماری یہ آواز جائے گی کہ آج جو نام یہاں سے آرہا ہے' وہ کسی ایک پارٹی کا نہیں ہے' کسی ایک جماعت کا نہیں ہے' کسی ایک طبقے کا نہیں ہے بلکہ یہ آواز صوبہ سرحد کے عوام کی متفقہ آواز ہے۔ اسلئے میں کہوں گا کہ میری اس تجویز کے مطابق ایک کمیٹی بنا کر اس کے ذریعے سے کیا جائے تاکہ ہماری جو افہام وتفہیم اور یکجہتی ہے' وہ قائم اور دائم رہے اور میری اللہ تعالیٰ سے دعا ہے اور میرا یہ یقین اور ایمان مصمم ہے کہ انشاء اللہ ہمارا اتفاق اور اتحاد اور اس صوبے کے عوام کی یکجہتی قائم و دائم رہے گی۔ شکریہ جی۔

Mr. Speaker: Honourable Leader of the Opposition, please.

که تاسو هغه له مخکښې ورکوئ نو تاسو مخکښې اوکړئ سلیم خان۔

جناب سلیم سیف اللہ خان: بسم اللہ الرحمٰن الرحیم ہ جناب سپیکر! میں آپ کا مشکور ہوں کہ آپ نے مجھے موقع دیا۔ جناب سپیکر! آج یہ کہا جا رہا ہے کہ سب اس قرارداد کے حق میں ہیں لیکن میں شروع سے یعنی ابتدا سے ہی یہ بتا دوں کہ کم از کم میں اس کے

حق میں نہیں ہوں۔ جناب سپیکر! میرے خیال میں پختون کی یہ پہچان ہے کہ اگر وہ اکیلا بھی ہو تو وہ حق کی آواز بلند کرے گا۔ جیسے کہ اس موقع پر جناب پیر صابر شاہ صاحب نے جو فرمایا ہے کہ ایک طرف ملک کے جو حالات ہیں' آپ دیکھیں جی کہ آج ملک کے حالات کس طرف جا رہے ہیں؟ جناب سپیکر! آپ مجھے بھی دو چار منٹ دیں گے تاکہ میں بھی ملکی حالات پر روشنی ڈال سکوں۔ کل جو واقعات کراچی میں ہوئے ہیں جن میں ہمارے مشیرِ وزیر اعظم پر گولی چلی ہے' آپ کے Interior Minister کے بہنوئی کو جو ایس ایس پی تھے' دن دیہاڑے گولی مار کر شہید کر دیا گیا ہے' تو کیا یہ پاکستان اسلئے قائم کیا گیا تھا کہ ہمارے لوگوں کی جان و مال کا تحفظ نہیں ہوگا؟ آئیں' اپنی معاشی حالت کو دیکھیں۔ ہم باتیں کرتے ہیں کہ برطانیہ' کیا آج ہم آزاد ہیں' ہمیں جو Dictation آ رہی ہے' وہ کہاں سے آ رہی ہے؟ کیا وہ ان ایوانوں سے آ رہی ہے؟ اس ایوان کو تو آپ نے ایک سو بیس دن کی مجبوری کے باعث بلایا ہے' یہ تو اس ایوان کا تقدس ہے کہ ایک سو بیس دن کیونکہ وہ پھر غیر آئینی ہو جاتا' اسلئے اس ہاؤس کو بلایا گیا ہے تاکہ آئین کی خلاف ورزی نہ ہو سکے۔ یہ تو آئین کا تقدس ہے۔ جناب سپیکر! میری صرف یہ گزارش ہے کہ ہم بات کرتے ہیں نام کی تبدیلی کی' ہم بات کرتے ہیں "پختونخوا" کی اور ہم بات کرتے ہیں پختونستان کی۔ جناب سپیکر! آپ کو علم ہے کہ اس صوبے میں ننانوے فیصد مسلمان آباد ہیں تو پھر کیا وجہ تھی کہ اس صوبے میں ریفرنڈم کرایا گیا؟ جناب سپیکر! میں آپ سے یہ پوچھنا چاہتا ہوں کہ یہ ریفرنڈم اس صوبے میں کیوں کرایا گیا کہ آپ ہندوستان کے ساتھ شامل ہونا چاہتے ہیں یا پاکستان کے ساتھ اور پھر اس کے بعد پختونستان کا نعرہ لگا کہ اس کا نام پختونستان ہونا چاہئے؟ جناب والا! اسی ایوان میں پختونخوا کی قرارداد' مرحوم جو اب چل بسے ہیں جناب میر افضل خان صاحب کے دور میں اور اس وقت بھی پیپلز پارٹی اور اے این پی نے مل کر یہ قرارداد پیش کی تھی اور میں

ان دوستوں کو داد دیتا ہوں جنھوں نے اس وقت بھی اس قرارداد کی مخالفت کی تھی اور اسے فیل کرایا تھا۔ جناب والا! نام کی بڑی تاریخ، ایک تو میری گزارش یہ ہے کہ چونکہ میرا تجربہ بہت کم ہے، لہٰذا مجھے یہ سکھایا جائے یا بتایا جائے کہ آیا آئینی ترامیم صوبہ سرحد کی اسمبلی کر سکتی ہے یا نہیں؛ اگر نہیں کر سکتی تو میرا جو علم ہے کیونکہ میں پالیٹیکس کا ایک طالبعلم ہوں، تو اگر یہ نیشنل اسمبلی کر سکتی ہے اور سینیٹ کر سکتی ہے، جہاں پر آپ کی بہت اکثریت ہے تو آپ ایک دن میں ایک Amendment پاس کر سکتے ہیں اور آپ نے کیا بھی ہے، تیرہویں اور چودھویں ترمیم، تو اس میں کیوں یہ ترمیم نہیں لائی گئی؟ اگر آپ کا کوئی معاہدہ ہوا ہے تو آپ لوگوں کا ایک سال گزر چکا ہے تو پھر اس معاہدے کی پابندی کیوں نہیں کی جاتی، کیوں وہاں پر یہ قراردادیں نہیں لائی جاتیں؟ میں تو یہ پوچھنا چاہتا ہوں کہ آیا وہاں پر صوبہ سرحد کا کوئی نمائندہ نہیں ہے نیشنل اسمبلی یا سینیٹ میں کہ وہاں اُٹھائیں۔ چلیں اگر آئینی ترمیم نہیں لا سکتے تو کم از کم ایک قرارداد ہی لے آئیں۔ پاکستان بننے سے پہلے بھی یہاں کئی حکومتیں گزری ہیں جناب سپیکر اور کسی نے اس وقت یہ مناسب نہیں سمجھا کہ ایک قرارداد پیش کی جائے تاکہ این ڈبلیو ایف پی کا نام تبدیل کیا جائے۔ یہ کم از کم میرے علم میں تو نہیں ہے۔ ہو سکتا ہے کہ بعض دوست اس کی وضاحت کرنا چاہیں۔ جناب والا! ہمیں تو یہ بھی بتایا گیا ہے کہ ہم افغان ہیں۔ پختون جو ہیں، وہ تو قوم افغان ہیں اور پھر بعض دوست کہتے ہیں کہ اس کو افغانستان یا افغانیہ کا نام کیوں نہیں دیتے، یہ پٹھان کا لفظ تو انگریزوں نے رکھا ہے۔ یہ ٹھیک ہے کہ ہم پختون ہیں لیکن افغان بھی ہیں تو پھر اس کا نام آپ افغانیہ کیوں نہیں رکھنا چاہتے؟ جناب والا! آج Dictation کہاں سے آ رہی ہے، ہم تو فرنگی کی بات کرتے ہیں، کیا آج آئی ایم ایف اور واشنگٹن کے بغیر یہ حکومت چل سکتی ہے؟ میں یہ سوال کرنا چاہتا ہوں کہ آج ایک طرف تو عوام تباہ و برباد ہو رہے ہیں اور دوسری طرف کہا جاتا ہے کہ

آئی ایم ایف نے کہا ہے کہ فلاں کی قیمتیں بڑھا دیں، Devaluation کر دیں، لوگوں کو بیروزگار کر دیں۔ تو آیا یہ حکومت یہاں سے چل رہی ہے یا کہیں اور سے؟ اور اب تو ایک نیا رواج بن چکا ہے جناب سپیکر، کہ جتنے بینک فروخت ہو رہے ہیں، سارے غیر ملکیوں کو دیے جا رہے ہیں۔ انشاء اللہ عنقریب وہ دن آ رہا ہے کہ آپ کے سارے بینک جو ہیں، وہ غیر ملکی چلائیں گے اور وہ پھر کہیں گے کہ سلیم سیف اللہ خان، تم نے آج ٹھیک بیان نہیں دیا، اسلئے آپ کیلئے نہ کوئی قرضہ ہے اور نہ کچھ اور۔ تو میری صرف یہ گزارش ہے جناب سپیکر، کہ ہمیں جذبات میں نہیں آنا چاہئے۔ میں پیر صابر شاہ صاحب کی تجویز سے مکمل اتفاق کرتا ہوں اور میں امید کرتا ہوں اور ساتھ ساتھ یہ عرض بھی کرتا چلوں کہ 1973 کے آئین میں، کاش کہ جس وقت سب پارٹیاں بیٹھی تھیں، جن میں عوامی نیشنل پارٹی بھی تھی، جماعت اسلامی بھی تھی، پیپلز پارٹی بھی تھی اور مسلم لیگ بھی تھی----

میاں مظفر شاہ: پوائنٹ آف آرڈر، سر۔

Mr. Speaker: No point of order.

جناب سلیم سیف اللہ خان: میں نے Interrupt نہیں کیا تھا۔ میاں صاحب! آپ اس کے بعد کریں۔ تو جناب سپیکر، میں صرف یہ عرض کرنا چاہتا ہوں کہ 1973 کے آئین میں 'North West Frontier Province' کا نام تبدیل کیوں نہیں کیا گیا؟ اور اس کے بعد، میں تو آفتاب خان سے یہ بھی پوچھ رہا تھا کہ چونکہ آپ اور اے این پی کا اس پر--- جناب سپیکر، میری گزارش ہے کہ اگر ان کو میری باتیں بری لگ رہی ہیں تو میں تقریر ختم کر دوں گا۔

Mr. Speaker: No disturbance please.

جناب سلیم سیف اللہ خان: جناب والا! 1991ء میں یہ قرارداد پیش ہوئی لیکن پاس نہ ہو سکی۔ اس کے بعد جب آفتاب خان کی حکومت تھی اور ان کو پتہ تھا کہ پیپلز پارٹی اور اے

این پی نے اس وقت اس کے حق میں ووٹ دیا تھا تو بہتر یہ ہوتا کہ اس وقت دوبارہ ایک کوشش کی جاتی کیونکہ پیپلز پارٹی برسر اقتدار تھی اور دونوں مل کر شاید اس وقت Amendment کر سکتے تھے۔ جناب والا! "پشاور" کا مطلب ہے "پیشہ ور"، اور ہم نے تو یہ سنا ہے کہ پیشے والے لوگ یہاں رہتے ہیں۔ تو میرے خیال میں سب سے پہلے میری پشاور سے تعلق رکھنے والے ممبروں سے گزارش ہے کہ وہ بھی اس پر سوچیں کہ "پیشہ ور" تو کوئی نام نہیں ہے کہ پیشے والے لوگ یہاں رہتے ہیں، تو پھر چاہئے یہ کہ پشاور کے نام پر بھی ہم سوچیں اور ہو سکتا ہے کہ دیگر علاقوں میں بھی، کل ہو سکتا ہے کہ کراچی کے لوگ کہیں کہ یہ کراچی کیا ہے؟ یہاں تو اکثریت مہاجروں کی ہے، اس کا نام تو "مہاجرستان" ہونا چاہئے۔ تو میری حکومت سے یہ اپیل ہے، حکومتی بنچز سے اپیل ہے کہ اس وقت ملک کے جو حالات ہیں، پیر صابر شاہ نے بڑی صحیح نمائندگی کی ہے کہ اس وقت ملک کے حالات اس چیز کے متقاضی نہیں ہیں کہ آپ آج بے چینی پیدا کریں، ہزارہ کے لوگ کچھ کہیں، جنوبی اضلاع والے کچھ کہیں اور دیگر اضلاع والے کچھ اور کہیں، تو اس سے میرے خیال میں مزید بے چینی پیدا ہوگی، میری حکومت سے گزارش ہے کہ وہ اسے واپس لے لیں۔ شکریہ۔

جناب سپیکر: ملک نقیب اللہ خان۔

ملک نقیب اللہ خان: جناب سپیکر صاحب! زما یو تجویز دے جی چه یو خو دیر سخت اوږدی یو، تقریباً پاؤ کم درے بجے شوے او د مونږ ټائم هم دے او سلیم خان هم دا خبره اوکړله چه په دغه ځیز باندے که ریفرنډم اوکړی، هر سړے که څوک د دے په حق کښې وی نو هغه به ووټ ورکړی که څوک نے په حق کښې نه وی، داسے په لنډو نے خلاصه کړه۔ دومره ولے اوږدوی جی؟ دا تقریرونه چه مونږ کوؤ نو سبا راسے به جی د لوږے مړه شو۔ ووټ دِ په دے

باندے اوشی او په لنډو فیصله دِ پرے اوشی۔

Mr. Speaker: Honourable Leader of the Opposition, please.

جناب آفتاب احمد خان شیرپاؤ (قائد حزب اختلاف): جناب سپیکر! زه ستاسو مشکور یم۔ زه زیاتے خبرے نه کول غوارم په دے قرارداد باندے ځکه چه نجم الدین خان زمونږ د پارټئ سره تعلق لری او هغه دا قرارداد پیش کړے وو او هغه پرے تفصیلاً خبرے اوکړے۔ د نورو پارټو ملګرو پرے هم خبرے اوکړے۔ صرف دوه درے ځلور خبرے او بیا به زه ستاسو نه، د دے نه پس خو که نن دا ختم شو نو ډیره به ښه وی ځکه چه زما په اسلام آباد کښے څه کار دے، نو بهتره به دا وی۔ زه هم دے ته نن ایسارووم۔ بالکل زما ووټ به، چه څه زه خبره کوم د هغے عکاسی کوی۔ جناب سپیکر صاحب! دا اسمبلی چه په وجود کښ راغله نو هغه وخت هم ما دا تقریر کړے وو چه د صوبے د مفادو چه کومه خبره وی، نو په هغے کښے به مونږه خامخا تعاون کوؤ او دا اته، نهه میاشتے اوشوے د دے موجوده حکومت۔ د دے قرارداد نه درے، ځلور ورځے مخکښے اخبار والا ما له راغلی وو او ما ته نے وئیل چه تاسو ته څه Approach شوے دے، نو ما هغوی ته اووے چه مونږ ته هیڅ Approach نه دے شوے۔ دا خو د هغے نه پس د بشیر صاحب او د حاجی عدیل صاحب مهربانی وه چه هغوی راغلل۔ یوه خبره خو د نوم د تبدیلئ، د صوبے د حقوقو د پاره که حکومت دا موزوں هم نه ګنړی چه مونږه د اپوزیشن سره په دے کښ صلاح کوؤ، مینډیټ د دوئ سره شته، په دے کښے هیڅ شک نشته خو بیا به هم On the floor of the House د دے صوبے د حقوقو د پاره به مونږه آواز اوچتوؤ، د هغے د پاره به مونږه جد و جهد کوؤ۔ (تالیاں)

سلیم سیف اللہ صاحب اوفرمائیل چه په 1990ء کښے پیپلز پارټئ او عوامی نیشنل پارټئ مشترکه طور باندے دا قرارداد پیش کړے وو، داسے خبره نه وه- قرارداد عوامی نیشنل پارټئ د طرف نه پیش شوے وو او هغه وخت میر افضل خان صاحب خدائے پاک دِ هغه اوبخښی هغه چیف منسټر وو او د هغوی پارټی د هغے په حق کښے نه وه- مونږه د دے صوبے د حق د پاره د عوامی نیشنل پارټئ مرسته کړے وه- (تالیاں) او هم په دے سلسله کښے چه هغه بله ورځ زما دا دوه معزز رونړه مونږ له راغلل نو ما ورته وئیل چه مونږ خو On record یو ریزولیوشن په هغے وخت کښے که فیل شوے هم دے خو مونږ د هغے د پاره ووټ ورکړے دے- زما په خیال زه د هغه وخت په اپوزیشن کښے واحد سړے یمه چه کوم ممبران وو چه نن اپوزیشن کښے ناست دی- ما د هغے په حق کښے ووټ اچولے وو او زه د دے نه انحراف نه شم کولے او زمونږ پارټی او که نجم الدین خان دا قرارداد هم پیش کړے دے، د نن نه څلور، شپږ میاشتے مخکښے نو زمونږ سره د صلاح مشورے نه پس ئے پیش کړے دے- زما د صلاح مشورے نه بغیر دا قرارداد دهٔ نه شو پیش کولے- (تالیاں) نو دا 14th Amendment خو وو، ما د ده خلاف ضرور ــــ (قہقہے) جناب سپیکر صاحب! په Points scoring کښے هم نه ځو- هغه بله ورځ هم دے ملګرو راته اووئیل چه ستاسو هم حق دے، هیڅ Points scoring کښے نه ځو، خو زمونږ د پارټئ دا یو اصولی موقف دے چه کوچه یو نیشنل پارټی ده، په ټولو صوبو کښے شته خو کوم ځائے کښے چه د یو صوبے د حقوقو خبره وی نو هلته مونږ ته دا خود مختاری شته چه مونږ خپل یو مؤقف اخلو او دغه شان په کالا باغ ډیم باندے مونږ یو مؤقف اغستے

دے۔ (تالیاں) زمونږ په هغے موقف کښے تر اوسه پورے څه فرق نه دے راغلے او انشاء الله تعالیٰ د دغے اصولو تحت به مونږ هم دغه شان مخکښے خو۔ خو دا قرارداد چه کله مونږ په حکومت کښے وو او د عوامی نیشنل پارټئ د طرف نه راغلے وے نو تاسو به زمونږ ایمان کتلے وو او هم د دے قرارداد په حق کښے به مونږ ووټ اچولے وو او دا قرارداد به مونږ منظور کړے وو۔ (تالیاں) ځکه چه زمونږ یو اصولی موَقف دے۔ خو جناب سپیکر صاحب، دا یو رومبنے قدم دے، یو قدم واغستے شو خو که په دغه کښے د دے قرارداد څه نتیجه راوځی، نو آیا د دے نه پس هم څه نور لائحه عمل طے کول دی، مخکښے تلل دی، دویم قدم اغستل دی او که نه؟ (تالیاں) آیا دا قرارداد به په نیشنل اسمبلئ کښے هم، ځکه چه هغه فورم دے، مونږ د دلته پاس کړو خو آئین کښے به هم هغه نوم لیکلے شوے وی چه کوم اوس دے، د هغے د پاره پکار دا دی چه دا دِ دَ دے نه پس د نیشنل اسمبلئ په فورم باندے پیش شی او هلته Two-third majority ده چه هلته دا پاس شی۔ (تالیاں) چونکه دلته خو په صوبائی خود مختیارئ باندے مونږ یقین لرو نو مونږ ته دوئ اووئیل، ما په دے کښے هیڅ قسم څه تپوس مپوس نه دے کړے ځکه چه مونږ ته دا اختیار شتے، خو د عوامی نیشنل پارټئ د طرف نه مونږ ته پیش شو، نو اوس که زمونږ په قومی اسمبلئ کښے لږ ممبران دی که ډیر دی، هغوی ته به ئے هم اورسوو او هغوی به ستاسو په حق کښے په دے باندے قرارداد پیش کړی۔ (تالیاں) دا زه وعده نه کوم خو زه به ستاسو خبره هلته اورسوم۔ خو جناب سپیکر، آیا دے قرارداد سره یا دے نوم بدلولو سره د Amendment نه علاوه هم څه نور څه کول دی او که نه؟ زه امید لرم چه نن

چه کوم د قرارداد Movers دی، نن چه د چا اکثریت دے، هغوی به د دے صوبے د بهترئ د پاره، د دے صوبے د ترقئ د پاره، د دے صوبے د خوشحالئ د پاره او په دے صوبه کښے یو داسے ماحول جوړولو د پاره به یو پروګرام ضرورمخے ته راولئ چه صبا زمونږ راتلونکی نسلونه دا اووائی چه او پختونخوا نوم صرف د نوم حده پورے نه وو، د هغے سره په دے صوبه کښے خوشحالی هم راغلے وه، دے صوبه کښں ترقی هم شوے ده۔ (تالیاں)

او د دے صوبے په عوامو کښے خوشحالی راغلے ده، دغه اهم خبره ده۔ آیا په هغے کښے زمونږ ملګری کوم چه په هغے سائډ باندے ناست دی، دے ته تیار دی، آیا هغوی دے کښے کامیابیدے شی؟ (قہقہے) آیا هغوی کښں دومره Will power شته چه هغوی د دے صوبے څکه چه اصل نوم به په هغه ورځ دے صوبے سره بالکل اولګی چه د دے صوبے خلق، د دے صوبے عوام خوشحاله وی، د هغوی په سترګو کښے هغه چمک وی چه او مونږ د دے صوبے نوم بدل کړو او د هغے نه پس په دے صوبه کښے ترقی راغلے ده۔ نو دغه زما بنیادی مقصد دے او په دغے باندے به زه (تالیاں) بهرحال مونږ د قرارداد حمایت کوو۔ (تالیاں)

جناب سپیکر: زما خیال دے جی اوس به قرارداد هاؤس ته پیش کړو۔ Is it the desire of the House that the Resolutions moved by the Hon'able Members, the names are well known to you, may be passed? Those who are in favour of it, may say 'Yes' and those against it, may say 'No'.

(The motion was carried.)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The resolution is -----

جناب پیر محمد خان: پوائنٹ آف آرڈر، سر- جناب سپیکر صاحب! په دے کښې د 'Noes' آواز راغلے نو رولز پکښې یو خبره کوی- رول 214 دا وائی جناب سپیکر صاحب، چه که داسے دغه راشی لکه اوس د 'Noes' آواز اوشو، څه پته لگی څو کسانو 'No' کړے دے؟ -----

جناب نجم الدین: سر! دا Counting پکار دے جی-

Mr. Speaker: There is only one 'No'.

جناب نجم الدین: دا Counting پکار دے جی- (شور) ووټنګ پکار دے جی-

جناب سلیم سیف اللہ خان: که دوو کسانو هم اوکړو نو -----

جناب پیر محمد خان: جناب سپیکر! د رول 214، سب رول (2) -----

جناب اکرم خان درانی: جناب سپیکر صاحب! ووټنګ پکار دے -----

جناب نجم الدین: سر! ووټنګ پکار دے جی-

جناب پیر محمد خان: سر! Rule 214, sub rule (2) جناب سپیکر صاحب، تاسو ته ښه پته ده، په ووټنګ باندے، If voting by voice is challenged -----

Mr. Speaker: No, it is very clear.

جناب محمد توفیق خان: ووټنګ نه دے پکار جی-

جناب پیر محمد خان: دا که متفقه پاس شو نو ټھیک ده- (شور) د 'Noes' آواز راغلے دے کنه -----

بیگم نسیم ولی خان: داسے چل به اوکړو (شور) تاسو لږ چپ شئ- ټول عمر طریقه دا وی چه تاسو تپوس کوئ چه څوک په Favour کښے دی، هغه

د 'Yes' اووائی او که څوک ئے Favour کښې نه دی، هغوی د 'No' اووائی۔ چه څوک په Favour کښې وو، هغوی 'Yes' اوکړو او هغه ډیر لوئے 'Yes' وو او هغه 'No' دومره غونډے 'No' وو۔ نو داسے چل به اوکړئ، دا اووایئ چه کوم ددے په مخالفت کښې دی، هغوی دا ودریږی۔

جناب سپیکر ، داسے به اوکړو جی ۔ Those who are against it, may please stand up in their seats.

(اس مرحلے پر دو معزز اراکین کھڑے ہوئے۔)

Mr. Speaker: The 'Ayes' have it. The resolution is passed.

(Applause)

Mr . Speaker: The sitting is adjourned and we re-assemble tomorrow at 10.00 a.m.

---

(اسمبلی کا اجلاس جمعہ 14 نومبر 1997 صبح دس بجے تک کیلئے ملتوی ہوگیا۔